د افغانستان اسلامي جمهوریت
دعلومو اکادمي
د بشري علومو معاونیت
د ژبو او ادبیاتو مرکز
د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتیوت
دادبیاتو او متنپوهنې څانګه

# شعري سېمبولونه

(د څېړندوی علمي رتبې لپاره)

Ketabton.com

څېړندوی عبدالغفور لېوال

کال ۱۳۹۰

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

## فهرست

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرلیک — مخګڼه


د لاربنود استاد نظر.......................................ا-د
سریزه.......................................ه-ح

لومړی څپرکی
د موضوع شالید.......................................۱

دویم څپرکی
سمبول پېژندنه.......................................۱۵-۱۴
په شاعرۍ کې د سمبول ایجاداو اهمیت.......................................۲۳-۱۲
نړیوالې بېلګې.......................................۳۳-۲۳.
د سمبول اروا پوهنیز ارزښت.......................................۳۸-۳۳

درېیم څپرکی
په پښتو شاعرۍ کې د سمبولونو ایجاد
د سمبولونو ډولونه.......................................۳۹-۴۰
حماسي سمبولونه.......................................۴۴-۴۰
عرفاني سمبولونه.......................................۴۹-۴۴
لیریک او ښکلاییز سمبولونه.......................................۵۲-۴۹

څلورم څپرکی
په معاصرې پښتو شاعرۍ کې د سمبولونو نوښتونه.......................................۸۳-۵۷
قراردادي سمبولونه.......................................۸۲-۸۳
فردي سمبولونه.......................................۹۰-۸۲
دنویو سمبولونو د ایجاد څرنګوالی.......................................۹۹-۹۰
پایله.......................................۱۰۱-۹۹
وړاندیزونه.......................................۱۰۲-۱۰۱
اخځونه.......................................۱۰۵-۱۰۳


د لاربنود استاد نظر

«مضمون» د شعر لکــه «پیکـــر» وي

«رنګین الفاظ» یې «رخت و زېور» وي

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورته ضـــــــرور دي دا «دواړه څيزه»
«پيکـــر» که هر څو دلـــــــربا تر وي

«کاظم خان شيدا»

د پښتو پياوړی شاعر کاظم خان شيدا په دې وړه څلوريزه کې د شعر د بشپړې ماڼۍ انځور ايستلی، د شعر د «منځپانګې» او «بڼې» تلازم، تناسب او توازن يې په کې را ښودلی او په شعر کې يې د «شعريت» اړتيا او وړتيا را په ګوته کړې ده.

عادي ژبه خبرې دي چې د هر څه لپاره يو ټاکلی نوم او لغت لري، انسانان خپلې اړتياوې پرې پوره کوي او د افهام او تفهيم وسيله وي، کله به چې د انسان اړتياوې پوره شوې او خبرو به يې ستونزې حل کړې، نو د يوازيتوب په وخت او يا د کار او ښکار پرمهال به يې د خپل ذوق د تسکين لپاره له ځان سره زمزمې کولې او له خولې نه به يې منظم او ازونه ايستل او په دې زمزمو کې به يې په ښکلو الفاظو د طبيعت او چاپېر ښکلا ستايله.

د شيدا په تعبير همدا «رنګين الفاظ» هغه «عالي ژبه» ده چې د شعر مضمون ته د ښکليو کاليو او ګڼې حيثيت لري او يو عادي مضمون د شعريت عالي مقام ته رسوي. له همدې امله ده چې يو منظوم کلام چې په رنګينو الفاظو نه وي اوډل شوی، هغه شعر نه بلل کېږي؛ د نظم او شعر وېش له پخوا نه را روان دی، نظم د يوه مضمون د ادا لپاره وي او ګټه يې داوي چې په حافظه کې ښه پاتې کېږي او دا مضمون تر ډېره په ذهن کې ژوندی ساتي، په ختيځ کې نظمونه د همدې هدف لپاره ويل شوي، چې په پښتو کې هم ګڼې منظومې لرو او ديني، اخلاقي، طبي او نور مضمونونه په کې ځای کړای شوي چې ښوونيزې او روزنيزې موخې لري، موږ داسې شاعران هم لرو چې ناظمان هم دي خو په نظمونو کې يې خپل هدف پاللی او په شعوري توګه يې په خپلو نظمونو کې له شاعرۍ نه ډډه کړې، په دې لړ کې خوشحال بابا په فضلنامه کې ،چې يوه ديني منظومه ده، په ډېر صراحت بيان کړی او د نظم او شعر ترمنځ يې روښانه کرښه را ايستلې ده:

دا سږ کال چې د «غفط» دی(۱۰۸۹هـ ق)
يو کتاب مې په نمط دی
چې يې نوی بنياد کښېږدم
يو يادګار په جهان پرېږدم
«ساده نظم»، «بې دقته»
«بې اشکاله»، «بې لغته»

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خفیف بحر ویلی
«تکلف» ځنې وتلی
چې «اسان» په «یادول» وي
مختصر کښلی په کښل وي
چې هر څوک ورته وګوري
نیک عمل وته وښوري

په دې ترتیب کړوسي د شعر څېره روښانه کړې او «رنګین الفاظ» یې د هغه «رخت او زېور» بللي خو نیکه بیا د نظم نقشه را کښلې او «ساده»، « بې دقته»، «بې اشکاله»، بې لغته»، «بې رنګینو الفاظو»، « بې تکلفه»، «اسان» او «مختصر» یې بللی دی.

همدا رنګین الفاظ وو چې عادي کلام یې عالي مقام ته ورساوه او د خبرو په کور کې یې خوږې سندرې او شعرونه رامنځ ته کړل، بېلا بېلو شاعرانو په رنګینو الفاظو راز–راز ویې لوبې وکړې او دا رنګین الفاظ یې په بېلا بېلو پېرایو او ارایو کې وړاندې کړل.

د دوی په اشعارو کې لفظونو خپل شکل او ثقل له لاسه ورکړ، د غمي په شان وتوږل شول، صفا شول، روڼه شول او بیا د سرو زرو په ریزه کارۍ کې سره واوډل شول او مسرۍ او بیت ترې جوړ شول.

یا دا چې شاعر لفظونه په رنګونو بدل کړل، د هنر په برس یې مسرۍ او بیتونه ترې جوړ کړل او د یوې هنري تابلو بڼه یې غوره کړه.

په بل تعبیر شاعر د الفاظو له ګلونو نه د هنر په انبیق عطر وایستل او د ګل بوی یې په داسې معنوي ډول په کې وساته چې د تصویر پر ځای تصور ته لېږدي.

همدا راز ویلای شو چې شاعر الفاظو ته په دې ډول رنګیني ور کړه ،لکه مچۍ چې ګلونه په شاتو واړوي.

یا شاعر د الفاظو روانې اوبه د خپل هنر په حرارت تبخیر کړې او رڼه پرخه شوه چې بره والو ته او اسمان ته یې د شعر زینې ترې جوړې کړې.

ادب څېړونکو د شاعرانو دا تعبیرونه او تصویرونه سره بېل کړل او دا په بېل – بېل ډول رنګین شوي الفاظو یې په رنګونو او ډولونو ووېشل او د بدیع، بیان، معاني او نورو په نامه یې فنون، اصول او ادبي قوانین ترې استخراج کړل او د شعر پردې ښکلاوو یې ادبي څېړنو ته لاره هواره کړه.

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې ادبي څېړنو کې د «رنګین» شوي « الفاظ» په استعارو کنایو، تلمیحاتو، تجنیسونو او نورو ډولونو کې مشخص شول او ورو – ورو نوي کشفیات او نوي انواع په کې ترلاسه شول.
ددې رنګینو الفاظو په لړ کې یو هم «سېمبول» دی چې په پښتو ادب کې شاعرانو له هماغه لومړۍ سره په خپلو شعرونو کې راوړی خو په ادبي څېړنو کې د بر لږ پام ور اوښتی او پښتانه څېړونکي هغه وخت ورته ځېر شوي چې په اروپا کې ادب څېړونکو کار پرې کړی او د سېمبول څېره یې روښانه کړې ده.
دا اثر چې ځوان شاعر او لیکوال ښاغلي عبدالغفور لېوال ( چې هم د شعر ویلو تجربه لري او هم د شعر څېړلو ) لیکلی د سېمبول په باب ګڼو باریکیو او نازکیو ته متوجه شوی او د نظري او تطبیقي مطالعې په رڼا کې یې په پښتو شاعرۍ کې د سېمبول څېره روښانه کړې او په سېمبول یې بشپړ کتاب لیکلی دی.
لېوال صاحب د خپلې څېړنې په پېل کې د شعري سېمبولونو او سېمبولیزم مخینه څېړلې او شالید ته یې کتلي دي، څرنګه چې د سېمبول په څېړنه کې اروپایي ادبپوهانو ډېر کار کړی له دې امله ده د ګڼو ادبپوهانو نظریې را اخېستې او سېمبول یې په ماره ډول په کې څېړلی دی. بیا له اروپا نه ختیځ ته راغلی، د ترکي او ایراني پوهانو له نظره یې سېمبول ته کتلي او ورپسې د افغاني او پښتو ادبپوهانو څېړنو ته را رسېږي او په پښتو کې د سېمبولونو نمونې راوړي او هم په دې لړ کې د غربي شاعرانو هغه شعرونه چې سېمبولونه په کې راغلي را ژباړلي دي.
د څېړنې په دوام یې په افغانستان کې د شعري سېمبولونو په اړه د لیکنو مخینه را سپړلې او په دې لړ کې یې د پښتنو ادبپوهانو نظریې راوړي او په دې ترتیب یې د سېمبول څېره روښانه کړې او خپل لوستونکي ته ور پېژندلې ده.
په دوهم څپرکي کې یې د سېمبول پر پېژندنه خپله څېړنه کړې او د خوشحال بابا د دستارنامې له دې بیت نه یې را ښېلولې:
چـــې د ستار تړي هزار دي
د دستار سړي په شمار دي
او همدلته یې د دستار عادي لفظ چې د دستار او پګړۍ جامه ده او د دستار « رنګین الفاظ» چې د مشرۍ، مخکښۍ او ... سېمبول دی څېړلي او سره بېل کړي او لوستونکي ته

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې په عيني او عملي ډول ښودلي او بيا يې ګڼې نړيوالې او پښتنې نمونې ور کړې او په ادب کې يې د سېمبولونو اړتيا جوته کړې ده.

د کتاب دريم څپرکی په پښتو شاعرۍ کې د سېمبولونو پر ايجاد بحث کوي او له نيکه مرغه په دې برخه کې د پښتو په لومړني لاس ته راغلي پاړکي يعنې د امير کروړ د وياړنې په لومړۍ مسرۍ کې يو ژوندی سېمبول پيدا کوي:

«زه يم زمری په دې نړۍ له ما اتل نشته»

او همداسې مخ ته راځي او د سېمبول په باريکه او رنګينه لار د څېړنې مزل کوي، د سېمبولونو ډولونه شمېري، حماسي سېمبولونه، عرفاني سېمبولونه، ليريک او ښکلاييز سېمبولونه او نور را پېژني.

د کتاب څلورم څپرکی «د پښتو په معاصره شاعرۍ کې د سېمبولونو نوښتونه» څېړي او په دې لړ کې يو شمېر هغه نمونې راوړي چې له پياوړيو او غښتليو سېمبولونو څخه ډکې دي او شاعرانو يې په ارادي ډول په خپلو ويناوو کې راوړي دي.

د څېړنې په پای کې د خپل بحث نچوړ د نتيجې په توګه وړاندې کوي او بيا لازم وړانديزونه لري.

په پای کې بايد ووايم ، چې ښاغلي عبدالغفور لېوال خپل دغه اثر د څېړنې له مروجو او منل شويو معيارونو سره سم بشپړ کړی دی، ما ورسره وخت په وخت مشورې پرې کړې ، بدلون مو پکې کړی او زياتونې. زه د نوموړي د لاربښود استاد په توګه خپلې خبرې داسې رالنډوم :

زما له نظره دا څېړنه د څېړندوی علمي پوړۍ ته د ختو لپاره وړ، کافي او درنه څېړنه ده او ان د څېړنوالۍ رتبې ته د لوړېدو وړتيا هم لري نو زما وړانديز دادی چې په دې څېړنه دې، سره له دې چې لېوال صاحب ته د څېړندويۍ ترفيع ورکړه شي، بلکې ژر تر ژره دې دا ګټور اثر چاپ هم شي څو ځوانان خصوصاً د ادبياتو د پوهنځيو محصلين او نور مينه وال ګټه ترې واخلي.

په درناوی
څېړندوی حبيب الله رفيع
د افغانستان د علومو اکاډمۍ سلاکار
۱۳/۱/۱۳۹۰

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

کلونه پخوا مې د اروانباد استاد روهي په ( ادبي څېړنې ) کتاب کې د ادبي مکتبونو ببلابېل پاړکي لوستل ، چې په هغو کې (دسېمبولیزم ادبي مکتب او سمبولیستان ) لیکنې ، په نړیواله سطح د سېمبول ادبي ارزښت ته متوجه کړم. تر دې وروسته مې دځینو نړیوالو شهکارونو د لوستلو پر مهال ، ډیر ځله ددغو اثارو سېمبولیک اړخ ته پام وراوښت او ورو ورویې دې ته هڅولم، چې په دې اړه څه ولیکم. په تېره بیا ،چې په پښتو ادبي اثارو کې دګڼو په زړه پورې سېمبولونو له شتون سره سره په دې اړه دبشپړو شننو او څېړنو کمښت او د سېمبول کارونې له تیورۍ سره سم یې پر پښتو آثارو تطبیقي څېړنې لږې یا هم په نشت شمار راته ښکاره شوې.

تېر کال ( ۱۳۸۹المریز) چې د علومو اکاډمۍ دعلمي غړیتوب لپاره ، یې دسر لیک غوره کولو راته وویل، نو ما د ( شعري سېمبولونه ) دسرلیک وړاندیځ وکړ ،چې له نیکه مرغه داستادانو له مهربانۍ او هرکلي سره مخامخ شو ، تر دې هوکړې وروسته مې داستادانو په لارښوونه د رسالې دسرلیکونو فهرست تنظیم کړ او درسالې پر لیکلو کار پیل شو. له نیکه مرغه داکاډمۍ استادانو پرما ،ددې رسالې دعلمي چارو دبشپړاوي لپاره زموږ دقدرمن استاد څېړندوی حبیب الله رفیع لارښوونه ولوروله ، چې دهغوی مرسته ان لا له پیله زما دښه پرمختګ زیرې شو. درسالې دلیکلو په بهیر کې مې استاد ته مراجعه کوله او دهغوی له لارښوونو مې فیض اخیسته.

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکار په پیل کې مې دهغو اثارو پر بېلولو او پلټلو پیل وکړ ، چې د سېمبول پېژندنې او شعري سېمبولونو په اړه یې معلومات راکولای شول. زما ډېره پاملرنه په کلاسیکو او معاصرو پښتو شعرونو کې د سېمبول او سېمبولونو پلټلو ته وه ، ځکه د دغې ادبي نومونې د پیژندلو تر څنګ دهغې دتیورۍ تطبیقي هڅې، زما په نظر، لږ تر لږه دوه ګټې درلودې:

لومړۍ دا چې د بېلګه یې شننې په مرسته یې پېژندل اسانه کېدل او هر ځېل یې له بېلابېلو بېلګو سره خپلې ځانګړتیاوې راپېژندلی شوې او دوهمه ګټه یې داوه ،چې دا تصور مو هم ترلاسه کولای شو ، چې په پښتو ادبیاتو کې دسېمبول کارونې لوړې ژورې اونن و پرون څنګه او څومره دی. پر دې بنسټ اړتیا وه چې سېمبول وپېژنو ، په اروا پوهنه ، تاریخ او ټولنیزو چارو کې یې ونډه وارزوو، په ادبیاتو کې یې ارزښت وپلټو ، په شعر کې یې بنسټوال ځای وموමو او په پښتو کلاسیک او اوسمهالي شعر کې یې بېلګې او څرنګوالی په ګوته کړو.

په همدې پار مو درسالې د بشپړولو لاندینۍ سرچینې رابرابرې کړې:

د سېمبول او سېمبولیزم په اړه تیوریک معلومات، دنړیوالو شهکارونو یو شمېر بېلګې ، په اروا پوهنه ، تاریخ او پخوانیو ګروهو کې د سېمبولونو په اړه یو شمېر لیکنې ، هغه کلاسیک او معاصر پښتو شعري متون چې د سېمبولونو په زړه پورې بېلګې په کې موندل کېدای شوې او په ځانګړې توګه په شعر کې د سېمبول دمناسب ځای، اړتیااو ارزښت په اړه لیکل شوې کورنې او بهرنې علمي تیسېسونه.

ددې رسالې په لومړۍ څپرکې کې دسېمبول د پېژندنې تر څنګ دشعري سېمبولونو او سېمبولیزم شالید څېړل شوی او دې ته کتنه شوې ده چې د سېمبولیزم ادبي مکتب څنګه له لویدیځه ختیځ ته راغی او دلته یې په ادبیاتو کې یو نوی خوځښت راپیل کړ ، که څه هم په ختیځو ادبیاتو په تېره بیا شعر کې دسېمبولونو کارونې تر دې پخوانۍ، بلکې یوه لرغونې مخینه درلوده،خو دیوه تعریف شوي او اصولو خاوند مکتب په توګه یې نوی حضور دنویو ټولنیزو ـ فکري شرایطو زېږنده وه، چې په نولسمه پیړۍ کې دیوې اعلامیې په خپرولو سره رامنځته شو.

په دوهم څپرکي کې مو هڅه کړې چې په شعر کې د سېمبول پېژندنه وڅېړو ، مانا داچې دسېمبول له کلي او عام تصور څخه یوې ځانګړې او مشخصې پیژندنې ته راغلي یو، چې په شعر کې ددغه ادبي ـ هنري مفهوم بشپړه ونډه څېړل کېږي او له نورو شعري لوازمو سره

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دسېمبولونو اړيکي، په نړيوالو شهکارونو او بېلگو کې يې ځای او اروايي زيږنځای معرفي شوي دي.

په دريېم څپرکي کې هڅه شوې ده په پښتو شاعرۍ کې دسېمبول کارونې مخينه ، ډولونه او په کلاسيکه شاعرۍ کې يې ونډه وپېژندل شي او بالاخره په څلورم څپرکي کې د معاصرې پښتو شاعرۍ په يو شمېر بېلگو کې دسېمبولونو نوې کارونه ، ځای او تکنيکونه معرفي شوي دي. موږ هڅه کړې ده د يوه سېمبول د رامنځته کيدو ، دودکيدو او د نورو لپاره يې دتفهيم رواني او هنري گام پرگام پرمختگ هم۔له بېلگو سره مل۔ وڅېړو. ددې تر څنگه مو پر دې هم رڼا اچولې ده ، چې په معاصرو پښتو ادبياتو کې غوره سېمبوليک اشعار او سېمبوليست شاعران کوم دي، چې له نيکه مرغه زموږ يو شمير ادبي اثار د سيمې او ان نړۍ په سطح ممتاز سېمبوليک اثاردي ، چې دلته يې لږترلږه د اروابناد سيدبهاالدين مجروح ځانځاني بشامار په جرئت سره يادولای شم.

په ځانگړې توگه مو له داسې يوې څېړنې څخه موخه ، دهغو ادبي مفاهيمو لاډيره پېژندنه وه ، چې نن سبا هم په ادب تيوري او هم ادبي کره کتنه کې مهم ځای لري. سېمبولونه له شعري انځورونو ، اسطورو ، استعارو او تشبيهاتو سره اړيکي لري ، شعري سېمبولونه د شعري ژبې پر څرنگوالي اغيز لري او ان د ژبې ځانگړې کارونه ټاکي ، سيمبول په شعر کې ځانگړي ذهني بستر او زمينې ته اړتيا لري ،ځکه خو موږ فکر کوو ، چې په دې اړه بحث نه يوازې د شعر دتيورۍ يوه مهمه برخه ده ،بلکې څېړل يې د پورته يادوشويو جوليزو او مانيزو توکيو په پېژندلو او داړيکوپه روښانولو کې هم مرسته کولای شي.

زه غواړم همدلته يې روښانه کړم ، چې دا څيړنه به خپلې نيمگړتياوې خامخا لري ، څومره سرچينو ته چې زما لاس رسېده او څومره چې په شاعرۍ کې زما خپلو تجربو راسره مرسته کوله دا کرښې مې سره وکښلې ، زه په ډير درنښت او تواضع له قدرمنو پوهانو ، ځوانو څېړونکيو ، ادبپوهانو او شاعرانوڅخه هيله کوم ، چې زما دغه هڅه بشپړه کړي او تيروتنې مې راسمې کړي.

دافغانستان د علومو اکاډمۍ له ټولو مشرانو ،غړيو ، دژبواو ادبياتو دمرکز او اړونده څانگو له پوهو او پرما مشفقو استادانو څخه ډيره مننه ،چې ددې علمي پروژې په گام۔گام کې يې زما لاس نيولی دی.

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

له خپل لارښود استاد دروند رفیع صاحب څخه ځانګړې مننه ، چې نه یوازې په دې اثر کې ، بلکې زما له تاند زلمیتوبه یې په ادب او ادبي هلو ځلو کې د یوه مهربانه استاد په څېر خپله هیڅ راز مرسته او لارښوونه نده سپمولې.

له خپلو دوستانو، همکارانو ، فرهنګي ملګریو او د خپلې کورنۍ له غړیو هم مننه کوم ، چې د دې رسالې د لیکلو پر مهال یې له خپلو مهربانیو او مرستو څخه نه یم هېر کړی.

یو ځل بیا په دې هیله چې د غه رساله د ادبیاتو مینه والو ته د بحث وړ یوه موضوع وروپېژندلی شي ، تاسو درسالې د پیل کرښو ته ورسپارم.

ښه مو غواړم

عبدالغفور لېوال

۱۳۹۰ ، وری، ۲۴

کابل

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړۍ څپرکی
# د شعري سېمبولونو او سېمبولیزم شالید

لرغونیو انسانانو د هر شي، پدیدې او مفهوم لپاره قراردادي غږیز سېمبولونه وټاکل د غږونو یوې سېمبولیکې مجموعې د یو څه مفهوم رساوه او بیا چې د غږونو دا مجموعې سره منظمې شوې ژبه یې رامنځ ته کړه، وروسته یو څه پرمختللیو انسانانو ددغو غږونو لپاره لیکني ( انځوریز ) سېمبولونه ( اشکال ) وټاکل او چې سره یو ځای یې کړل نو لیک تري جوړ شو، بیا ټولنیز شویو انسانانو هنري او مذهبي سېمبولونه او نښې رامنځ ته کړې چې د دوی د فرهنګ او تهذیب نښه شول، په دې توګه وینو چې سېمبولونه له ډېر پخوا څخه له انسانانو سره مل دي او انسانان د هغو له رامنځته کولو، پرې پوهېدلو او ورڅخه د ګټې اخیستنې له منطق سره اشنا دي.

آنیه‌لا یا فه‌د خپلې لیکنې ( په لیدنیو هنرونو کې سېمبولیزم ) په پېل کې لیکي:

« د سېمبولیزم تاریخ ښیي، چې هر څه سېمبولیک ارزښت موندلای شي...

انسان د هغه تمایل له مخې چې سېمبول جوړونې ته یې لري، اشیا او شکلونه په سېمبولونو بدلوي ( او هغوی ته زښت ډېر اروا پوهنیز ارزښت وربښي ) انسان سېمبولونه هم په مذهب او هم په لیدنیو هنرونو کې کاروي». ( انسان و سمبولهایش ۳۲۴ )

په دې توګه سېمبول او سېمبول جوړونې یوازې په لیدني ( بصري ) هنروونو کې نه بلکې وروسته په شعر او ادبي اثارو کې هم خپل د پام وړ ځای وموندە.

د یوه انتزاعی قرارداد په توګه سېمبول تر وګړنیز ( فردي ) ارزښته د ېریو ټولیز ( جمعي ) ارزښت دی نو د همدې لپاره له نورو ټولیزو پوهنو سره اړیکې لري.

پخوانیو یونانیانو به د ختو یا ګچو یوه لیکلې لوحه ټوټې ټوټې کړه او پخپلو منځونو کې به یې وویشله چې بیا وروسته یو بل سره د همدغو ټوټو د ېېرته سره یو ځای کولو له لارې وپېژندلای شي او یا هم د خپل ګډون د نښې په توګه به یې له ځانه سره ساتله یونانیانو همدغې لوحې ته سوم بولون (Sumbolon) ویل. او د سېمبول (Symbol ) او سمهالې نوم هم له همدغې یوناني ریښې څخه اخېستل شوی دی. په دې توګه وینو چې دغه اصطلاح لا له جوړښت او پیدایښت څخه ټولیز ارزښت لري، په یوه بل روایت کې داسې هم شته چې پخوانیو یونانیانو به خپلو مېلمنو ته د سوم بولون د لوحو ټوټې ور ویشلې او په دې توګه

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

له هغو سره د مېلمه پالنې او مينې نښې شريکولې، له ځانګړتيا څخه عموميت ته د ورتلو همدغه نښه د سېمبول په تاريخي پېژندنه کې مرسته کوي. خو د مهال په تېريدو سره د سېمبول له کلېمې څخه د مانا اخيستل پيچلي شول او بېلا بېلې پېژندنې يې رامنځته شوې. په ادبياتو کې د سېمبول ځانګړې اهميت هغه وخت ډېر د پام وړ شو چې په نولسمه ميلادي پېړۍ کې د سېمبوليزم ادبي مکتب رامنځته شو.

دغه مکتب د نولسمې پېړۍ د پای په لسيزو کې د درېيو سترو شاعرانو هر يو ه شارل بودلر (Charles Baudelaire)( ۱۸۲۱ـ ۱۸۶۷ )، آرتور رمبو (Arthur Rimbaud) (۱۸۵۴ـ۱۸۹۱ ) او ستفان مالارمه (Stephan Mallarme) (۱۸۴۲ـ ۱۸۹۸ ) له خوا مطرح شو، دغو درېيو واړو شاعرانو د اروپا په معاصره شاعرۍ کې يو د پام وړ بدلون راوست. همدوی د ( نوي شعر ) د پېلوونکو په توګه هم ګڼل کېږي، که څه هم تر دوی وړاندې نامتو امريکايي شاعر ادګار الن پو (Edgar Allan Poe) (۱۸۰۹ـ ۱۸۴۹ ) په شعر کې د نويو سېمبولونو کارونه لوړې څوکې ( اوج ) ته ورسوله، تردې بريده چې د اروپايي سېمبوليزم پلار شارل بودلر د هغه (پو ) له اثارو سره د بې کچې مينې له امله د هغه يو شمېر شعرونه او کيسې فرانسوي ته وژباړلې.

د سېمبوليزم مخکښان په پېل کې په ابهام تورن وو ، ځينو ويل: هغوی هغه څه چې غواړي ويې وايي نه يې شي ويلی او هغه څه چې نه يې غواړي ويې وايي داسې يې وايي چې نور پرې نه پوهېږي. خو د دوی د اثارو په اړه قضاوتونه ژر بدل شول ډېر ژر هغوی مينه وال وموندل او ډېرو هڅه وکړه چې د هغوی شعرونه تفسير او تعبير کړي.

د مالارمه په اړه لولو :

« په پېل کې يې تمسخر او غوسه راوپاروله، شعر يې بې مانا وګڼل شو خو ژر د هنر پوهانو لکه ژيد ، کلوول، والري، ګوګن او د بوسي دده شعرونه خوښ کړل او نور يې هم وهڅول چې ځانونه يې په قدر وپوهوي. وايي د مالارمه پر لاره څوک نه ولاړل خو مينه وال يې ډېر وو ، داسې هم شو ، چې ګوستاوکان، ويله ګريفن، سن پل رو ، هانري دورنيه، ورنه ګېل او وروسته نامتو آندره ژيد ، پل والري او پيي يرلويي د هغه شاګردان شول.»

(مکتب های ادبي ۵۲۱ )

په دې توګه وينو چې سېمبوليزم او سېمبوليستانو ورو – ورو د لويديځ پر ادبياتو خپل اغېز زيات کړ، ژر ددغه مکتب لاروي له فرانسې څخه انګلستان، روسيې او جرمني ته ورسېدل، په انګلستان کې جرج مور سېمبوليک آثار وژباړل او وروسته ځوانو شاعرانو

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ریچارد لوګایی ین، ویلیام باتلریتیز، آرنست داونسن او لیونل جانسن په لندن کې سره را غونډېدل او د سېمبولېستانو هغسې مجالس یې جوړول لکه په فرانسه کې به چې د مالارمه په کور کې جوړېدل.
په روسیه کې والربریوسف د سېمبولیزم د نهضت مشري کوله تردې بریده چې دیمیتري مرژکوفسکي (D. Merejkovski) په ۱۸۹۲کې (د سېمبولونه) په نامه یو کتاب هم خپور کړ. په جرمني او اوتریش کې هوفمانشتال (Hofmennsthal) (۱۸۷۴ـ ۱۹۲۹) ځان د بودلر او ورلن د لارې لاروی اعلان کړ او په هغه وخت کې یې جرمني ادبیات دنچرلیزم او رومانتیزم په وړاندې ودرول، ویل کېږي چې د هغه دغه هڅه وروسته راینرماریاریلکه (Rainer Maria Rilke) بشپړه کړه.
ختیځ ته هم د شلمې پېړۍ په پېل کې د سېمبولیزم اغېزې راورسیدې ترکي احمد هاشم (۱۸۸۵ـ۱۹۳۳) په ترکي ادبیاتو کې لویدیځ سېمبولیزم دود کړ، دغه شاعر ته د سره رنګ او لمر لویدو (غروب) شاعر هم ویل شوي دي.
استاد محمد صدیق روهي په خپل کتاب (ادبي څېړنې) کې لیکي:
«د سېمبولونو (رمزونو) استعمال د پښتو ژبې د خیال پالونکي او نکته سنج شاعر (کاظم شیدا) په لاندې بیتونو کې ګورو:

د افتاب په کمند نه خیژم اسمان ته
نه ږدم بار لکه شبنم پر دوش د ګلو
همېشه یې پېچ و تاب لکه جوهر دی
چې شیدا راغی تر دا حیرت آباده

په لومړي بیت کې د شاعر مقصد دادی، چې زه نه غواړم په واسطه اودبل په مرسته لوړ مقام ته ځان ورسوم او یا د نورو د اوږو پیټی شم، شیدا دغه مطلب په څومره ښکلیو او زړه وړونکو الفاظو افاده کړی دی.
دلته (د افتاب کمند) د (واسطې) د لفظ سېمبول دی. په دوهم بیت کې (حیرت آباد) د دنیا سېمبول دی... په پښتو ادبیاتو کې (چنار) ددنګې ونې او د (ګلو ځانګه) د نجلۍ سېمبول دی:

ګوره چې وار دې خطا نه شي
د ګلو ځانګه دې په سر ولاړه یمه (ادبي څېړنې ۴۲۳)

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د استاد روهي له دې څرګندونو ښکاري چې په پښتو کلاسيکه مدونه او شفاهي شاعرۍ کې د سېمبولونو آګاهانه کارونه دود وه او پښتنو شاعرانو سېمبولونه ايجادول، مګر که په معاصره مانا د سېمبوليزم د لويديځ مکتب نښې د پښتو په او سمهالې شاعرۍ کې څېړو ( او که زه په دې اړه د قضاوت حق ولرم) نو زما په نظر يې راپېلوونکی ارواښاد پوهاند بهاالدين مجروح دی، د نومورې ځانځاني ښامار، د وطن مور او نااشنا سندرې د سېمبوليزم په تول پوره آثار دي.

سېمبوليزم د يوه منظم هنري – ادبي او آن فکري خوځښت بنه درلوده. لاروي يې معلوم وو، او له يو شمېر ټاکليو آرونو ( اصولو ) څخه يې پيروي کوله. د سېمبوليزم اعلاميه په ۱۸۸۶ کال کې خپره شوه او دا يې وښوده چې دوی د ځانګړو فکري منظومو د رامنځته کولو هوډ لري.

« د فکر له پلوه، سېمبوليزم د هغې ايدياليستي فلسفې تر اغيز لاندې و، چې له ميتافيزيک څخه يې ابهام اخيسته او په ۱۸۸۰کلونو کې خپل اوج ته رسيدلې وه، د شوپنهاور عجيبې بدبينۍ پر سېمبولستو شاعرانو اغېز وکړ.» ( مکتب های ادبي **۵۴۳** )

سېمبوليستان له عجيبې بدبينۍ سره لاس او ګريوان وو، دا ځل د خوشبينۍ ( پوزيتوويزم) او ريښتيا پالنې ( رياليزم) له وتلو سره بدبينۍ او تخييلي ډار، وهم او پر ځان نا باوري له سېمبوليزم سره ادبياتو ته ننوتله، هغه مهال چې په اروپا کې د منځنيو پېړيو اعتقادي اتکا رنګه شوې وه، اقتصادي ځواک د ګوتشمېر وګړيو يا کورنيو په لاس کې و، او نوې پوهنيزې، فرهنګي او اقتصادي ودې ټولو اروپا مېشتو وګړيو ته هوساينه نه شوه ورکولای، جګړو او سياسي سياليو هر څه زمولي وو، له اخلاقي پلوه ښکېلاکګرو حکومتونو، د هيومانيستو غورځنګونو قناعت نه شو برابرولای، په همداسې پېر کې ټوليز ارواييي جوړښت له بدبينۍ، ناهيلۍ، ماتې، د اخلاقي کمزورتيا او په ټوليزه توګه د (ګناه ) له احساس سره مخامخ و. يو شمېر کره کتونکي فکر کوي چې داسې مانيز بحران سېمبوليزم راوزېږاوه.

امريکايي ادګارالن پو، بودلر، ورلن او رمبو تقريباً ټول له عجيبو رواني وسوسو څخه ځوريدل، په ماشومتوب کې يتيم شوی ( پو ) په ځوانۍ کې مړ شو، هېڅ ځوک ونه پوهيدل چې ولې، د بودلر ژوند هم ډېر ( پو ) ته ورته و؛ محروم، بې وزلی او يتيم له يوه ښار نه بل ته سرګردانه، د خپل پلندر ( اپيک ) په وړاندې له عقدو ډک. رمبو او ورلن هم تر دوی په ښه

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

حالت کې نه وو ، رمبو چې خپلو لیکل شویو شعرونو ته یې اور اچولی و ، جامې یې بدلې کړې، اوږده ږیره یې پرېښوده او د وسلو سوداګري یې پیل کړه.
ولرن هومره ډېر شراب څښل چې یوه ورځ یې په بروکسل کې پخپله مینه وال او پلوی شاعر ( رمبو ) باندې د توپانچې ډزې وکړې او هغه یې ټپي کړ.
( ادبي څېړنې ۴۳۴ )
کره کتونکي فکر کوي، هغه سیاسي، ټولنیز او اقتصادي بدلونونه، اختناق او بحران چې په فرانسې کې یې انقلاب راوپاراوه، ددغو شاعرانو په ارواوو کې هم توپانونه را پورته کړي وو.
د شعري سېمبولونو څېړنه یوازې د یوه شعري عنصر په توګه نه، بلکې د یوه فکري خوځښت، ټولنیز بدلون، فرهنګي پېښې او آن کالب ماتوونکي بدلون (انقلاب ) په توګه تر بحث لاندې راتلای شي. ځکه سېمبولیستانو نه یوازې په شاعرۍ کې منځپانګیز ( محتوایي ) بدلون راوست بلکې جولیز(شکلي ) کالبونه او د شاعرۍ هندسي جوړښت یې هم بدل کړ.
په فرانسه کې آزاد شعر (Vers Libre) د سېمبولیزم د مکتب همزولی ګڼل کېږي. د فرانسوي آزاد شعر ځانګړنه داوه چې د وزن لرونکو خو نابرابرو کلامي برخو یوه مجموعه به داسې لیکل کېده چې د کالب تر و حدته ډېر د فکر او انځورونو وحدت او جوړښت ته په کې پام کېده. په دې شعر کې کلېماتو پخپله سېمبولیکه مانا ښندله، مانا دا چې وییونه ( کلېمات ) یوازې د مفاهیمو د رسولو د وسایلو په توګه نه، بلکې په خپله د شاعرانه ارزښت له مخې ټاکل کېدل او دا په شعر کې د شاعرانه ژبې نوې ځانګړنه وه. سېمبولیستانو د خپلو شعرونو کلېمات په ډېر پام او زړه چاودون ټاکل.
« د سېمبولیستانو له اثارو او لیکنو څخه ښکاري، چې ازاد شعر ددې لامل شو ، چې په شعر کې ( ویی ) یا کلمه خپل ریښتونی ارزښت نظر خپل صوري ( غږیز او آهنګین ) ارزښت ته ډېر د پام وړ وګرځوي او بیا یې مومي ... سېمبولیزم هغه څه چې بودلر « د کلېماتو موسیقي» ګڼله، په شعر کې دود کړ دغو کلېماتو د ځانګړې موسیقۍ تر څنګ د بیان ډېر ځواک درلوده.»
(مکتب های ادبي ۵۴۷ )
له سېمبولیکو مفاهیمو سره یو ځای نوی ازاد شعر هم له اروپا څخه ختیځو ژبو ته را ورسید او د بېلا بېلو ژبو په ادبیاتو کې یې ژور مانیز او شکلي بدلونونه رامنځته کړل.

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شلمې پېړۍ د لومړۍ نيمايي په پای او د دوهمې نيمايي له پېله پښتو او دري ادبياتو ته ازاد شعر د سېمبوليزم له ننښو نښانو سره يو ځای راورسيدل، چې وروسته يې بيا ورو ورو پياوړي سېمبولست شاعران وروزل. البته تو پېر يې داو ، چې وروسته وروسته سېمبوليزم له يوازې بدبينۍ او نهيلۍ څخه خپله لاره بېله کړه او د ژوند بېلا بېل رنګونه او خيالات يې راونغاړل. دادې هېره نه وي چې سياسي – ټولنيزو ، فرهنګي او اقتصادي بدلونونو سېمبوليزم ته نوی رنګ ورکړ او دلته يې له بډای، لرغوني او په زړه پورې ختيځ فرهنګ څخه ډېر څه ور خپل کړل، عرفان تغزلي غنا او معنويت د سېمبوليک بيان په مرسته په ختيزه شاعرۍ کې داسې نوښتونه رامنځ ته کړل چې هم يې له جوليز ( شکلي) او هم له منځپانګيز پلوه د شعر هنري ځېل بډای او له نوښتونو ډک کړ.

دلته به د يادو شويو نامتو سېمبوليستانو د شعرونو د يو څو بېلګو ازاده ژباړه ( چې له پاړسي څخه راژباړل شوي) وړاندې کړو :

له بودلر څخه:

پيوندونه

طبيعت هغه مزدک دی، چې له ژونديو ستنو نه يې
کله کله ګونګې ويناوې را بهېږي
انسان په هغه مزدک کې د ښنو له ځنګله څخه تېرېږي
چې هغه ته په اشنا نظرونو ګوري
لکه له لرې نه راغلې څو اوږدې انګازې
په يو پېچلي او ژور يوون کې
د شپې او رڼايي په پراختيا کې سره تاوېږي
وږمې، رنګونه او ځوږونه يو بل تکراروي
لکه د کوچنيو ماشومانو د بدن وږمې
د (اوبوا ) په څېر نازک او لکه چمن تک شنه
او نورې داسې وږمې
چې پاروونکې او تېر ايستونکې دي
غوسه ناکې او تيزې
ددې ټولو ناپايه څېزونو په پراختيا کې
لکه عنبر، لکه مشک

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه د شاتو او کندرو ګړون
چې د اروا او احساساتو د جذبې نغمه را پورته کړي
او وترنګېږي
( د بودله « د شرګلان» اثر څخه د مکتب های ادبی ۵۷۷مخ )

له آرتورر مبو څخه
ولړه
که مې په خوله کې کوم خوند وي
نو يوازې د خاورو او تېږو لپاره ده
زه پرلپسې هوا خورم
او تېږي، سکاره او وسپنې
اې ! زما لوږې را وڅرخه
وڅرېږئ اې زما لوږو
د پوپنکونو په چمن کې
او د نيلوفرو زهر پر ښادۍ وروئ
هغه ډبرې وخورئ چې ماتيږي
د کليساګانو زړې ډبرې
د زړو توپانونو شګې
او هغه ډوډۍ
چې په ګردله پټو درو کې پرتې دي
ليوه تر پاڼو لاندې کولې ايستلې
د يوې چرګې له بدنه يې مړۍ وهلې
او دهغې ښکلې ښکې يې توکولې
زه هم د هغه په څېر اوراخلم
کاهو او ميوې
د راټولولو په تمه دي
خو د ګوټېپېر غنه
يوازې بنفشه خوري

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاشکې بېده شم
کاشکې وځو ښېږم
د سلیمان په بلهارځای کې
د زنګار د مخ ښوروا روانه
او له «کدرون»* سره ګډ بړې اوځي

(مکتبهای ادبی ۵۹۱)

له ترکي شاعر احمد هاشم څخه:
پوړۍ
په ستړیا به پردې پوړیو وخیژې
په لمن کې به دې پاڼې وې د لمر په رنګ کې
او یو ځل به اسمان ته په ژړا وګورې:
اوبه زرینې شوې
او ستا څېره
بې رنګه کېږي
له یوې پردې تر بلې پورې
سره افق ته وګوره
بیا لمر پریوځي
ګلونه ټول سرکوزي شول، له سترګو نه یې وینې اوري
او خونړي بلبلان، لکه لمبې پر څانګو غلي ناست دي
مګر اورونه پر اوبو بل شوي؟
ولې مرمر لکه مس داسې ښکاري
اروا له پټې ژبې رنګ اخلي
سره افق ته وګوره
بیا لمر پریوځي

---

* کدرون دا ورشلیم په ختیځ کې یو پخوانی سیند دی چې بحرالمیت ته ورتوییږي.

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

( مکتب های ادبي ۲۰۹ )

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوهم څپرکی

# سمبول پېژندنه

چې دستار تړي هزار دي
د دستار سړي په شمار دي
خوشال خان خټک

د خوشال خان خټک دا بیت د سېمبول پېژندنې لپاره تر ټولو څرګنده بېلګه ده.
دلته د لومړۍ مسرې دستار هغه جامه ده، چې له سره راتاوېږي او پښتانه یې پګړۍ،
پټکی او لونګۍ هم بولي، عیني او فزیکي وجود لري او په دې بیت کې یې لومړۍ شعري
ځای یوازې د خپلې حقیقي مانا پر بنسټ په خپل شیئي مفهوم د دلالت له مخې ټاکل شوی
دی.
خو د دوهمې نیمبیتۍ دستار بیا په بل مفهوم دی، دا «دستار» یو سمبول دی او مراد
ورڅخه د یوه اجتماعي ایډیال شخصیت د ټولو صفاتو، مهارتونو، اخلاقي معیارونو او
اتلولیو مجموعه ده، چې شاعر یې غواړي په یوه کلېمه کې تمثیل کړي او لوستونکی او
اوریدونکی پرې وپوهوي، چې شاعر «د دستار سړی» له ټولو صفاتو سره وروپېژني.
خوشال بابا د «دستار سړی» د سېمبولیکې کارونې وروسته د دغه سېمبول د شرحې لپاره
یو کتاب(دستار نامه) خبرې کړي او د دستار سړی یې د شلو هنرونو او شلو خصلتونو
خاوند بللی دی، چې په دې توګه خپل مخاطب د دستار د سېمبولیکو مفاهیمو په
پراخوالي وپوهوي. له دې ځایه ده چې په هنري ادبیاتو، په تېره بیا شعر کې د سېمبول
ارزښت او ځای څرګندېږي، کله چې موږ وایو په شعر کې د ژبې لنډون د شعر له جوړښتي
ارکانو څخه دی، نو همدا سېمبولونه دي چې د ژبې لنډون ممکنوي او په لږو خبرو کې ډېر
او هراړخیزه مفاهیم تمثیلوي.

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس به هڅه وکړو چې د سېمبول لپاره يو جامع تعريف ومومو ، خو ښايي دا هېره نه کړو ، چې سېمبول له خپل عمومي تعريف پرته نورې پېژندنې هم ښايي ولرې ځکه سمبول په ادبياتو کې، سېمبول په ارواپوهنه کې، سېمبول په ښوونيزو چارو کې او سېمبول په ساينس او نورو مواردو کې خپل تعريف او پېژند څه ناڅه بدلوي.

خو دلته به هڅه وکړو چې له عمومي پېژندنې څخه ورو ورو ځانګړې هنري او شعري هغې ته ورننېږدې شو.

ادبي دايرة المعارف سېمبول داسې را پېژني:

( سېمبول د نښې يا علامت په مانا دی او په ادبي اصطلاح کې هغه سبک ته ويل کېږي، چې هر څوک په هغه کې يو څه ويني. )

«ادبي دايرة المعارف – ۵۵۸»

سېمبول (Symbol) په اصل کې له يوناني سوم بولون (Sumbolon) څخه اخېستل شوی چې د دوه سره بېلو ټکو د تړلو او يا سره نښلولو مانا لري. په داسې حالت کې د(رمز ) نښې يا علامې مانا لري.

«مکتب های ادبي – Net»

پوهاند ډاکتر مجاور احمد زيار په خپل کتاب « پښتو بدلمېچ، پښتو شعر څنګه جوړېږي» کې د سېمبول داسې پېژندنه لري:

سېمبول (Symbol) يا سېمبل چې عربي انډول يې «علامت» ،پارسی (نماد ) او پښتو دا يې ( پېلام ) دي، په ټوليز ډول هغه څيز يا پديده ده ،چې له ځان پرته د يوه بل څيز يا پديدې څرګندوی اوسي. په ژبه او ادب او بيا شعر کې هغه ويی دی چې د آرې او ټاکلې مانا پر ځای يې يوه بله مانا راخپله کړې وي، لکه په اوسني شعر کې چې له «لمر» څخه آزادي مانا اخيستل کېږي. په بله وينا لمر دا سېمبولوي. په دوديز شعر کې له لمر څخه زياتره د عيني انځورونو ( تشبيه، استورې... ) په رغاونه کې کار اخيستل کېده لکه: مخ دې لکه لمر او نور.

«بدلمېچ ۲۲۲»

له دې ټولو پېژندنو څخه ښکاري چې سېمبول داسې يوه نښه ده چې په شعر او ادب کې د يوې ذهني مجموعې استازيتوب کوي او کله چې موږ په يوه کليمه يا يوه مفهوم کې ورسره مخامخ کېږو نو له هغه څخه دهغو ماناوو درک اخلو چې دغه کليمه يا مفهوم د هغو د نښې په توګه ټاکل شوی دی.

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

په شاعرۍ کې د سېمبول ایجاد او اهمیت:
له لرغونو زمانو را په دې خوا، چې پخوانیو انسانانو خپل مذهبي – حماسي او فوکلوریک نظمونه جوړول پخواني سمبولونه په هغو کې موندل کېدای شي. هغه تشبیهات او استعارې، چې په عامه ذهنیت کې کلیشه کېدل، ورو ورو یې خپل ځای سېمبولونو ته پرېښوده. هغه مهال چې تشبیهات پرته د (مشبه) له یادولو او یا هم استعارې د (مستعار) له یادولو پرته یوازې د مشبه به او مستعار منه په راوړلو سره د تشابه او استعارې استدراک پروسه بشپړه کړې سېمبولونه رامنځ ته کېږي، د همدې لپاره، ده چې یو شمېر ادبپوهان ګومان کوي، چې د سېمبول لوید یځ مفهوم له یادو شویو ختیځو ادبي مفاهیمو سره نږدې دی، خو زه فکر کوم چې سمبول تر ډېره برید ه په شعر کې د انځور جوړونې هنر ته ور نږدې دی، که څه هم ډېر ځله د تشبیه او استعارې پر مختللې بڼه ښکاري: پوهاند زیار په خپل پښتو بدلمېچ کې لیکي:
((تشبیه او استعاره دواړه انځوره که عیني وي یا ذهني، هله پر سمبول (Symbol) اوړي چې له تشبیه نه (مشبه) لرې کړي او (مشبه به) پاتې شي او له استعارې نه چې مستعار له هیسته شي او (مستعار منه) پاتې شي.))
«بدلمېچ ۲۲۷»
په دې توګه وینو چې سېمبول د شاعرانه انځورونو بشپړوونکی دی د یوه شعري تصویر د ټولو جزئیاتو مخامخ یادول د لنډون مخه نیسي او لوستونکي ستومانوي، چې د همدې لپاره شاعران له سېمبولونو څخه کار اخلي او د خپلو انځورونو د بشپړاوي او رانغاړلو لپاره د هرې ذهني مجموعې د نښې په یادولو بسنه کوي.
لرغونې اسطورو، مذهبي او حماسي ارزښتونو، دودونو او ولسي انګېرنو، تاریخي پېښو، مینو او عاشقانه تجربو د انسانانو لپاره په زرګونو داسې سېمبولونه رامنځ ته کول، چې په شعر کې یې راوستل په زړه پورې هنري هڅه بلل کېده. که څه هم ډېر تکرار له امله کټ مټ د تشبیه او استعارې په څېر سېمبولونه سولیدل او کلیشه کېدل چې بیا شاعرانو هڅه کوله د زړو، سولیدلو او کلیشه شویو سېمبولونو ځای نویو هغو ته تش کړي، خو یو شمېر سېمبولونو خپل کلاسیک ارزښت داسې خوندي کاوه، چې د اوږدو زمانو په تېرېدو سره یې خوند او رنګ نه بدلېده اسطورې له همداسې سېمبولونو څخه دي، پخپله اسطورې هغه سېمبولونه دي، چې د تاریخي - افسانوي یا عقیدوي ارزښتونو او پېښو له مخې یې شهرت موندلی وي.

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهاند زيار فکر کوي ،چې اسطوره په يوه مهال کې سېمبول هم دی خو په دې توپير چې پر سېمبول باندې پوهېدل اسانه دي او دا کار د کتنې ( مشاهدې ) او لوستنې اوريدنې له لارې کېدون موندلای شي، خو اسطوره يې سېمبول د پوهېدنې لپاره څه غور و ژورتيا ته اړتيا لري.

شعر له اساطيرو ، تاريخ، عقايدو ، رواني انګيزو ، فکر ، ژبې، خوبونو او ترهرڅه وړاندې د انساني پوهې له پراختيا سره کلکې اړيکې لري، او دا ټول له سېمبولونو سره سرو کار لري، ځکه خو سېمبول د شعر يو رغوونکی رکن دی.

په شاعرۍ کې د يادو شويو بشري تجربو په رڼا کې د سېمبول ونډه داسې ارزولی شو.

انساني باورونه، سېمبول او شعر:

له خورا لرغونې زمانې څخه انسانانو عقايد او باورونه خپل کړل. لرغوني بشريت له طبيعيت او ماورای طبيعيت سره داسې فکري اړيکې درلودې، چې د پرلپسې تفکر په پايله کې ځينو باورونو ، پوهې او عقايدو ته ورسېده، انسانانو د همدې فکري بهير په اوږدو کې ډېلا ډېلو مفاهيمو ته سېمبولونه وټاکل چې په خپل فکري پرمختګ کې ورڅخه ګټه پورته کړای شي.

اريک فون رانيکن پخپل کتاب « د پخوانيو ارباب الانواعو په لټه» کې ليکي:

« نړۍ زرګونه کاله په اسطورو کې ډوبه وه او د يو شمېر نامتو ستوريو نومونه لکه « لوی ابړ» ، « کوچنی ابړ» ، « هرکول» ، «ګوربت» ، هېدار» او د دو لسګونو مباشتو نومونه او سېمبولنه تر ميلاد درې زره کاله پخوا ټاکل شوي دي.»

«درجستجوی خدايان باستان ۴۴»

لرغوني سېمبولونه د انسانانو د اوږده تفکر په پايله کې له هغو باورونو سره اړيکه لري ،چې دوی له خپلو تجربو څخه ترلاسه کړي دي، هر کله چې دغه باورونه متن ته راغلي نو ليکني او هنري سېمبولونه رامنځ ته شوي دي. پخوانيو انسانانو ډېر ځله خپل اعتقادي متون په نظم کړي دي، ادبپوهان ګومان کوي، چې په ګڼو ژبو کې موزون کلام ژر حافظې ته سپارل کېدلای شو ، او ددې لپاره ، چې مذهبي متون وساتل شي، له يوه نسل څخه بل ته ولېږدېږي او لاسوهنه په کې ونه شي نو دا يې له ژبني پلوه خوندي کول؛ ددې خوندي کېدو يوه لاره داوه چې منظوم شي او بيا يې خلک حافظې ته وسپاري. په پخوانيو حماسو ، مذهبي سرودونو ، دعاګانو او فولکلوريکو ، کيسه يې نظمونو کې بې شمېره سېمبولونه موندلی شو.

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زاړه مصر یو لرغونی کتاب چې ( مړه شوي ) نومېږي د پخوانیو مصریانو د مهم رب النوع « حورس» له خولې دا څو منظومې کرښې را ژباړو :

زه «حورس» له میلیونونو کلونو راهیسې یم
زه د پاچاهي د تخت و دریځ خاوند یم
له بدیو ورها خوا ، زه د روزګار مساپر یم
او فضا لایتناهي ده ... «در جستجو ... ۲۳»

دلته « د پاچاهي تخت او دریځ» د ټولې واکمنۍ یا ټولواکۍ سېمبول دی همدلته تاسو وګورئ چې یوازې یو تخت یا دریځ ( د هغه له فزیکي او مادي هستۍ سره چې له څه لرګي یا بل توکي څخه جوړ شوی دی ) څه مانا لري؟

که په دې نظم کې د تخت او دریځ سېمبولیکه مانا مراد نه وای آیا د دومره زورور واکمن لپاره د تخت او دریځ یادول په کار و ؟ ښکاره ده چې «حورس» غواړي، دلته د دریځ او تخت سېمبولونه دده ټوله واکمني او ځواک تمثیل کړي د هندیانو په زاړه مذهبي کتاب « ریګ ویدا» کې یې لولو :

هغه مهال چې نه نیستي وه او نه هستي
نه هوا وه او نه تر ټولو لوړ اسمان
په پېل کې تیاره په تیاره کې نغښتې وه
او د ژوند ځواک په تشه کې پټ و ...
د خلقت سرود ۲.۱ ټوټې «در جستجو ... ۲۴»

دلته کټ مټ د خوشال بابا د شعر په څېر « تیاره» په اصلي مانا «تاریکي» شپه، تروږمۍ په مانا راغلې خو دوهمه تیاره د نیستۍ، تشې، موهوم او نامعلوم حالت لپاره د یوه په زړه پورې سېمبول په توګه کارول شوې ده.

په دې توګه ګورو ، چې سېمبولونه د مذهبي سرودونو په جوړښت کې له ډېر پخوا څخه شعر ته ورننوتي دي.

اسطورې، سېمبول او شعر :

اسطوره له (اسطار ، اسطاره ، اسطیر ، اسطیره اسطور ، اسطوره ) څخه جوړه شوې ده « سیوطی» فکر کوي چې اسطورې داسې یو جمع نوم دی، چې مفرد نه لري خو ابوعبیده وایي چې اساطیر د اسطاره جمع ده. په هر صورت ،ادبي دایرة المعارف اسطورې هغه

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

خرافي یا نیمه خرافي افسانې او کیسې بولي چې د مافوق الطبیعیه ځواکونو په اړه نسل په نسل را پاتې وي.
دا په دې مانا چې اسطورې د پخوانیو انسانانو له عقایدو سره اړه لري.
« دایرة المعارف ۴۲۳»

په یوناني ژبه اساطیرو ته (Mythos) ویل کېدل Mythos د خلکو ترمنځ د افسانو هغو منظومو بڼو ته ویل کېدی، چې د مذهبي او دیني مراسمو په لړ کې به د خلکو په منځ کې ویل کېدی.
دا کټ مټ د (Logos) په مخامخ ټکي کې چې د عقل او پوهې مانا یې لرله کارېده، چې تر ډېره بریده یې له وهم او خیال څخه را پنځېدلې ګڼلې.
هم تراژیدۍ لکه (پاچا ادیپ او پرومته)، هم حماسې لکه( ایلیاډ او اډیسې) او آن غنایي منظومې لکه آشیل او اولیس هغه مشهورې اسطورې دي چې هم په خپل جوړښت کې ګڼ سېمبولونه لري او هم وروسته پخپله په سېمبولونو بدلې شوې دي. د بېلګې په توګه پاچا ادیپ لا تر اوسه په ادبیاتو او راواپوهنه کې د هغې عقدې سېمبول دی ،چې اولادونه یې د والدینو په وړاندې لري. په دې توګه وینو چې په شعرونو کې د سېمبولونو اسطوره یې ونډه له پخوا څخه مهمه او د پام وړ وه.

په شعر کې د سېمبول اروایي ریښې:
شعر د شاعر، لوستونکي او د یوې ادبي حوزې له ټولیزې اروا پوهنې سره نږدې اړیکې لري. شعر د شاعر له ځان ناخبرې (ناخودآګاه) شعور څخه سرچینه اخلي او الهامي سرچینه یې د هنرمند تحت الشعور دی او هر کله چې د مخاطب له عاطفي او ښکلاییز ذوق سره اړخ ولګوي نو ښه شعر ګڼل کېږي. شعر له خوبونو سره عجیب اړیکې لري، په دې مانا چې د شعر سېمبولونه ډېر ځله د خوبونو له سېمبولونو سره ورته دي. خوب د یو شمېر سېمبولیکو پېښنو، اشیاوو او یا کسانو یوه غیر ارادي مجموعه ده چې د انسان په تحت الشعور کې زیرمه شوي دي، شعر بیا د همدغې لاشعوري زیرمې هغه منظم تصورات دي چې په ارادي بڼه سره اوډل کېږي، ددې تصوراتو ظهور هم تر یوه بریده نیمه ارادي وي خو د څنګه ویلو، پیغام ورکولو، ژبني پسول او ښکلاییزو تکتیکونو په مرسته یو هنري اثر

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

رامنځ ته کوي، چې له دې اړخه يې سېمبولونه رغوونکي عناصر دي په خوبونو کې هم سېمبولونه همداسې رغنده ونډه لري.

کارل گوستاو يونګ له اروايي پلوه سېمبول داسې را پېژني:

هغه څه چې موږ سېمبول بولو، يوه اصطلاح يا نوم حتى يو تصوير دی، چې کېدای شي زموږ په ورځني ژوند کې د يوه مانوس شي ښکارندوی وي، خو له خپلې معمولي او ښکاره مانا څخه پرته يوه تلويحي ځانګړې مانا هم ولري. سېمبول د يوه مبهم، ناپېژندل شوي يا له موږ څخه د کوم پټ څه نښه ده... نو يوه کلمه يا شکل هغه مهال سېمبوليک ګڼلای شو چې له خپلې ښکاره او مخامخ مانا څخه پرته په بل څه هم دلالت وکړي. سېمبول ناخودآګاهي اړخونه لري، چې هېڅکله په دقيقه توګه تعريف شوی نه دی. «يونګ ۱۴ـ۲۲»

تاسو وليدل چې د يونګ په نظر د سېمبول د ايجاد او تعميم ځيني عوامل د انسان له اروايي ځانګړتياوو سره اړيکي لري او د هغه پر اند د همدې لپاره د سېمبول دقيق تعريف ستونځمن دی، ځکه تر هغو چې له اروايي پلوه د سېمبول کېدو په ټوله پروسه پوه نه شو، د دغه مهم هنري عنصر پېژندل به ستونځمن وي. سېمبول له شعر سره دقيقاً د انساني اروا په همدغه ځای کې تلاقي کوي.

که څه هم موږ به وروسته د سېمبول پر اروايپوهنيزو ځانګړنو تفصيلي بحث وکړو دلته همدومره يادونه کافي ده، چې په شعر کې د سېمبولونو ايجاد تر ډېره بريده د انسان له اروايي پېښنو څخه سرچينه اخلي.

شاعرانه ژبه سېمبوليکه ژبه ده:

د ژبې فلسفي ارزښت له يوې مودې راهيسې د پام وړ ګرځېدلی په تېره بيا د ژبپوهنې او علمي مسايلو په اړه د نوام چامسکي تر نظرياتو وروسته پر ژبه بلځلي غور په هنري ادبياتو کې د ژبې اهميت لا پسې ډېر کړ، تردې بريده چې په معاصرو ادبي بحثونو کې ژبه يوازې د افهام و تفهيم د يوې وسيلې په توګه نه، بلکې په خپله د يوې هنري ښکارندې په توګه مطرح ده.

پوهاند زيار په خپل کتاب «پښتو بدلمېچ» کې ژبه له دوه ګونو اړخو پاموړ ګڼي:

۱ـ ژب – ښکلاييز اړخ يا ټولی او ۲ـ ژب – انديز اړخ يا ټولی.

«بدلمېچ ۱۱۲»

په دې دواړو اړخونو کې ژبه سېمبولونو ته اړه ده.

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

په جوليز ( شکلي ) اړخ کې چې پوهاند زيار يې په ژب ښکلاييز اړخ کې راولي سېمبولونه هم د ژبې د لنډون او هم ښکلاييز بډايينه کې مرسته کوي خو په ژب – انديز اړخ کې د انځورونو او فکري ارائيه کې سېمبول بنسټيزه ستن ( اساسي رکن ) ګڼل کېږي.

ژان پل سارتر پخپل نامتو کتاب « ادبيات څه دي» کې د شعر او ژبې پر سېمبوليکه اړيکه په زړه پورې خبرې لري، هغه کاږي:

« ... په شعر کې هم لکه نثر وييونه ( کليمات ) کارېږي، خو دلته وييونه هماغسې نه کارول کېږي و آن هېڅ نه کارول کېږي يعنې له وييونو څخه «استفاده» نه کېږي بلکې هغو ته «استفاده» ورکول کېږي... حقيقت دادی چې شاعر له ژبې څخه د وسيلې په توګه کار اخېستل پرېږدي او شاعرانه چلند وسره کوي، شاعر هغه لاره پرېږدي چې له وييونو څخه د يوه شي کار واخلي، ددې پر ځای چې د يوې نښې کار ورڅخه واخلي».

« ادبيات چيست١٢ـ١٧»

دلته د سارتر هدف دادی چې وييونه په شعر کې يوازې د مفاهيمو د لېږد وسايل نه دي، بلکې په خپله هنري توکي دي. نوموړی بل ځای ليکي چې شاعر وييونو ته داسې ځېر دی او مکث پرې کوي، لکه انځورګر چې په رنګونو مکث کوي. په انځورګرۍ کې هر رنګ د يوه ځانګړي فکري – ذهني يا روحي حالت سېمبوليک استازيتوب کوي او په شعر کې وييونه همدا دنده پر غاړه لري.

په دې توګه موږ پايله اخلو ،چې شاعرانه ژبه سېمبوليکه ژبه ده نه د بيان عادي او ورځنۍ ژبه چې موږ يې په خبرو اترو کې کاروو.

شعر تخييل او سېمبول:

پخوانيو ادبپوهانو شعر مخيل کلام باله. که څه هم اوسمهالي ادبپوهان دا لنډ او ساده تعريف د شعر لپاره کافي نه ګڼي، خو هم پخواني او هم اوسني کره کتونکي په شعر کې د خيال ( تخيل ) او (تخييل ) اهميت او رغيزوال ارزښت مني.

خو راځئ لومړی خيال او د هغه بېلا بېل اړخونه وپېژنو :

خيال: عربي نوم دی، او هغه ځواک ته ويل کېږي، چې د محسوساتو ګډ تصورات تردې وروسته چې د هغوی مادي هيئت غايب شي، په ذهن کې خوندي کوي. ( دهخدا ٧ـ١٠١٨٠»

تخيل: عربي مصدر دی او د خيال فعلي حالت بيانوي، چې کله د يوه څه، چا يا حالت صورت په ذهن کې وتړل شي. دهخدا د قطب الدين په حواله ليکي: « تخيل تجربه صورت

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

منتزع از ماده بود ، تجریدی بیشتر چه خیال او را از ماده فرامیگیرد بر وجهی که محتاج نمیشود به وجود ماده ...» « دهخدا – **۲۵۴۵**»

**تخییل**: تخییل هم عربي مصدر دی او دا د خیال مفعولي حالت دی، په دې مانا چې بل چاته د خیال او تصور ورکولو ته وایي.

دهخدا د جامع الصنایع په حواله لیکي:

« **تخییل** آنست که لفظ مشترک مشتمل معنی آورده شود ، چنانکه سیاق ترکیب بر یک معنی تام حاکی بود و مراعات نظیر کرده آید و بسبب طوق نظیر گمان بر معنی دوم رود و آن معنی تام نباشد. و این صنعت نزدیک ایهام و خیال است.»

«دهخدا **۔۵۔۲۵۴۲**»

د شعر لیکلو په بهیر کې د شاعر **تخیل** هغه ځواک دی چې شاعرانه تصورات او مفاهیم رامنځ ته کوي خو دهغه د انځور جوړونې په ځواک پورې اړه لري چې د **تخییل** بهیر بشپړ کړي مانا دا چې نورو ته د خپل **تخیل** منځپانګه څنګه په بریالیتوب سره لېږدوي. په بله مانا د شاعر د **تخییل** کمال دادی چې موږ ته هماغه تصویرونه راولېږدوي چې دده په تخیل کې شته.

رضابراهني په «طلا در مس» کې لیکي:

« د تصویر جوړونې ځواک د تخیل د ځواک تر ټولو غوره برخه ده، د تخیل ځواک هغه شور او هیجان دی، چې هڅه کوي په یوه ځانګړې شیبه کې ګڼ احساسونه، اشیا او تجربې چې په بېلا بېلو زمانونو او مکانونو پورې اړه لري سره راغونډ کړي، یو له بله سره یې منطبق کړي او په یوه ناپایه زماني شیبه کې یې ارائیه کړي.»     «طلا در مس **۷۲**»

د براهني همدغه تعریف له موږ سره مرسته کوي چې په دې ټوله پروسه کې د سېمبول مهمه ونډه وپېژنو. په حقیقت کې دا سېمبولونه دي، چې خیال ته خوځښت ببښي. موږ هم د **تخیل** په بهیر کې (د ځان لپاره) او هم د **تخییل** په بهیر کې د مخاطب لپاره سېمبولونه کاروو.

براهني په شعري انځورونو کې اشیاوو ته ډېر اهمیت ورکوي، نوموړي آن د شعر تعریف له همدې ټکي څخه داسې پېلوي:

شعر د داسې یوه ذهني حالت له رامنځ ته کېدو څخه زیږي، چې انسان ته د طبعیت په یوه محیط کې رامنځ ته کېږي، په دې مانا چې شاعر ته داسې حالت ور په برخه کېږي چې د چاپېریال له اشیاوو او یا انسانانو سره یو ډول ذهني اړیکې مومي، چې دا په خپله یو ډول

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

روحي اړيکې وي او په هغو کې اشيا خپل فزيکي او مادي حالت له لاسه ورکوي. « طلا در مس ۳»

دغه کره کتونکی پرته له دې چې د خيال نوم ياد کړي هماغه د تخيل بهير شرحه کوي، چې موږ مخکې په تعريفونو کې هم نغوته ورته وکړه لږ وروسته ليکي:

« سېمبول د يوه شي نښه ده او يا هم د اشياوو نښه آن د اشياوو او ژويو تر منځ د انساني حالاتو نښه يې ګڼلای شو.»

«طلا در مس۸۱»

له تخيل، تصور، اشياوو او شعر سره په ټولو اړوندو بحثونو کې سېمبول خپل ټاکونکی ځای لري.

په دې توګه پايله اخلو چې د شعر اصلي رامنځته کوونکی ځواک تخيل دی د تخييل په مرسته نورو ته رسول کېږي، هغه ټول توکي ( اجزا ) چې د تخيل او تخييل په بهير کې د شعري تصوير جوړوونکي دي خپل سېمبوليک ارزښت لري، سېمبولونه د خيال د ارائيې هنري مرستندويان دي، د همدې لپاره په شعر کې تخيل او سېمبول ټاکنه سره غبرګوني دي.

نړيوالې بېلګې:

له تاريخي پلوه ګڼ نړيوال مشهور ادبي آثار د ګڼو سېمبولونو لرونکي دي.

دنړۍ تر ټولو لرغونې، موندل شوې، حماسه ( ګېل ګمېش ) چې له لومړنيو راپاتې منظومو څخه ده له ښکليو او نويو سېمبولونو څخه مالامال ده.

ګېل ګمېش د لرغوني (Mesopotamia) ( بين النهرين يا نني عراق ) په اوروک ښار کې هغه قهار پاچا و، چې د تلپاتې ژوند په لټه يې سفر ته ملا وتړله، هغه چې د خپل نږدې ملګري (انکيدو ) مرګ ونه شو زغملای فکريې وکړ، چې ځان له مرګه وژغوري، اسمانونو ته ولاړ، چې له خپل نيکه (اوته نه پيش تم ) څخه د تلپاتې ژوند راز وپوښتي. حماسه له انکيدو سره د ګېل ګمېش له ملګرتوبه پيل کېږي، له هوم ببه ( ديو ) سره په جګړه وړاندې ځي، د اسماني غوايي تر وژلو وروسته د اسمانونو له غضب سره مخامخ کېږي او خپل ملګری له لاسه ورکوي، چې دا پېښه يې د مړينې پر حقيقت پوهوي او د اسمانونو سفر ته يې اړ باسي، ګېل ګمېش له اسمانونو څخه ناهيلی او نيمه خوا راګرځي او بالاخره ماته خوري، کيسه له يوه اړخه ټوله سېمبوليکه ده، هغه کره کتونکي چې د اساطيرو رواني اړخ

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته ډېر ارزښت ورکوي فکر کوي چې دا سفر د ګېل ګمېش په اروايي نړۍ کې ترسره شوی دی.
او په حقيقت کې د داستان ډېرې پېښې سېمبوليکې دي نه واقعي.
په هر صورت دا که هر څه وي، دننه په شعر کې تاسو ګڼ داسې هنري سېمبولونه وينئ چې په ځينو برخو کې تر ننه بې جوړې ښکاري.
د ګېل ګمېش په حماسه کې خوبونه ټاکونکي دي د ګېل ګمېش خوبونه، دهغه د مور خوبونه ټول د راتلونکې وړاندوينه کوي، کله چې ګېل ګمېش او انکيدو له هوم ببه سره د جګړې لپاره سفر پيلوي نو پهلوان ګېل ګمېش درې خوبونه ګوري راځئ ددغې برخې ژباړه وګورو :
« ګېل ګمېش پر غره وخوت
شمش ته يې اوړه فديه کړل او ويې ويل
غره ! ماته يو خوب راوله چې ښاد مې کړي
انکيدو ګېل ګمېش ته له باده پناه ورکړه
او هغه ته يې د خوب بستر ورکړ، لکه دانه چې په غره بيده شي
ګېل ګمېش لاس تر زنې داسې پريوت، چې خوب ورغی
او په خوب کې يې داسې رويا وليده لکه د نارينه ژوندۍ نطفه چې ښځه بلاربه کړي.
ګېل ګمېش چې را پاڅېد نو خپل ملګري ته يې وويل:
ملګريه ! غواړم د خپل خوب کيسه درته وکړم
په کنده کې وړاندې تلو
خو موږ سره الوتلو، هسې چې مچان د پوزي پرنال الوځي.
نو انکيدو چې ددښتې بچی و،
د خوب مانا وويله:
ملګريه !
ستا د خوب مانا ښه ده
ستا خوب ارزښتمند دی
ملګريه !
هغه غر چې خوب دې ليدلی
هوم ببه دی، چې په وينو به يې لژند کړو

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

او جو سه به يې په دښته کې وغورځوو
نو موږ له شمش څخه د نيکو ځواب واخيست.»

«ګېل ګمېش ۷۶-۷۷»

د ګېل ګمېش درې خوبونه ټوله پېښنه له وړاندې بيانوي خو پېښنه په سېمبولنو تمثيلېږي غر د هوم ببه لپاره، داسمان غريو او تالنده د آسماني غوايي لپاره، د رسۍ شکيدل د هغه د دوست انکيدو د مرګ لپاره او د زمريو بچي د هغوی د ووروري او ملګرتوب لپاره عجيب سېمبولونه دي.

له (اوته نه پيش تم) سره د ګېل ګمېش ديالوګ، د (سي دوري سابيت) وينا، د ګېل ګمېش دمور(نين سون) خوبونه او نصحيت ټول د سېمبولونو په مرسته تمثيلېږي، په خپله د انکيدو وحشي ژوند او بيا دمعبد له يوې کنچنۍ سره د هغه له ځملاستلو څخه وروسته انسانۍ ژوند ته را اوښتل ټول په زړه پورې سېمبولونه دي.

تر ګېل ګمېش را وروسته د يونان مشهورې ډرامې که تراژيدي دي يا کوميډي سېمبوليکې ځانګړنې لري.

نامتو حماسې ايلياډ او اوډيسې له سېمبوليک بيانه ډکې منظومې دي. په ايلياډ کې د (آتنه) او (آخيلوس) په يوه ډيالوګ کې د آتنې دا سېمبوليک بيان را ژباړم:

«آتنې چې نيم رنګه سترګې يې درلودې ځواب ورکړ:

زه له آسمانه راغلې يم چې ستا غوسه را کمه کړم، غواړې چې فرمان مې ومنې؟ هغه واکمنه چې سپينې متې لري او په زړه کې تاسو دواړه پرې ګران ياست زه يې رالېږلې يم ...»

«ايلياډ ۵۴لومړی سرود»

د واکمنې سپينې متې د برابرۍ او پاکۍ نښې دي، آتنه غواړي په دې هنرمندانه بيان وښيي چې واکمنه لا له خپل قهر، جبر او زوره کار نه اخلي او ګواکې دا يې رالېږلې ده چې اخيلوس ته د سپينو متو، مهربانۍ او برابرۍ پيغام راوړي.

د هومر بل مشهور شهکار اوډيسه چې د ټرای تر جګړې وروسته پېښې ښيي هم له سېمبولونو ډک دی، راځئ يوه بېلګه يې وګورو:

يو ځل اوليس پهلوان (اومه) ته وايي:

«اې اومه، چې ماته ډېر ګران يې زئيوس ته هم ګران يې... دا د بنيادمانو نس دی چې هغوی ته لانجې رامنځ ته کوي، د ژوند له سرګردانيو سره يې مخامخ کوي، رنځونه او پريشانۍ ورته پېښوي...»                «اوډيسه ۳۴۳»

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سرکوزیو د ساتونکي اومه خبرې اترې له اولیس سره یو څه فلسفي بڼه لري، اولیس غواړي وښیي چې انسان د خوړو، شهوت او عیاشۍ غلام دی، دلته نس د ټولو نفسي خواهشاتو سېمبول دی، اولیس هڅه کوي اومه وپوهوي چې انسان د نس او حرص له لاسه ځان تباهۍ ته سپاري، کټ مټ د صوفیانو د باور په څېر.
هغه نښې چې اوډیسه یې د داستان په پای کې کاروي، چې میرمن او درباریان یې وپېژني ټول سېمبولونه دي او په دې توګه ګورو چې په لروغونیو حماسي شعرونو کې سېمبول څومره مهم ځای لري.
له تراژیدیو څخه پاچا ادیپ د والدینو په وړاندې د پټې عقدې د سېمبول په توګه پېژندل شوی دی. کله چې ابوالهول (Sphinx) له اودیپوس څخه پوښتي چې هغه کوم حیوان دی چې په سهار کې په څلورو پښو، په غرمې کې په دوو پښو او په ماښام کې په درو پښو حرکت کوي؟
او پاچا ادویپ ځواب ورکوي چې دا د انسان ماشومتوب، ځواني او زړښت دی. همدا معما پخپله د ګڼو کره کتونکیو په نظر یو سېمبولیک دیالوګ دی.
د زاړه هند یوه مشهوره ډارمه ( شاکونتالا ) ښیي چې په ختیځ کې ډراماتیکو آثارو سېمبولیک جوړښت درلوده، په دې ډرامه کې شاکونتالا د مینې او وفا سېمبول دی، هغه وخت چې د دوشانتیه پاچا د یوې اوږدې مودې لپاره خپله مینه ( شاکونتالا ) هېره کړه د پاچا او ملکې مینه، په باغ کې د دوی اشنا کېدل، اسمان ته د شاکونتالا ختل او بیا د دوشانتیه هغه درودنه چې په بېلتون کې یې وزغمل ټول سېمبولیک هنري جوړښت لري ،راځئ له دې ډرامې څخه یې ولولو :
« ... پاچا : کله چې ما ګرانه شاکونتالا پرېښوده او پلازمېنې ته راوګرځېدم هغې په ژړا و پوښتل : کله به ما خپلې ماڼۍ ته بوځې او خپله ملکه به مې کړې؟
ماتاویا : نو بیا تاسو څه ځواب ورکړ؟
پاچا : ما خپله ګوتمۍ ورکړه او ورته ومې ویل : هره ورځ دد ې پرغمې لیکل شوی یو حرف ولوله او چې تا یې د سیلاوونو راز پیدا کړ نو زما وزیر به راشي او تا به د خپل مېړه کور ته راولي.
آه چې څومره کلک زړه مې درلوده چې خپله وعده مې هېره کړه دا زما له ساده ګۍ څخه و ...
ماتاویا : مګر څنګه دا ګوتمۍ راولویده او د کب په خېټه کې پټه شوه چې بیا کب نیونکي وموندله؟

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاچا : ښايي زما شاکونتالا عبادت کاوه او په دې وخت کې ګوتمۍ ورځخه د ګنګا سیند ته لويدلې ده ... « شاکونتالا۴۲».
دا «ګوتمۍ» د دوشانتیه او شاکونتالا د ګډ ژوند سېمبول ده او بالاخره دهغوی په بېرته سره یو ځای کېدو کې مرسته کوي.
په منځنیو پېړیو کې د دانته الهی کومیډې د پام وړ سېمبولیک اثر دی د دانته قهرمان جنت، دوزخ او برزخ ته سفر کوي او هلته له بېلا بېلو خلکو سره ګوري، یو شمېر کره کتونکي فکر کوي چې د دانته دا سفر دانساني روح بېلا بېلو برخو ته د سفر کیسه بیانوي.
دا اثر له ګڼو په زړه پورې سېمبولونو او سېمبولیکو پېښو ځخه ډک دی.
د دوزخ د سفر د پېل څو کرښې را ژباړم:
د ژوند په نیملاره کې مې ځان په یوه تیاره ځنګل کې ولیده
ما سمه لاره ورکه کړې وه
او څومره ویروونکی دی هغه وحشي، ګڼ او سخت ځنګل
دومره تریخ چې مرګ لږ ورځخه تریخ دی خو ...
نه پوهېږم څنګه ورننوتم خو کله چې له لارې ووتم ډېر خوبوړی وم.   «دوزخ کمدی الهی۸۱»
شاعر دانته له همدې پېله تر پایه سېمبولیک سفر ته دوام ورکوي هغه له پیله وایي چې له سمې لارې وتل سړی دوزخ ته بیایي او انسان په دې نه پوهېږي چې له سمې لارې ځخه وتلی دی، دانته وایي چې له سمې لارې ځخه وتل داسې دي لکه خوب خو هغه وخت چې انسان د ژوند لاره په یوه وحشي او ویرونکي ځنګل کې ورکه کړي نو را په خود شي او ایله پوه شي چې دوزخ ته روان دی.
د دوزخ، برزخ او جنت هر او سیدونکی، هره پېښه او هره نتیجه یو سېمبول دی او د دانتې دغه ستر اثر یو کامل سېمبولیک شعر ګڼلای شو.
استاد روهي ددغه اثر په اړه لیکي:
(( په دې مشهور اثر کې دانتې د ایتالیې اوضاع درمزونو او سېمبولونو په واسطه د خوب او خیال په جهان کې شرح کوي ))   ( ادبي څېړنې ۱۰۸ )
د ګویټه (ولنګانګ ګوته آلماني شاعر او فیلسوف ) د فاوست تراژیدي په خپله یو سېمبولیک شهکار دی. په دې تراژیدۍ کې، فاوست د تلپاتې ژوند یا لږ تر لږ اوږدې ځوانۍ لپاره خپله اروا په شیطان ( مفیستو ) پلوري او په دې توګه یې غمجن برخلیک

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پېلېږي. د فاوست معشوقه مارګريت هغه ماشوم وژني چې له فاوست څخه يې د مينې يادګار و ، فاوست د هوسبازۍ په لټه کې خپل هر څه بايلي ، کره کتونکي فکر کوي چې د ګویټه فاوست په انسان کې د (ایډ ) یا اماره نفس سېمبول دی. مفیستو فلس شیطان په پېل کې فاوست ته وايي:

« ته به دې ځواني ، شهرت او ثروت بيا مومې خو لومړی بايد دغه سند په خپله وينه لاسليک کړې چې تر ټاکلې مودې وروسته به خپله اروا او جسم ما ته سپارې چې د دوزخ په ابدي اور کې يې خپله جزا ووينې» «دايرة المعارف ادبي ۸۴۳»

په نړۍ کې له سېمبوليستانو پرته هم ګڼو معاصرو شاعرانو په خپلو شعرونو کې نوي او په زړه پورې سېمبولونه کارولي دي.

زه غواړم دلته د ټولې معاصرې شاعرۍ په استازيتوب د Frank Sinarra او Barbara Streisand دوه شعرونه چې زموږ د زمانې پياوړي شاعر عبدالباري جهاني را ژباړلي دي راوړم. په «نوح» شعر کې تاسو د دې نړۍ سېمبوليک هنري انځور وينئ ، چې شاعر يې په ځومره ښکلا بيانوي:

د پښتو په سُر او تال کې د غربي سندور شرنګ

د سرې زرغونې ها خواته

چې نړۍ تپه تياره وي پاته نه وي اميدونه
لېپې لېپې چې را اوري له آسمانه بارانونه
تور وريځو تياره کړې د شينکي آسمان لمن وي
په آسمان کې يوه لار ده پرې کېدای سي چې مزلونه
هغه سره زرغونه لار ده د آسمان په کناره کې
له کړکيه دې پېل کېږي نور ور خلاص دي واټونه
ځي په وړاندې د لمر شاته يوه ځای ته غځېدلې
يو قدم د باران شته بل جهان ته رسېدلې
هغه سره زرغونه لار کې د بوډۍ ټال چې نومېږي

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوه ځای کې ډېر ورپورته شنه آسمان ته چې رسېږي
يوه مځکه ده آباده شنه پټې يې معلومېږي
يو وخت ماته مور ويلي په للو کې مې ياد ېږي
وايي لوړ د بوډۍ ټال کې آسمانونه شنه ښکارېږي
چې څوک ورسېږي هلته ټول خوبونه رېښتيا کېږي
هره ورځ راسره مله وي دا رنګين رنګين خوبونه
چې تر وريځو يم لوړ تللی او لا لوړ اخلم ګامونه
دا سې ځای ته يمه تللی چې نور نه وي ارمانونه
مځکه ټوله تر ما لاندې زه وهمه وزرونه
ته به هلته ما پيدا کې د بوډۍ د ټال لمن کې
چې مرغه غوندې آزاد يم د خوبونو په وطن کې
که مرغان سي تر آسمانه د بوډۍ ټال ته ختلای
زه هم زور لرم په ځان کې زه هم ځان سم رسولای

Barbara Streisand
Over the Rain vow
When all the world is a hop less Jumble
And the raindrops tumble all around
Heaven opens a magic lane
When all the clouds darken up the skyway
There’s a rainbow highway to be found
Leading from your window pane
To a place behind the sun
Just a step beyond the rain
Some where over the rainbow
Way up high
There’s a land that l heard of once
In a lullaby
Some where over the rainbow
Skies are bleu
And the dreams that you dare to dream
Really do come true
Someday I’ll wish upon a star
And wake up where the clouds are far behind me…
Where troubles melt like lemon drops
Way above the chimney tops

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

That’s where you’ll fine me
Some where
Over the rainbow
Bluebirds fly
Birds fly over the rainbow
Why then of why can’t it?
If all those little bluebirds fly
Beyond the rainbow …
Why…oh…why…can’t l?

نوح
دا نړۍ وړه بېړۍ ده په رنګ شنه او زرغونه ده
په فضا کې ده روانه شاوخوا تپه تیاره ده
هم پر غرونو هم رغونو مخلوقات دي چې هستېږي
هر یوه ته ځای معلوم دی په خپل خپل مقام پوهېږي
زموږ په ټول کې هر یو نوح دی د هغه ځای یې نیولی
هر یوه ته یو ژوندون دي په قسمت کې رسېدلی
چې خوندي دغه ژوندون کړو د فضاتپو تیارو کې
د سېلیو په څپو کې په ناپایه توپانو کې
موږ مجبور یو چې رهي سو په ګامونو د زمریانو
د آسمان غېږي ته ولاړ سو په شهپر دعقابانو
د سندو رږغ کو پورته په آهنګ د بلبلانو
ژوند په مینه سوله وکړو پر نړۍ د انسانانو
موږ دوخت ظالم څپېړو کړولي بېرولي
او زموږ وېرې مو په مخ دي رڼې اوښکې بهولي
چې څه شپې د تنهایي دې په تیارو کې چې تېرېږي
چې کلونه باندې اوړي لا سختېږی لا تریخېږي
مګر ګورو چې مومخته یو روښانه نور ځلېږي
ما شومان هغه نور ویني هغوی ټولو ته ښکارېږي
ها نړۍ چې موږ په ژوند کې د یاد ونو ده ایستلې
ها نړۍ چې دوی یې غواړي د دوی لاره ورغلې
چې روان سو چې رهي سو په ګامونو د زمریانو

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د آسمان غېږې ته ولاړ سو په شهپر د عقابانو
د سندرو رږغ کو پورته په آهنګ د بلبلانو
ژوند په مینه سوله وکړو پر نړۍ د انسانانو
دا بېړۍ له مخلوقاتو ورا په ورا داده ډکېږي
په دې سر باید خبر سي چې هر څوک دلته اوسېږي
که ددې بېړۍ له منځه هر څه ځي هر څه ختمېږي
بل د سیالي ځای مو نسته بل کور نه راته رسېږي
برکت مو د ژوندون دی دا چې دلته حیوانان دي
له وفا یې ډکي سترګې زموږ پر لار دوی هم روان دی
موږ کولای سو پیدا کو شنه باغونه جنتونه
نو به ګورو سپین سهار ته چې پرانیزي وزرونه
موږ کولای سو رهي سو په ګامونو د زمریانو
د آسمان غېږې ته ولاړ سو په شهپر د عقابانو
د سندرو رږغ کو پورته په آهنګ د بلبلانو
ژوند په مینه سوله وکړو پر نړۍ د انسانانو
موږ مجبور یو چې روان سو په ګامونو د زمریانو
د آسمان غېږې ته ولاړ سو په شهپر د عقابانو
د سندو رږغ کړو پورته په آهنګ د بلبلانو
ژوند په مینه سوله وکړو پر نړۍ د انسانانو

Frank Sinatra
NOAH
The world's a tiny blue – green ark
Afloat in darkest space
And every creature lives his time
And knows his special place
And each of us in Noah
Whit al life all in our care
To keep against the darkness
That's flooding every where
We've got to walk with the lion
Soar with the eagle
Sing with the nightingale

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

And live in love and pace
The times have made us fearful
And our fears have brought the tears
The loneliness and darkness
Have grown bitter with the years
But a light is just beyond see
And the children almost see
A world the we’ve forgotten
And the world they want to be
We’ve got to walk with the lion
Soar with the eagle
Sing with the nightingale
And live in love and pace
The dark is getting crowded now
And each of us must know
When everything is finished here
There’s no where else to go
The beasts are here to bless us
And the faith is in their eyes
That we can find the garden
And see that sweet dawn rise
And we can walk with the lion
Soar with the eagle
Sing with the nightingale
And live in love and pace
We’ve got to walk with the lion
Soar with the eagle
Sing with the nightingale
And live in love and pace

د سېمبول اروا پوهنيز ارزښت:

... له دې کلېمو څخه ځينې کلېمې د شاعرانه ښکلا خاوند مفاهيم و چې نجلۍ يې له فکري بوختياوو او ناوړه حالت (ناورغي) څخه وژغورله ...

«فروید روانشناسی ۲۰»

د اوسمهالې اروا پوهنې يو نامتو پوه زيګموند فرويد ، په خپله لومړۍ خطابه کې د يوې ځوانۍ نجلۍ کيسه کوي، چې رواني ناروغي يې درلوده، فرويد وايي چې د اغماض او نيمه بې هوښۍ په حالت کې يې له نجلۍ څخه ځينې کلېمات او مفاهيم راټول کړل

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوورو سته یې د خبرو اترو په مرسته د درملنې د اسې یو بهیر پېل کړ، چې د نجلۍ دنا خود آګاه رازونه یې ورڅخه وموندلای شوای. دغه مهم کلمات څه دي؟

او ولې د نجلۍ د رنځ استازیتوب کوي. د فروید په نظر د دغې ناروغې د لاشعور په ساحه کې ډېر داسې څه شته، چې د ځو کلېماتو او یا هم ځانګړیو مفاهیمو په مرسته پېژندل کېدای شي، هغه څه چې د نجلۍ د روان په پټو سمځو کې شته د دغو سېمبولونو په وسیله پېژندل کېدای شي د سېمبول اصلي زېږنځای همدغلته دی. د رواني تداوۍ یوه برخه وسایل هم سېمبولونه دي.

تر فروید وروسته کارل ګوستاویونګ په دې برخه کې ډېر پرمختګ وکړ او دغه تیوري یې د یوه علمي اصل په توګه زباد کړه.

هغه د خپلو تجربو علمي لاسته راوړنې په یوه کتاب کې ولیکلې چې دغه کتاب « انسان او د هغه سېمبولونه» نوموېږي.

کله هم چې د سېمبول په اړه خبرې کېږي د دغې جالبې بشري پدیدې په اړه بنایي د هغې اروایي اړخ هېر نه کړو. سېمبول ډېر ځله د یوه رواني قرارداد په توګه د انسانانو ترمنځ د تداعي ګډه وسیله ده.

په شعر او هنر کې یې هم ونډه له همدې ګډې سرچینې څخه ترلاسه کړې ده ځکه هنرمن او شاعر کله چې سېمبول کاروي، په یو ډول ډاډه دی ،چې د هغه مخاطب هم د دغه سېمبول ټول مانیز چاپېریال او مدلول پېژندای شي، دا ډاډ د همغه رواني قرارداد پایله ده، چې د انسانانو ګډ تاریخي، قومي او فردي اروایي ژوند رامنځ ته کړی دی.

یونګ په انساني اروا کې د شاته وهل شویو غوښتنو ، احساساتو ، عواطفو او عقدو پر رسوب غږېږي او بیا په دې رڼا اچوي چې څنګه د بېلا بېلو رواني انګیزو له مخې او په ځانګړیو حالتونو کې دغه هر څه بیا د شعور ساحې ته راځي. هنر او شعر په دې پېښنو کې ژورې ریښې لري. د انسان په شعور او لاشعور کې د ټولو زیرمه شویو عواطفو او عقدو تداعي د سېمبولونو په وسیله ترسره کېږي او په حقیقت کې شعر او هنر ته هم سېمبولونه له همدې لارې ورننوځي. نږدې ده ووایم چې شعر او هنر ته سېمبولونه د شاعر له اجازې او ارادې پرته لاره مومي، شاعر او هنرمند یوازې د دې سېمبولونو د ښکلي کولو او د جالبې ارائیې هڅه کوي.

یونګ لیکي:

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

« موږ د سېمبول د پېژندلو لپاره نه يوازې دا چې په خپله له سېمبول سره مخامخ يو بلکې د سېمبول د رامنځ ته کوونکي وګړي له ټول تماميت سره سرو کار لرو چې د هغه فرهنګي شالید څه ډول دی.» « يونګ ۱۳۷»

او بيا لږ وړاندې ليکي:

« د تخيل او شهود ځواکونه زموږ د پوهاوي لپاره خورا مهم دي. که څه هم خلک فکر کوي چې دا دواړه ډېر د شاعرانو او هنرمندانو لپاره مهم دي، خو دا په ټولو علومو کې په همدې اندازه اهميت لري.» « يونګ ۱۳۷»

سېمبولونه يوازې په فردي ناخودآګاه کې نه رامنځ ته کېږي ډېر ځله په ټوليزه ځان ناخبرۍ (ناخودآګاه جمعي) کې هم داسې تلپاتې سېمبولونه سر را پورته کوي چې د بشر په ګډه تاريخ کې د ډېرو انسانانو لپاره ګډ مفهوم تداعي کولای شي.

د يونګ نږدې همکار جوزف ال. هندرسن په ياد شوي کتاب « انسان او د هغه سېمبولنه» کې په دې اړه په زړه پورې بحث لري، نوموړی ليکي:

« ... يو شمېر سېمبولونه په هغه څه کې چې ډاکتر يونګ يې جمعي ناخودآګاه ګڼي، رامنځ ته کېږي او دا هغه برخه ده چې د بني نوع بشر په ګډه رواني ميراث کې خوندي شوی دی. دا سېمبولونه د نوي انسان لپاره زاړه او نامانوسه دي او ده ته يې مخامخ درک او جذب ستونزمن دی...

موږ له يوه اړخه د همدغو سېمبولونو له هغو پېغامونو سره تړاو لرو چې ډېر پرې نه پوهېږو خو زموږ کړه وړه يې تر مخامخ اغېز لاندې دي، مثلاً د جګړې پر مهال زموږ مينه او علاقه د هومر، شکسپير او يا تولستوی له آثارو سره زياتېږي.»

«يونګ ۱۲۲ـ ۱۲۳»

هغه څه چې موږ يې قراردادي سېمبولونه بولو د همدغې ټوليزې ځان ناخبرۍ په ګډه مېراث کې ريښې لري.

نوي او فردي سېمبولونه د فردي ځان ناخبرۍ زېږنده دي چې د يوه وګړي په رواني تجربو کې ريښه لري، خو که دغه سېمبول بيا او بيا کارول کېږي نو د ګډو قراردادي سېمبولونو بڼه خپلوي.

د انسانانو ګډ رواني ميراث او د جمعي ناخودآګاه ارثي مشترکات د يوه وګړي (فرد ) له رواني تجربو ، دهغه په فردي ناخودآګاه کې زيرمه شوې عقدې، غوښتنې، غريزې شاته وهل شوي او ځپل شوي عواطف، احساسات او فکرونه همدا راز له قومي شعور څخه په

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

میراث وړل شوي ارزښتونه او باورونه د یوه انسان د تحت الشعور منځپانګه جوړوي، دا ټول د انسان پر رواني کړو وړو، تخیلاتو، افکارو، باورونو، عقایدو، استعدادونو او شخصیت باندې ژور اغېز لري او په حقیقت کې د انسان رواني ماهیت ټاکي. رواني سېمبولونه ددې ټولو استازیتوب کوي او له تحت الشعور څخه شعور ته د لېږد او تداعي دنده پر غاړه لري. په شعر، هنر او پوهه کې د سېمبولونو رواني ریښې له همدې ځایه سرچینه اخلي، نوې اروا پوهنې له پوهانو او څېړونکو سره مرسته وکړه چې په دغه انساني حقیقت پوه شي. په دې برخه کې د اروا پوهنې له نویو موندنو څخه وروسته د هنر، ښکلا خوښوونې او شاعرانه تخیلاتو په پېژندنه کې د پام وړ پرمختګونه رامنځ ته شول د همدې لپاره هم د شعر د شهودي او الهامي سرچینې په هکله ګڼو پوښتنو تر یوه برید ځواب وموند، چې پخوانیو ادبي څېړونکو به یې په بېلا بېلو نومونو تعبیر کاوه.
خو اوس د شعر او هنر ډېره برخه الهامي او شهودي سرچینه د انسان په تحت الشعور کې پټ زېرمه شوي عواطف او غریزې ګڼل کېږي، چې د رواني سېمبولونو په مرسته په ځانګړو حالتونو کې شعوري بیا څرګندېدل یا تداعي هم ورته وایي.
په ګډ شعور کې د سېمبول د قراردادي بڼې په اړه راځئ د خوشال بابا دا بیت وشنو:
ولاړل و جنت ته چې په پوهه خبر نه وو
ولاړل و دوزخ ته چې یې لافې د فرهنګ کړې
په دې بیت کې «دوزخ» څه دی؟ آیا دا هماغه دانسان دننه پټ پروت دوزخ نه دی، چې ځینې خلک یې د پېژندلو هڅه په ارادي بڼه کوي.
زرګونه کاله مخکې کله چې پاچا اديپ خبر شو چې په ناپامۍ یې خپل پلار وژلی او له خپلې مور سره یې واده کړی دی نو چیغه یې کړه: «بدبختي په پوهېدو کې ده» هغه چې ناخبره و، جنتي ژوند یې درلوده او کله چې په حقیقت خبر شو ژوند ورته سور اور وګرځېدا او ځان یې ړوند کړ.
خوشال بابا څه وایي؟ ولې هغه څوک چې خبر نه دي جنت ته تلونکی ګڼي؟
دوزخ دغه د باخبرۍ سېمبول ولې دومره ویروونکی دی؟ د خوشال بابا او پاچا اديپ ګډه رواني ځانګړې حالت دواړه دې پایلې ته رسولي دي، چې «بدمرغي په پوهېدلو کې ده!» یا «ولاړل و دوزخ ته چې یې لافې د فرهنګ کړې».
ایا دادوزخ د انسان په روح کې پټ نه دی، چې د استاد مجروح په «ځانځاني ښامار» کې یې لاروی د موندلو لپاره خپل روح ته ننوځي او دانته یې د بېلا بېلو شخصیتونو په هیئت کې

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا مومي، ستر عارف ابوالمجد مجدود سنايي غزنوي يې په سيرالعباد کې په لټون وځي او اورفیوس د خپلې معشوقی «اوريد يسه» د موندلو لپاره د هغه له څنډو څخه تېرېږي آيا دا دوزخ «نفس» نه دی، چې د هغه لپاره د ګویته (فاوست) خپل روح په شیطان پلوري؟

د روحي دوزخ، نفس، ګناه او په حقیقت د پوهېدو لپاره دغه ګډ سېمبول ولې د دې ټولو شاعرانو لپاره یو شان دی؟

له یوروپیدس څخه را نیولې تر خوشال بابا، له سنايي را نیولې تر استاد مجروح او دانته وګويته پورې ټول له یوه دوزخه کړېږي.

مهمه داده چې دا ټول «دوزخ» د یوې رواني سېمبول په توګه کاروي.

مګر د یوې رواني تجربې په توګه د فردي سېمبول ټاکنې یوه ښه بېلګه به زموږ د زمانې نامتو سېمبولیست اروانښاد اسحق ننګیال په دې شعر کې وګورو:

خوب
پرېږده یوه بله پیاله هم په سر واړومه
***
بېګاه مې خوب لیدلی
له سرو ګلابو پرښتو راته جامې اودلې
ستورې مې زانګې د ګریوان په لیکو
د لاسو غل مې رانه ورک دی
ستا د زلفو تورو شپو نه راته شپې راوړي
او د غنمو نارنجي فصل کري راته په سترګو کې
د وږیو نارنجي خوبونه
***
پرېږده یوه بله پیاله هم په سر واړومه «ننګیال **۲۵۹**»

شاعر په خپل دې شعر کې د «پیالې» او «خوب» په مرسته خپل روح ته ننوځي، هلته (د پرښتو په لاس د ګلابو جامې)، (د لاسو غل)، (د غنمو نارنجي فصل) او نورو سېمبولونه بیا مومي، شاعر له سېمبولیکو رنګونو څخه کار اخلي.

(سور)، (تور) او (نارنجي) دا د شاعر خپله روحي تجربه ده، له شعرسره زموږ د درک اړیکه هم پر هماغو مشترکاتو ولاړه ده چې موږ یې د فکر په مرسته د موندلو هڅه کوو، خو له دې

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

شعر څخه رېښتنی خوند هغه مهال اخیستلای شو ، چې زموږ په لاشعوري سابقه یا د یونګ په ژبه فرهنګي تاریخ کې له دې سېمبولونو او رنګونو سره غوټه کوم څه را تداعي کړای شي.
رضابراهني په شعر کې ځانګړي روحي حالت ته ځانګړې اهمیت ورکوي، هغه فکر کوي ،چې په یوه شعر کې شاعر ځینې اشیا په خپل روح کې جذبوي، د براهني په نظر د اشیاو د انتخاب دغه پروسه په ناخودآګاه بڼه ترسره کېږي، چې دده په نظر دا یوه عارفانه هڅه ده.
دی لیکي:
« په شعر ویلو کې یو عارفانه حالت وجود لري او یو ډول له ځانه د وتلو (بېخود ) کېدو حالت دی، چې په اشیاوو کې ورکېږو ، شاعر د معبود پر ځای له اشیاوو سره سرو کار لري...»

«طلا در مس **۵**»

له اشیاوو سره د شاعر روحي اړیکه د سېمبولونو په مرسته رامنځ ته کېږي موږ په خپل ذهن کې د هر څه لپاره یو سېمبول لرو ، زموږ په ځان ناخبري شعور کې همدا سېمبولونه یوازې د ساکنو نښو په توګه نه، بلکې د متحرکو او ان غیر ارادي مفاهیمو په څېر ځانګړي معنوي حالتونه رامنځ ته کوي خوبونه او شعرونه د همدې حالتونو زېږنده وي.
سېمبول اروا پوهنیزه سرچینه لري، دا زموږ رواني فعالیت دی، چې سېمبولونه زېږوي او شعر چې د انسان د رواني حالت او فعالیتونو هنري تمثیل دی آن په خپله سرچینه کې له سېمبولونو سره همزولې اړیکه ټینګوي. که له دې بحث څخه پایله واخلو نو ویلای شو چې د انسان په رواني دنیا کې هنر له سېمبولونو سره همزولی دی. بلکې هنر د سېمبولونو په مرسته له انساني اروا سره د اړیکو پول جوړوي.
کمزوري او سرسري شعرونه هغه دي چې دغه اړیکه په کې کمزوري وي او سېمبولونه یې د رامنځ ته کوونکي او مخاطب ترمنځ یو ډول روحي اړیکه ټېنګه نشي کړای.

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دربيم ځپرکی
## په پښتو شاعرۍ کې د سېمبولونو ايجاد

دا لا دقيقه نه ده ښکاره، چې د پښتو شاعرۍ لرغونتيا کومې زمانې ته رسېږي زما په نظر ترديې مخکې چې د غزل، قصيدې، رباعی، منثوي او نوور فورمونو ځرک پښتو ته را ورسېږي دغه قوم خپل بومي شاعرانه کالبونه درلودل، چې د مشهورو ولسي فورمونو ( لنډيو، سروکو، نارو، غاړو ... ) تر ځنګ يې شاعرانو خپل عواطف او احساسات په کې بيانول زما لپاره يې يوه ښېلګه بدلې دي، چې يو ځو لرغونې ښېلګې يې د پټې خزانې له برکته را پاتې دي.

غواړم په پټه خزانه کې د راغلي لومړي ترلاسه شوي شعر ځخه يې پېل کړم. د سوري امير کروړ وياړنه په سېمبول پېل کېږي.

زه يم زمری په دې نړۍ له ما اتل نسته...      (پټه خزانه)

د مېړانې، زړه ورتيا، ځواک او و اک لپاره زمری يو نامتو سېمبول دی لرغونيو ولسونو ډېر ځله زمری د زړورتيا او ان هوښيارۍ او پاچاهي لپاره د سېمبول په توګه کاراوه، عربو حضرت علي (رض) ته د اسد الله لقب ورکړی و او د لرغوني روم د ګلادياتورانو د ستديوم په درشل کې دوه زمري ودرول شوي وو.

سوري امير کروړ غواړي له پېله دا زباد کړي چې ترده بل زړور او د واکمنۍ ور کس نشته. د دغه مدبر په وياړنه کې نور سېمبولونه هم شته:

خول، هسک، ستايوال، دريځ، لوی غرونه او نور ټول هغه سېمبولونه دي، چې کروړ يې په خپله لنډه وياړنه کې د ډېرو مفاهيمو د رسولو لپاره کاروي.

په پټه خزانه کې راغلي بدلې ،چې زما په نظر د پښتو لرغونی ليکنی شعري کالب دی، هم ښکلا ييز سېمبولونه لري.

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ببلګې په توګه د ملا باز توخي د بدلې دا دوه سېمبولونه وګوري:
په کار مې نه دی ستا بې مخه د جنت زيړی ګل
راسه پر څنګ، راسه ليلې چې سره وکړو خواله
زه د غرو «باز» وم تا بندي کړمه قفس کې پر څه
يو وار مې خلاص که، چې بيا زده کړم د وزر خپرول (پټه خزانه)
د جنت زيړی ګل د ژوند د ټولو ښو شرايطولپاره په زړه پورې او نوی سېمبول دی اودوهم «باز» ددې تر څنګ چې د شاعر نوم هم دی خو دلته د آزادۍ، لوړپرواز او فارغباله ژوند سېمبول دی. ملا باز توخي خپل نوم د خپل ايډيال ژوند لپاره د يوه په زړه پورې سېمبول په توګه کارولی چې د الوتونکي تصور هم تداعي کوي.
په ولسي شاعرۍ کې لنډۍ تر ټولو غوره سېمبوليک فورم دی، په لنډيو کې د ګودر، کټ، منګې، ديوال، شمله، ټيکری، پيغلتوب، موزيګې او سلګونو نور مفاهيم په زړه پورې سېمبولونه دي چې شرحې ته اړتيا نه لري.
په کلاسيکه شاعرۍ کې خوشال بابا، کاظم خان شيدا او حميد موشګاف هغه شاعران دي، چې کلاسيک سېمبولستان يې بللی شو، تردوی ور هاخوا رحمن بابا، دولت خان لواڼي او د روښاني غورځنګ متصوف شاعران د ګڼو سېمبولونو کاروونکي دي چې په خپل ځای به بحث پرې وشي.
موږ په دې فصل کې په کلاسيکه شاعرۍ کې د بېلا بېلو سبکونو او مکتبونو پر بنسټ د منځپانګې له مخې د سېمبولونو يو ويش معرفي کوو، چې د اور څخه زبادېږي، چې زموږ کلاسيکو شاعرانو څومره سېمبول کارونې ته ارزښت ورکاوه.

حماسي سېمبولونه:
د منځپانګې له نظره زاړه سېمبولونه حماسي سېمبولونه دي هغه اساطير چې د قومونو له اتلوليو څخه سرچينه اخلي هممهاله حماسي سېمبولونه هم دي.
راځئ لومړی وګورو چې په ادبياتو کې حماسه څه ته وايي:
سرمحقق زلمي هېواد مل په خپله يوه ليکنه کې، چې د پښتو په ادب کې د حماسو په اړه يې د ادبياتو د ماسټرۍ کورس ته د درسي لکچر نوټ په بڼه ليکلې ده د حماسې د تعريف په برخه کې ليکي:

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

« حماسه د ادبیاتو په موضوعي یا معنوي ډولونو کې یو ډول دی، چې د یو ملت، قوم، قبیلي او یا شخص د مېړانې او تورې کیسې او جنګي کارنامې په حکایتي ډول بیانوي ... که په حماسه کې اتل یو شخص یوه قبیله او یا یو ملت وي اما شرط په کې دادی چې د شخص، قبیلی، قوم او ملت کارنامې، تورې او مېړانې به یې په داستاني شکل بیان کړی وي.»

ډېر ځله په شعرونو کې د حماسو ذکر راځي، یوې حماسې ته اشاره کېږي او یا د یوې حماسي مشهورې شوې څېرې، پېښې، سیمې یا اشیأ د سېمبول په توګه کارېږي حماس شاعر خوشال بابا لیکي:

شور او شر به د (رانجا ) په جهان نه و
که د (هېر ) صورت پیدا نه وای په شور کې
که خبر د (درخانۍ ) له مخه نه وای
(آدم خان ) به ځنې څه غوښتل په کور کې

خوشال بابا دوه عشقي حماسو ته اشاره کوي او د هېرو رانجا او آدم خان و درخانۍ په سېمبولیکه یادونه غوارې دواړه افساني زمونږ مخې ته ودروي.

خو حماسي سېمبولونه یوازې د نامتو حماسو تر یادونې پورې نه وي محدود په خپله د تداعي له نظره هم له اشیاوو سره د شاعر رواني اړیکه حماسي کېدلای شي.

نامتو کره کتونکی رضا براهني په دې اړه لیکي:

« دا وینا، چې یوازې یو ډول حماسي شعر شته او هغه داسې شعر دی، چې د پهلوانانو، اتلانو او د پهلوانۍ د پېښو په اړه خبرې کوي، ډېره بې مانا ښکاري؛ ځکه ځینې شاعران هېڅکله د پهلوانانو او اتلولیو په اړه څه نه وای خو شعرونه یې حماسي دي.

کله حماسي شعر د انبساط پر لور شعر دی او دا د عارفانو له مفهوم سره په یوه مانا راځي ...

حماسي شعر یعنې په اشیاوو کې انبساطي او زورور حلول چې هر څه په کې مستانه او خوځنده څېره ولري.» ( طلا در مس ۱۳۶)

د براهني له دې پېژندنې سره تر ټولو حماس شاعران خوشال بابا ، احمد شاه نیکه او حمید دي.

د خوشال بابا دا بیتونه څومره حماسي روح لري:

مست یم، می پرست یم، رندي کړمه کړمه کړم
واوره محتسبه، باده خورمه خورمه خورم

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

نور شراب مې واړه نور عالم وته بخښلي
لام و بې مې مې دي پسې مرمه، مرمه، مرم
خلک راته وايي رنګ دې بيا زيړ شو عاشق شوې
هېڅ منکري نه کړم خلکه شومه، شومه، شوم (کليات ۹۳)
او يا
زه خوشال کمزوری نه يم چې به ډار کړم
په ښکاره ناري وهم چې خوله يې راکړه
په هر صورت په داسې شاعرۍ کې راځو ځينو حماسي سېمبولونو ته.
پس له بنده دی دا عزم
د خوشال د خاطر جزم
يا نيولی مخ مکې ته
يا مغولو سره رزم
د خوشال بابا لپاره تر بند وروسته ټول ژوند په دوو سېمبوليکو ترنګونو کې را لنډېږي (يا نيولی مخ مکې ته) د يو عرفاني او معنوي ارام ژوندون په استازيتوب او بل (يا مغلو سره رزم) د يوې سياسي – فعالې، حماسي دورې پېلول. خوشال په کلاسيکو شاعرانو کې هغه شاعر دی چې د ژوند د هرې برخې لپاره په خپلو شعرونو کې بريالي سېمبوليک موقعيتونه رامنځ ته کوي. د خوشال لپاره (باز)، (توره)، (مردي)، (سمند)، (شاهين)، (دستار)، (غشی)، او نور ګڼ حماسي سېمبولونه يوازې کلېمات نه دي، بلکې د يوه پراخ سېمبوليک چاپېريال استازي دي، چې شاعر يې له مورِ څخه د بشپړې تداعۍ تمه لري.
هغه څه چې رضا براهني ورته په شعر کې (يو ډول حماسي روح) وايي د همدغو سېمبولونو په مرسته د تشخيص او پېژندلو وړ ده.
د حماسي سېمبولونو په مرسته د حميد او رحمان بابا او نورو فورماليستو شاعرانو په شاعرۍ کې هم حماسي روح موندلای شو.
د حميد موشګاف دا څو بيتونه عجيب حماسي روح لري:
څوک چې ما د يار له مينې اړوي
غر د ماشي په وزرو نړوي
چې په ما د صبر دم لولي چف چف کا
ګويا تندر په پوکلو سړوي

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې اثر د یار په زړه نه کا څوک څه کا
که مې آه له بیخه غرونه نړوي
بیا د دهر خزانه ده تشه شوې
چې «حمید» په درو لعلو ژړوي (حمید ۲۵۵)

یا:

سر زما سر کوزي نه مني د تاج
ګنه تاج زما و سرو ته دې محتاج
تاج و تخت چې ګدایان شړي له دره
پادشاهانو څخه اوسي لا علاج
زه یې خر د ډېرانه ګڼم په حال کې
دا چې ناست دي بې پروا په تخت و راج (حمید ۴۵)

صوفي عبدالرحمن بابا هم کله کله حماسي چاپېریال په شعر کې داسې تمثیلوي:

زغره و اغونده ملا وتړه په جنګ
دغه پسه معرکه کوه د ننګ
و بې ننګ و ته د ننګ خبرې مه کړه
یا ځان وګڼه په خپلو وینو رنګ
ننګیالي چې یو ځل مخ په هغه لور کا
نور هېڅ نه ویني کوهی وي که ګړنګ
هېڅ له ځانه له جهانه خبر نه وي
چې چراغ په نظر کښېوځي د پتنګ
د بلبلو و چمن و ته پروازوي
د اورپښتي واتش و ته غورځنګ
اسمان زمکه دواړه ژامې د نهنګ دي
څه به زیست کا څوک په خوله کې د نهنګ (رحمان بابا ۲۱۸)

د رحمن بابا په عرفاني او آرامه شاعري کې دا ډول انبساطي پاڅون له شاعرانه اشیاوو سره نوی چلند دی، دا په لاشعور کې د حماسو احساساتو فوران دی،چې دغه ملنګ شاعر مستوي او تورې و زغر ته لاس اوږدوي.

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنه داده چې د رحمن بابا له نورو صوفيانه او عاشقانه غزلونو څخه د دې غزل توپير په څه کې دی، چې د دغه ملنګ د حماسي روح استازيتوب کوي؟
ځواب ښکاره دی: يو شمېر سېمبولونه، دا سېمبولونه د شاعر د شعر له يوه نوي او متفاوت لاشعوري، شهودي او الهامي چاپېريال څخه استازيتوب کوي. په دې توګه موږ وينو چې حماسي سېمبولونه د انساني روح يوه لرغوني برخه ده او د هر شاعر په شعرونو کې را څرګندېږي، د رضا براهني خبره: دا ضرور نه ده چې خامخا دې د پهلوانيو او اتلوليو کيسې بيان کړي. شاعرانه بغاوت او سرکشي په خپله د حماسي روح هغه څپې دي چې، موږ يې په ډېرو شاعرانو کې موندلی شو.
د بغاوت دغه څپې د سېمبولونو په مرسته تمثيلېږي او موږ د پښتنو شاعرانو په شعرونو کې داسې بې شمېره سېمبولونه موندلای شو.
عرفاني سېمبولونه:
که له تاريخي مخينې يې تېر شو د څومره والي له نظره د پښتو ادبياتو د منځنۍ دورې په شاعرۍ کې تر ټولو ډېر له عرفاني سېمبولونو سره مخامخ کېږو.
عرفان د پېژندنې له ريښې څخه اخېستل شوی دی او په اصطلاح کې د خدای(ج) د پېژندنې لپاره د انسان معنوي او روحي هڅه ده.
تصوف د وړينو جامو د اغوستونکيو (صوفيانو) له نامه سر ترلی مسلک ګڼل شوی دا چې صوفيانو ته د هغوی د وړينو جامو يا اهل الصفه (اصحاب صفه) پر صفه ناست کسان يا د غارونو (صوفونو) اوسيدونکو له امله دغه نوم ورکړل شوی په دې ډېر نه تم کېږو، په اسلامي تاريخ کې صوفيان د عرفان، زهد او عبادت هغه لارويان وو، چې پر ادبياتو يې د پام وړ اغېز درلودلای دی. عرفاني ادبيات هغه ليکل شوي را پاتې اثار دي، چې د عرفان او تصوف مسايل يې بيان کړي وي. صوفيانه يا عرفاني ادبيات په دوو برخو وېشل شوي: يوه برخه آثار هغه دي چې د تصوف، صوفيانو، د تصوف مدارجو او احوالاتو بيان کوي، دوهمه برخه اثار د نظم او نثر هغه مجموعه ده چې عرفاني افکار او تمايلات په کې په نثري ژبه بيان شوي وي.
د پښتو ادبياتو په تاريخ کې يوه لويه برخه عرفاني اوصوفيانه ادبيات دي، چې په منځنۍ او نوې دورو کې د پام وړ ځای لري.
صوفيانو، چې له هستۍ، انسان، عاقبت او نفس څخه ځانګړي تعبيرونه درلودل د خپلو افکارو د دودولو او نورو ته د رسولو لپاره ادبياتو او شعر ته مراجعه کوله.

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

صوفيانو ادعا کوله چې لوی خدای(ج) ته عبادت يوازې د دوزخ له ويرې يا جنت ته د وررسېدو لپاره نه کوي، بلکې له خدای(ج) سره د مينې لپاره او په آخرت کې د خپل خالق د ديدار لپاره سعي کوي. ددوی عادتونه، ويناوې، فکرونه او باورونه کله کله د عامو خلکو يا هم د وخت د علماوو له نظره متفاوت او په ځينو مواردو کې د زغم وړ نه وو، نو د همدې لپاره دوی په خپل کلام کې ابهام، سېمبول او استعاري ويناوو ته پناه وړله، دا چې په عرفاني ادبياتو کې سېمبولونه ډېر، ببلا ببېل، په زړه پورې او د پام وړ دي دليل يې همدا دی چې صوفيانو به د خپلو زړونو ټولې خبرې مخامخ او ځرګندې نه شوې ويلای، دوی به مجازي دنيا د حقيقي دنيا د تمثيل لپاره جوړوله، کله کله به يې مجازي معشوقه يادوله خو مراد به ورځخه حقيقي محبوب و.

عارفو شاعرانو به د حقيقي دنيا د تمثيل لپاره مجازي دنيا جوړوله، معشوقه، شراب، ساقي، زاهد، ميخانه، وصال، هجران، های وهوی، قيل و قال او داسې نورو سېمبولونو به د رمز په ژبه د دوی فکرونه او غوښتنې ښکارولې.

د روښاني مکتب پلوي شاعرانو د پښتو ادبياتو لويه برخه عرفاني شاعري کړې ده، خو تر هغو پرته رحمن بابا او نور شاعران هم شته چې ګڼ عرفاني سېمبولونه يې په شعرونو کې موندلای شو.

په پښتو شاعرۍ کې د يو شمېر عرفاني سېمبولونو بېلګې به د ببلا ببېلو شاعرانو له کلام سره وڅېړو.

د رحمن بابا په يوه غزل کې څو عرفاني سمېبولونه:

دجنت تر حورو تېر شه که يار غواړې
خدای دې نقده د چا نه کاندي نسيا
د ساقي له لاسه هسې باده نوش کړه
چې دې غوځ کړه له زړه خيرې د ريا
چې يې کسب عاشقي شي د دلبرو
نظر نه کاندي په کسب د کيميا
عشق هنر د مخلصانو دی رحمانه
نه حصلېږي مخلصي په روريا
يو ګفتار در لره بس کاندي رحمانه

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه په هر ساعت پوښتنه کړې بیا بیا        (رحمان بابا ۵۰)
یار : حقیقي محبوب دی، شاعر غواړي ووایي چې د هغه مقصد حقیقي محبوب دی نه د جنت حورې هغه غواړي خپل حاضر و دایم و قدیم محبوب ته ورسېږي چې نقده حضور لري حال دا چې د جنت حورې نسیا وعده ده.
ساقي او د بادې نوش کول د طریقت سېمبول دی، چې د ریا په وړاندې د شاعر د عرفاني پروتست سېمبول یې هم ګڼلي شو ، هغه څوک چې له حقیقي محبوب سره د عشق کارو بار کوي هغه د دنیا په کاروبار څه غرض نه لري او د (کیمیا ) کار چې یو دنیوي کار دی نه خوښوي. رحمن بابا د عرفان او تصوف وجودي منطق او ټول هدف په همدې څو سېمبولونو کې بیانوي، چې نورو ګڼو عارفو شاعرانو هم تکرار کړی دی.
د میرزا خان انصاري دا سېمبولیک غزل ولولئ:

زه څرګند د محبت په ښه بنیاد یم
له نیستۍ هم په دا هستۍ آباد یم
په ازل مې د اقرار په ژبه ووې
تر ابده وفادار په خپل معیاد یم
امانت چې اسمان ځمکې وړای نه شو
اوس یې زه په دا عاجز صورت عماد یم
په اختیار مې هسې ظلم په ځان وکړ
له دې قصده د جهول په نامه یاد یم
که د جهل بار مې لرې شي له سره
بې ګومانه د صفي آدم اولاد یم        ( میرزا خان دیوان ۸۹ )

انصاري د څو سېمبولونو په مرسته دعهد الست ټوله کیسه تمثیلوي دا له خالق ذات سره د بنده (انسان) د عشق او مینې جوهر او صفت و ، چې د هستۍ باعث شو ، خدای پاک انسان ددې لپاره هست کړ چې خپل خالق یکتا و پېژني او عبادت یې وکړي. ( څرګند د محبت په ښه بنیاد ) او له نیستۍ څخه هستۍ ته راتلل. انسان په ازل کې له خپل رب سره تعهد کوي چې د خپلې هستۍ تر پایه به د بنده ګۍ سعي کوي، او د لوی الله(ج) حکمت، د هغه کلام او د هغه احکام چې زمکې او اسمان، غرونو او دښتو یې د ساتلو او زغملو وس نه درلوده انسان ( د حضرت آدم اولادې) د هغه د منلو ژمنه وکړه او دا ژمنه یې په خپل اختیار وکړه،

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګواکې نه پوهېده چې دومره ستر مسؤلیت پر غاړه اخلي دلته د جبر او اختیار پېچلې فلسفې ته اشاره کوي.

زموږ متصوف شاعر میرزا خان انصاري وايي چې د صفي الله ( حضرت آدم ع) اولاد کله دومره جهول شي چې خپل ازلي عهد او پیمان هیروې هغه عهد ، چې په خپل اختیار یې کړی او د خدای(ج) د بنده ګۍ لوی مسؤلیت پر ځان منلی دی. د انصاري (زه) د ټول بشریت سېمبول دی دا (زه) یوازې میرزا خان نه دی، بلکې له بابا آدمه تردې دمه له ټول بشریت څخه استازیتوب کوي دا د هماغه ګډ بشري ناخودآګاه ضمیر غږ دی چې په سېمبولیکه بڼه د میرزا خان انصاري په شعر کې ځان څرګندوي.

د عهدالست کیسه اوږده ده خو زموږ عارف شاعر یې د یو شمېر روښانه سېمبولونو او سېمبولیکو شاعرانه اشارو سره ټوله او بشپړه را تداعي کوي.

پر همدې زمکه د خوشال بابا دا درې سېمبولیک بیتونه وګورئ؛خان هم هستي د محبت او عشق له برکته بولي:

د مجاز عاشقي عین حقیقت ده
و معنو ته زینه اېښې د صورت ده
تر ثرا تر ثریا که فهم وکړې
په څلور کونجه غوغا د محبت ده
په جهان به هېڅوک نه و که عشق نه وای
د بدبه د عشق قایمه تر قیامت ده (خوشال ۱۸۵)

شیرازي خواجه حافظ په خپل یو مشهور غزل کې کټ مټ د عهدالست او عشق کیسه په همداسې سېمبولونو ارائیه کوي:

در ازل پرتو حسنت زتجلی دم زد
عشق پیدا شد و آتش بر همه عالم زد
جلوه ای کرد رخت دید ملک عشق نداشت
عین آتش شد از این عزت و بر آدم زد
عقل میخواست کزاین شعله چراغ افروزد
برق غیرت بدرخشید و جهان بر هم زد
مدعي خواست که آید بتما شاګه راز
دست غیب آمد و بر سینه نامحرم زد

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دیگران قرعه قسمت همه بر عیش زدند
دل غمدیده ما بود که هم بر غم زد
جان علوی هوس چاه زنخدان تو داشت
دست در حلقه آن زلف خم اندرخم زد
حافظ آن روز طرب نامه عشق تو نوشت
که قلم بر سر اسباب دل خرم زد (حافظ ۱۵۲)

د شیخ عیسي مشواڼي لاندنیو دریو بیتونو د درېیو بېلا بېلو حالتونو د بشپړ تمثیل لپاره عجیب عرفاني سېمبولونه رانغاړلي دي، د جبر او اختیار په اړه د انسان ډیالیکتیکي وسوسه، د هګل له تیزسونو سره سم د (بادار و غلام دیالیکتیک) چې انسان یا بادار دی یا غلام یا حاکم دی یامحکوم او د همدې تنازع څخه د یوې ناپېژندل شوې خپلواکۍ په خوا ورڅکېږي، هېڅکله هم نه ور رسېږي ځکه مرګ تر ایډیالي خپلواکۍ لنډ دی او بل انسان بیا په همدې آزمویل شوې لاره مزل کوي.

انسان که له نفس سره مبارزه وکړي (نور) ته (الله نور السموات والارض) ور نږدې کېږي او که د نفس ومني، نو شیطان الرجیم ته چې له اور (نار) څخه جوړ شوی دی، میلان مومي، خاورین (خاکي) انسان د خپل ایمان، علم او اعمالو د څرنګوالي او څومره والي له نظره د نور او نار ترمنځ په نوسان کې دی.

حقیقي محبوب ته نږدېوالی یا لرېوالی د انسان په خپلو اعمالو پورې تړلی دی، دا ټول څه چې که وغواړئ مدلل یې کړئ کتابونه پرې کښلای شئ خو زموږ شاعر شیخ یې د څو عرفاني سېمبولونو په مرسته داسې بیانوي:

په خپله کار کړې په خپل انکار کړې
کله بادار یم، کله مې خوار کړې
ته خو قادر یې په صفتونو
کله مې نور کړې، کله مې نار کړې
عیسې حیران دی په دې شیونو
کله مې یار کړې، کله اغیار کړې (پټه خزانه ۷۲)

عرفاني سېمبولونه هومره رنګین، بېلا بېل او په زړه پورې دي، چې د ټولو څېړل او سپړل یوه ځانګړې څېړنه غواړي، ځکه زما په فکر عارفو او صوفي شاعرانو تر ټولو ډېره سېمبولیکه وینا کړې ده او ددې لپاره، چې د درباري مفتیانو، زهادو، واکمنو او عامو

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

وګړیو له ګوانښ څخه په امان پاتې شي خپله مدعا یې په ښکلیو ، شاعرانه سېمبولونو کې نغاړلې ده، د همدې لپاره د شعري سېمبولونو ډېرې غوره بېلګې عرفاني سېمبولونه ګڼلای شو.

لېریک او ښکلاییز سېمبولونه:

ښکلا خوښونه انساني غریزه ده او له بشریت سره یو ځای زیږیدلې، وده یې کړې او له طبیعي، کولتوري او فردي شرایطو سره یې بدلون موندلی، د طبیعت، هنري آثارو او بل انسان ښکلا تل د انساني روان پر وسوسو ، عواطفو او انګیزو باندې ژور اغېز درلودلای دی.

چخوف فکر کوي چې په انسان کې د ښکلا حسن هېڅ پوله نه پېژني د ښکلا پېژندنې یو څېړونکی ویکتور روماتکو د انسان په ذهن و روان کې د ښکلا خوښوونې د لرغونتوب او ودې په اړه لیکي:

« د واقعیت ښکلا ، د طبیعت ښکلا داسې څه ده، چې ذاتاً بدلېږي، هماغه ډول چې د زمان او شرایطو له ملتیا سره د ښکلا په اړه زموږ تصور بدلېږي. تردې ور پورته د ښکلا مفهوم تل پراختیا مومي او نوې څېزونه هم را نغاړي، چې تردې مخکې نه تر سترګو کېدل، دا د انساني تاریخ په ټول بهیر کې رامنځته کېږي. » (زیبایي شناسي ۱۱۲)

له هنر سره د ښکلا د اړیکو په بحثونو کې د ښکلا همدغه ځانګړتیا دا اند پیاوړی کوي چې په هنر کې ښکلا تل د سېمبولونو په مرسته تمثیلېږي او څرنګه چې د ښکلا پېژندنې او ښکلا خوښوونې اشیا ، مفاهیم او تصورات پراختیا او بدلون مومي د هغه تداعي کوونکي سېمبولونه هم زیاتېږي، پراختیا مومي او په ټولیزه توګه نوي کېږي، په هنر په تېره بیا شعر کې نوښت له یوه اړخه د همدغو سېمبولونو له نوي کېدو سره اړیکه لري.

مثلاً د طبیعت هغه برخه چې د انسان ارادې او لاس په کې بدلون نه وي راوستی اوس زموږ لپاره ښکلې ښکاري، خو زرګونه کاله پخوا چې د زمکې لویه برخه لاس ناخوړلې پاتې وه ښایي د طبیعت له یوې داسې منظرې سره د انسانانو عاطفي اړیکه داسې نه وه لکه نن چې ده.

وایي دهند مرتازان ، مینان او حقیقت پلټونکي ځنګلونو ته ننوتل، هلته ځنګل په ډېرو شعرونو کې خپل سېمبولیک ارزښت لري خو مجنون بیدیا ته تللی و، او د کهف یاران د غره یوې مغارې ته ننوتلي وو.

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د چاپېریال توپېر د انسانانو د روحي سکون لپاره یو ایډیال طبیعي امن ځای خامخا مومي، د انسان روحي سکون له ښکلا خوښوونکې غریزې سره اړیکې لري، دا یوازې ویره نه ده، چې موږ تالندې و بریښنا ته متوجه کوي، د بریښنا شیبه ښکلې ده، د انسان د روح لپاره : ځنګل، شرک باران، سپینه سپوږمۍ، پراخه دښته، د سمندر آرامه خو پراخه سینه او د غرونو ویروونکي ګړنګونه د ښکلا، ویرې، آرامۍ، سکون او تفکر ګډ طبیعي سوغاتونه دي، خو تردې هاخوا د ښکلا نور مظاهر ( بل انسان) او یا د بل انسان په لاس رامنځته شوې ښکلا ( هنر) هم د ښکلا سرچینې دي، چې یو شمېر ځېړونکي دا هم د طبیعت د ښکلاوو برخه یا لږ تر لږه د طبیعي ښکلا دوهم انعکاس بولي دا ټول د سېمبولونو په مرسته زموږ ذهن ته را لېږدي او دا سېمبولونه دي چې د انسان لپاره له یوې پراخې ښکلا څخه د خوند اخېستلو او د غریزې د اوبولو امکان ورکوي، د همدې لپاره شعر د هنر د یوه غوره استازي په توګه د ښکلا ییزو سېمبولونو ګڼ شمېر په ځان کې رانغاړي، بلکې دا شعرونه دي چې د انسان اروا د ښکلا خوښوونکو ځواکونو تمثیل د سېمبولونو په مرسته کوي.

یوه بېلګه :

سپوږمۍ ( په تېره بیا د څوارلسم پوره سپوږمۍ) د ښکلا سېمبول ده خو څه ډول یو سېمبول. شاعران د خپلې معشوقې مخ له سپوږمۍ سره تشبیه کوي دا یو تشبیهي حالت دی، خو که انځورګر سپینه سپوږمۍ په تابلو کې انځور کړي بیا هم غواړي ښکلا وپنځوي دلته نو سپوږمۍ د محبوبې له مخ سره نه ده تشبیه شوې، بلکې پخپله د سپوږمۍ طبیعي ښکلا مقصد ده، کټ مټ دا کار په شعر کې هم کیدای شي، که شاعر وغواړي چې د سپینې سپوږمۍ د ځلا یوه شیبه د ویینو په مرسته انځور کړي، غواړي یوه طبیعي ښکلا وپنځوي. خو په دریم حالت کې سپینه سپوږمۍ د مین او محبوبې ترمنځ د خبر رسوونکې (قاصدې) رول لوبوي:

سپینې سپوږمۍ اشنا ته وایه سلامونه
ګونګۍ شې ولې
وه ګونګۍ شې ولې نه وایې حالونه...

اوس نو پوښتنه رامنځ ته کېږي، چې دا سپوږمۍ ولې په بېلا بېلو هنري چاپېریالونو کې دومره مهمه ده؟

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ځينو کره کتونکو ( لکه رضا براهني ) په نظر سپوږمۍ يو «شی» دی او دا د انسان هنرمند ذهن دی، چې له دغه «شي» سره داسې عاطفي اړيکه ټينګوي او موږ ته داسې ښکلا تمثيلوي، چې زموږ خوښېږي.
په دې ټولو حالتونو کې سپوږمۍ د ښکلا ، رڼا ، سپين والي، وچتوالي او يا طبيعي حالت لپاره د يوه منل شوي سېمبول په توګه زموږ په ذهن کې منل شوې ده.
راځئ يوې کيسه ګۍ ته ځير شو :
وايي کوم ماشوم په اسمان کې سپوږمۍ وليده، نو په ژړا يې پېل وکړ چې هغه ماته راکړئ، پلار و مور حيران وو، چې څه وکړي، له ډېر کړاوه وروسته کوم هوښيار په يوه لوښي کې اوبه کېښودې چې ماشوم په کې د سپوږمۍ تصوير وليده نو غلی شو او له لوښي او اوبو سره يې لوبې پېل کړې. ماشوم سپوږمۍ ترلاسه نه کړه ،بلکې د سپوږمۍ تصوير يې ترلاسه کړ.
زموږ ذهن هم د همدې ماشوم په څېر دی، د سپوږمۍ ښکلا ته تږی ذهن د هغې په تصوير هم خپله تنده ماتوي او که نه د سپوږمۍ حقيقي نما داسې نده، لکه موږ ته چې ښکاري ، سپوږمۍ يوه تياره ګردۍ ( کره ) ده ، چې له تورو خاورو او ډبرو جوړه ده او هيڅ ښکلا نلري ، دا له لمره د رڼا اخيستلو په حال کې د هغې يو ډير لرې تصوير دی ، چې موږ ته ښکلې ښکاري او د هغه ماشوم په څير يې موږ هم له يو ډول سېمبوليکې ښکلا څخه خوند اخلو. په مجموع کې ښکلا ته تږی ذهن غواړي د سېمبولونو په مرسته ځان مشبوع کړي.
په تغزلي شاعري کې سېمبولونه ډېر ځله د انساني ښکلا پر مدار را څرخي.
په تغزلي شاعري کې د ښکلا ييزو سېمبولونو نوښتګر شاعران هغه دي، چې په شعرونو کې تصوير پنځونې ته اهميت ورکوي. د ليريکو ( غنايي ) شعرونو شاعران فکر کوي، چې د ښکلا مخامخ ستاينه وچه او بې خونده ده.
سېمبولونه مرسته کوي، چې لوستونکي په تدريج سره د ښکلا ټول اړخونه په خپل ذهن کې تمثيل کړي او ورو ورو يې له لمس څخه خوند واخلي.
رضا براهني د نامتو سېمبوليست (مالارمه ) له خولې ليکي:
« د يو څه د نوم اخېستل د شعر درې پر څلورمه برخه خوند له منځه وړي، ددې په وړاندې د يوه شي تدريجي انګېرل ډېر خوند لري». (طلا در مس ۲۴۳ )

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کلاسیکو شاعرانو کې بیا هم خوشال بابا د ښکلاییزو سېمبولونو هغه لوی پنځوونکی دی، چې د تغزلي ښکلا ډېر نوي سېمبولونه یې هست کړي او یا یې هم قراردادي سېمبولونه د تخییل په ځواک نوي کړي دي.

که د ما د ږیرې یو ویښته تور نشته
لا د ما و تورو زلفوو ته زړه شته
تږي ولې تشنه لب بې ځایه ګرځي
چې نژدې ورته خوږې سړې اوبه شته (کلیات۲۱۰)

موږ په زړبوډی کې د عشق او له مینې څخه د تول خوند اخېستل په سترګو وینو خو خان دا هر څه په سېمبولونو کې نغاړلي دي.

تور ویښته، تورو زلفو ته زړه کېدل، تنده، خوږې سړې اوبه هغه ښکاره سېمبولونه دي چې د خوشال بابا په زمانه کې یې نوي او فردي ګڼلای شو، چې زموږ سترګور شاعر ایجاد کړي.

د بابا دا غزل هم لولو:

که د یار پسې څوک سپینې جامې رنګ کا
اواره دې د نیمګړې دنیا ننګ کا
شپه او ورځ دې پسې ژاړي یار دې غواړي
که مین وي په رېښتیا ځان دې ملنګ کا
و اشنای و ته د یار مینه څرګنده
لکه قصد چې له ډیوې سره پتنګ کا
دا دغم کښتۍ چې ګرځي په دریاب کې
یوه ورځ به یې ذرې ذرې نهنګ کا
ښایسته بلا دې ولیده خوشاله
اوس که زړه منع کوې سترګې دې جنګ کا (کلیات۲۴)

د شعر په یوه توټه فکري زمکه (سپینې جامې رنګول، ملنګ، قصد کول، د غم کښتۍ، دریاب، نهنګ، ښایسته بلا، د سترګو جنګ او نور) هغه په زړه پورې سېمبولونه دي، چې په کلاسیک پېر کې یې د خوشال په څېر یو شاعر رامنځ ته کولای شي. البته هېره دې نه وي، هغه مهال چې د غزل د پېژندګلوي او جوړښت له مخې هر بیت بېل مانیز یوون (واحد) ګڼل کېده، د ټول غزل مانیز تړون نه خو اسانه و او نه هم د پام وړ، د یوې سېمبولیکي او

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

انځوربزي اړتيا له مخې خوشال خټک دې چارې ته پام اړولی، چې ياد غزل يې يوه بېلګه ده.

د يو بل نازکخيال شاعر (حنان بارکزي)يو غزل به ولولو چې له لېريکو سېمبولونومالا مال دی:

بنفشه چې دې پيدا پرنسترين شو
له غصې دې غم مېلمه زما حزين شو
حيران کښېناست و تصوير ته د رخسار ستا
چې ناظر ورته نقاش د چين ما چين شو
له ما مه پټوه حال زه در خبر يم
د زړګي مرآت مې هسې رنګ دوربين شو
له دې غمه ولې نه ژاړم سرې سترګې
چې آشنای مې له رقيبه همنشين شو
ستا له غمه نه يم څه يم چې دا هسې
لا د دېرشو کالو نه يم موی مې سپين شو
پښه په لار کې د عشق مه ږده بوالهوسه
پر دا لار باندې مانده روح الامين شو
پر ګلشن دمخ دې عيش رقيبان کا
دا «حنان» دې د غمونو اباسين شو (حنان ديوان ۹۷)

د حنان په زړه پورې سېمبولونه ( اباسين ) ، ( روح الامين ) ، ( د عشق لاره ) ، ( سپين موی ) ، ( د چين ماچين نقاش ) ، ( بنفشه ) ، (نسترين) او نور ښيي چې دغه شاعر د غنايي په زړه پورې تجربو او د ښکلا پنځونې له تصويري څواکه برخمن شاعر دی.

کله کله يو ځانګړی سېمبول د يو شاعر په شعر کې رنګارنګ حضور لري، د يوه شاعر لپاره ځينې سېمبولونه پر ځان ناخبرې (ناخودآګاه) شعور کې د ډېرو خاطراتو تداعي کوونکې وي، چې داسې سېمبولونه پر تخيل او تخييل څواکمن اغېز ښندي.

له دې امله په شعر کې پراخ او له نوښته ډک حضور بيامومي. د کاظم خان شيدا په شعرونو کې (آئينه) همداسې يو سېمبول دی، راځئ ددې سېمبول څو جلوې وګورو :

هر ناظر چې ننداره ستا د رخسار کا
ستا صورت به زړه کې ځای آئينه وار کا

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

یا :
و آئین ته دې حیرانه آئینه شوه
تا چې هېره کړه له نازه خودبیني هم
او :
ستا د مخ پسې يې هسې بې تابي ده
چې پیدا دآئینې په خاطر زنګ و

په خپل ادبي عصر کې د نازکخېال حمید دا څو بیتونه هم په زړه پورې، فردي اونوي سېمبولونه لري:

چې په خیال ستا د سرو شونډو نسکور پروت یم
د ایرو غوندې سپک شوی په اور پروت یم
را له‌را همساد قد د زړه په‌لاس کې
په کوڅه کې ستا د زلفو شب کور پروت یم
زه که کک وای د پیغور باد به‌وم وړی
ولې خاورې یم په‌در ستا په‌زور پروت یم

( حمید دیوان ۱۳۰ـ۱۳۱ )

په شعر کې د سېمبول مجرد ذکر د ابهام لامل ګرځي او په شعر کې شاعرانه صمیمت او ښکلا ته زیان اړوي، نو دهمدې لپاره په یوه مانیز رکن کې دهر سېمبول لپاره د یوه عاطفي بستر رامنځته کول اړین کار دی، په کلاسیکو شاعرانو کې حمید موشګاف، کاظم خان شیدا او خوشال بابا په دې چاره کې برلاسي شاعران ګڼلی شو او پورته شعر د حمید مومند همداسې یوه هڅه له‌وړایه ښیي.

په غنایي او تغزلي سېمبولونو کې مهمه داده، چې یو سېمبول اوریدونکي اولوستونکي ته د یوه ښکلي انځور بشپړ تصور تداعي کړای شي.

د سېمبول ځواک (قوت) دهغه د تداعي له بشپړتوب سره تړلی دی، دا په تېره بیا په یوه داسې ذهني چاپېریال کې مهمه ده ، چې د یوه ټاکلي او مطلق مدلول ننبه نه وي. د بېلګې په توګه په اساطیري او حماسي سېمبولونو کې تاسو له یوې ټاکلې او واضح پېښې، خبرې، کیسې او یا خاطرې سره مخامخ یاست چې د دوهم ځلې ذهني تمثیل لپاره لنډه او مخامخ پروسه بشپړوي، په عرفاني مسایلو کې هم سېمبول تر یوه بریده د تصوف له هغو فلسفي مفاهیمو سره اړه لري، چې لوستونکي يې ژر درکولای شي ، خو په ښکلاییزو او

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

غنايي مسايلو کې لوستونکی هر ځل د ښکلا خوښوونې له يوې نوې تجربې سره مخامخ دی، که څه هم په کلاسيکو متونو کې د ښکلا په اړه د شاعرانو ذوقونه څه ناڅه کليشه شوي وو: سرې شونډې، د ويښته په څېر نری ملا ، تورې اوږدې زلفې، لوړه ونه، سپين رخسار، تورې سترګې... تا به ويل ګرد سره شاعران ديوې معشوقې په ستاينه لګيادي، خو په نوي معاصر شعر کې ښکلا يوازې د ميناتوری له ځانګړتيا څخه راوتلې ده او په ښکلا پورې اړونده تجربې تر ډېره بريده فردي شوې دي، ځکه د ښکلا خوښوونې له فردي تجربو څخه په رامنځ ته شوي هنر کې سېمبولونه يو څه ډېر مناسب چاپېريال ته اړتيا لري، چې ټوله هغه ښکلا او عاطفی ځواک تمثيل کړای شي چې شاعر او هنرمند يې غواړي خپل مخاطب ته ورولېږدوي.

غنايي او لېريک سېمبولونه ډېر ځله د حالت او حسي انځورونو په رامنځته کولو کې مرسته کوي.

د براهني د استدلال له مخې له اشياوو سره د عاطفي اړيکې له ټېنګېدو سره مرسته کوي. اشيا زموږ په ذهن کې را ژوندې کوي او داسې وړتيا ور ببښي، چې زموږ د ښکلا خوښوونې تنده خړوبه کړای شي دلته سېمبول يوه واحده او مجرده ښکارنده (پديده) نه ده، بلکې د اشياوو د يوه غونډ (مجموعې) استازيتوب کوي.

دحنان بارکزي دا څو بيتونه ګورو :

دا شبنم پر مخ د ګل دی قطرات
که عرق دی پر رخسار باندې نقات
دا يې تار د زلفو کوږ وخوله تر پريوت
که افعي حلقه وهلې پر حيات
په اول بازي د مينې په شطرنج کې
تاپه رخ کړ زما د زړه بادشاه را مات (حنان ديوان۱۲)

لومړی بيت ټول ددې لپاره يو تصويرې غونډ جوړوي چې موږ ته پر يوه ښکلې مخ د خولو څاڅکي ترسيم کړي، « رخسار» د يوې داسې ښکلا سېمبول دی چې شاعر يې د تشبيهي توصيف په مرسته انځوروي خو په خپله رخسا وروستی موخه نه ده، د شاعر د معشوقې ټوله ښکلا داده، چې په دوهم بيت کې لا پسې ښکلې انځور شوې ده. خو درېيم بيت بيا د حالت په ترسيم کې مرسته کوي چې د معشوقې مخ يا رخ (په دواړو مانا وو )څنګه د شاعر د زړه بادشاه ماتوي. په درې واړه بيتونو کې موږ له يوه سېمبوليک غونډ سره مخامخ يو نه

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

له څو مجردو سېمبولونو سره چې وکړای شوېو په يو ورته اشاره وکړو، يا يې د تفسير او تعبير لپاره له خپل تخيل څخه کار واخلو.
ځکه نو پايله اخلو؛ په غنايي اشعارو کې، چې آر موخه يې د ښکلا پنځول دي سېمبولونه له خپلو شاليدونو سره ډېر تړاو لري او ښايي د اشياوو له يوې مجموعې سره د احساسي اړيکو په يوه ځانګړي چاپېريال کې وځېږل شي. په دې توګه مونږ وينو چې په شعري تصويرونو کې له تشبيهاتو او استعارو سره د سېمبول توپېر هم جوتېږي او دا زباتېږي، چې سمبول يوازې له يوې تشبيه يا استعارې سره نه، بلکې له يوې تشبيهي او استعاري مجموعې سره سرو کار لري او دا مجموعه هغه څه ده، چې که له خپلو ټولو تکتيکونو سره سمه رامنځته شي يو بريالی شاعرانه انځور جوړوي.

## څلورم څپرکی

## په معاصرې پښتو شاعرۍ کې د سېمبولونو نوښتونه

په اوسمهالې پښتو شاعرۍ کې د سېمبولونو ( په تېره بيا د نويو سېمبولونو ) د کارونې يوه نوې څپه هغه مهال له ورايه را څرګنده شوه چې پښتو شاعرانو د نړۍ له نويو ادبياتو سره مخامخ اړيکه ومونده.
ښايي همدلته يې څرګنده کړم، چې دا سېمبولونو ته يوازې د ځانګړي او آګاهانه پام اوښتلو تر بريده نه، بلکې په شعري زمکه کې له سېمبولونو څخه د ګټې اخيستلو د تاکتيکونو تر زده کړې پورې د پرمختګ څپه وه.
پښتو شعر ته د سېمبول له نوې زمانې څخه يې که را پيل کړو نو د افغانستان په ادبي حوزه کې استاد بېنوا، سليمان لايق، استاد الفت، بهاالدين مجروح او نور نيو کلاسيکان يې

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیلوونکي دي او په پښتونخواه کې بیا دا لومړیتوب د غني خان او امیر حمزه شینواري نومونو ته وررسېږي. یاد شویو شاعرانو د خپل مهال په داسې یوه هنري – سیاسي او ټولنیز پېر کې شاعري کوله، چې د ښکلا او هنر تر څنګ یې په شاعرۍ کې تعهد او ژمنتیا هم پالله، له غني خان پرته نورو یادو شاعرانو ډېر ځله سېمبولونو ته دنامخامخ ارائیې لپاره پناه وړله.

د بېلګې په توګه نامتو ریفورمیست اروانښاد الفت د خپلو خبرو د رسولو لپاره له سېمبولونو څخه مرسته اخېسته، استاد روهي د هغه د یو شعر په اړه لیکي:

« په پښتو ادبیاتو کې هم (غني) او (الفت) کله کله خوبونه ویني، د الفت ( زما خوب ) د پښتو شعر مشهور شاهکار دی. په دې خوب کې شاعر د خپل وخت پر استبداد ، استثمار او فجایعو باندې رڼا اچوي او داسې پېشګویي کوي، چې دظالمانو ماڼۍ به نسکورې شي او د عدالت لمر به راوخيژي.

دادی(زما خوب ) څخه یو څو بیتونه:

اوربل یې ما په خوب کې پریشان لیدلی دی
ستا بخت خو مې رقیبه دغه شان لیدلی دی
د ګلو هار په غاړه محبوبا شوه را حضوره
بلبله دا وطن مې ګلستان لیدلی دی
کارغان به په کې نه وي بلبلان به په کې وي
باغونه به سمسور وي ما باغبان لیدلی دی
تعبیر یې کړې ما په ظالمانو به چپه شي
چپه کاکل مې خوب کې د جانان لیدلی دی
مهار به دې په پوزه شي د سرو زرو خاونده
په سرو شونډو د پاسه ما پېزوان لیدلی دی
زه پټې سترګې نه یمه په هر څه اوس پوهېږم
په خلاصو سترګو باندې ما جهان لیدلی دی»

( ادبي څېړنې ۱۰۹)

استاد روهي ادعا کوې چې استاد الفت په دې شعر کې پر استبداد ، استثمار او فجایعو باندې غږیږي. مګر په شعر کې دا یو هم نه دي یاد شوي.

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

استاد الفت نه د (استثمار)، نه د (استبداد) نه د (فجايعو) نوم اخيستى بلکې هغه (اوربل)، (رقيب)، د (ګلو هار)، (بلبل)، (ګلستان)، (کارغان)، (چپه کاکل)، (باغبان)، (سرې شونډې)، (پېزوان)، (پټې سترګې) او نور سېمبوليک مفاهيم ياد کړي دي، نو استاد روهي ولې له دې شعر څخه داسې تعبير کړی دی؟

دا ځکه چې استاد الفت د خپلو سېمبولونو، سېمبوليک کلام او هغو قرينو، چې په شعر کې يې شته همدغسې يو پيغام ارائيه کوي.

استاد روهي د استاد الفت خوب همداسې تعبير کړی دی، ځکه د شاعر په خوب کې سېمبولونه په ښکاره نارې وهي چې:

تعبير مې کړی ما په ظالمانو به چپه شي

چپه کاکل مې خوب کې د جانان ليدلی دی

ښه خوب او ښه تعبير. شاعر مرسته کوي او کره کتونکی ټول مفهوم را اخلي. که استاد الفت په خپل شعر کې د استثمار په وړاندې شعار ورکړي وای مثلاً ليکلي وای:

مړدې وي استبداد

ژوندی دې وی عدل وداد

ظالمان به ټول نابود شي

زه يې وايم په فرياد ...

نو آيا استاد روهي به داسې شعر هم شاهکار ګڼلی وای؟ فکر نه کوم. استاد الفت د سېمبولونو په کارولو سره نه يوازې هنر پنځولی، ښکلا يې هسته کړې، د مينې، ښايست او بدلون خبرې يې کړي.

د استاد روهي په څېر څېړمن کره کتونکی يې دې ته اړ کړی، چې د هغه شعر شاهکار وګڼي او داسې شعر رامنځ ته کړي، چې زه او ته يې نن هم له لوستلو خوند و پند واخلو.

د افغاني ادب په معاصره دوره کې دناقراردادي،نويو اوابتکاري سمبولونو کارول د شلمې پيړۍ له دوهمې نيمايي څخه را په دې خوا ډېر دود شول، چې په پښتو ادب کې يې له سرلارو څخه يو هم اروانباد استاد بېنوا دی.

داستاد بېنوا په ګڼو شعرونو کې د نويو سمبولونو بېلګې موندلای شو، چې په شعوري توګه د پيژندل شوي (سمبوليک) ارزښت له مخې کارول شوي دي،خو زه يې په دې ليکنه کې هغه مشهور تمثيلي شعر را اخلم ،چې د هماغه وخت او عصر په تاريخي بستر کې د

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوه ګنهمانيز اثر په توګه د ډېرې ښېرنې او شننې وړ دی. دا شعر (دکلورنځور) نومېږي او داسي پېلېږي:

## د کلورنځور

هاخوا، دې خوا
غځيدلي هسک دنګ غرونه، ښکلوي د اسمان شونډې
پر سرويې تکې سپينې د سپينو واورو، او:
پټې په زړو کې يې لعلونه
شنې تالې، شنې لمنې وي د سروغاټو لوډ کې
پښې يې رونو چينو ور وورو ورمينځلې ځليدلې
( په )نڅا ګډ د تنځرو کټکټې،ا خندا د زوکو، وي سندرې د بلبلو
خو په دې خيالي جنت کې خپه سوې انګازه هم خپريدله، تيتېدله
په ژړانده، وير لړلې لړزيدلی اسويلو يې دا ويله،
ورو ورو ناځي؟!
ورو ورو خاندي؟!
هو، ددې غرو په لمنو د دښتونو په بستر کې،
( يو ) ناروغ پروت، له کلو کلو راهيسې،
مړلانه و، خو مړ ژواندی، پروت بې حاله او بې توانه
«خيرات خور» يې ناست و سرته،
«دمګر» وې ګونډې وهلې، د رنځورجيب ته يې کتله ناست يې
پښو ته، او:
ژر ژر يې خوځولې پنډې شونډې
«خان» ښې خواته وه وهلي، خپله ډډه ورته پروت يو غټ چلم و
ناست «ملک» يې و کيڼ لور ته، پړسيدلی خېټور
د هغه ناروغې دوی ته وه، اختر
«خيرات خور» ډېرې ته لاس کئ ويې واهه دا هسې شخوند،
دخيرات فکرونه بويه د رنځور حال دې بې خوند،
خان چلم کش کئ خپل خواته، بيا تازه يې کړله غاړه، ويې ټوخله سخت په زوره ويې ويله:

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

« دا چې ساه په کې چلېږي دا هم ګوره برکت ستا د دعا دی
«دمګر غوڅه کړه لکۍ، د خان د ګپ تر چف چف وروسته
دا سې د خپل ځان شو په ستاینه:
«ما هم پوخ دم پر «چو کړی»
«ملک» وغړومبید په زوره ويې ويل:
« هو ملنګ بابا !دا هم ستا د دم اثر دی چې آرام پروت دی
بې واکه بې دوا او بې غذا لا دی ژوندی په دا دنیا
«خیرات خور تسپې شمېرلې ويې ويلې:
بیا هم بو يه خیراتونه
د مګر ونو رډل په زوره، وې چې
«حق ده صدقه رد بلا»
خان ملک شول وارخطا خو «خان» سرو ښوراونه
«ښه مو وويل مګر؟»
«خیرات خور» پر غړمبوهله
« نه غواړې اګر مګر دا هم تاسې خان یاست چې تړې د خیرور،
«ملک» د «خان» ملاتړ شو خوله يې پریکړه په وینا،
تاسې ښه وایاست، خو ښایي چې د خان دا فکر وینه، څه چې پاتې ورنځور ته موړ لا وخته
دي ځټلي، نور څه پاتې نه دي ده ته، چې خیرات پرې وکوینه:
«دمګر» شاوخوا کړه چف بیا يې دا سې کړله پف
« ته بیا کړې څه عجایبې؟ که يې څه نه درلودلی، مونږ ترې غوښته څه، بیا پرده څله چاپېرو و؟!!»
«خان» په کټ کټ وخندله، «خیرات خور ته» يې وويله
«ودې کړه پخه خبره ته وا څه به وي را پاتې؟
«خیرات خور» کړه شمله شاته وي کتل د غوجل خواته
وی ويل په خوشالي:
« هغه هغه ده غواګۍ شي خیرات دې دا ګړی، چې بلاوې وتښتینه»
«ملک» وخښمید : څه وايې؟
دا غوا زما په وښو پايي

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل د چا په مله تله نه ده
څوک یې زما څخه به بیایي
دا زماده د چا نه ده»
دا وخت ، له بې تابیه، رنځور لاس وغورځاونه، ونښتې د «خان» له مخه خان په خښم وغړومبله.
«اوه» په لاس کې لا توان شته؟ دا عجیبه رنځور مار دی چې لاسونه غورځوینه، زما په خیال چې رنځور نه دی، هسې خوشې یو ټګمار دی، ژرېې وتړئ لاسونه»
«دمګر» بیا چف چف شروع کئ وې چې « بیا پیری پې راغی» ټوټکه غواړي پیریان رایې غلل ترغاړې» شکرانی ورلره بویه»
خان پټکی له سره خلاص کئ، ټینګ یې وتړل لاسونه، د رنځور وچ مړوندونه،
ودرید رنځور له درده، رونې لړ کړې سترګې سرې.
جوړې د وینو سرې کاسې
«د مګر و ترهیدنه» فضل فضل» یې کړه نارې بیا یې داسې کړې چغارې
«ټنیګوه یې خان کاکا، د رنځور سترګې پیریانۍ شوې
خیرات خور هم وارخطا شو
وې: «راوړي یې کتاب کې، د پیریانو په دې باب کې
وتړئ د رنځور سترګې، وینې تورې بلاګانې
«ملک» وغړمبل چې:
« هوکې: په کتاب عمل ضرور دی، درنځور کاته بې باک دي
هوسا یې ورلره بویه وینبول یې خطرناک دي»
ټولو ویل په ګډه:
«وتړئ د رنځور سترګې، باڼوګان یې لکه ژرګې
چې له شره په امان شو»
«خیرات خور» شمله کړه څېرې، ټینګې وتړلې، سترګې، د رنځور
رنځور بیا له ډېره درده پر هوښ راغی
«رانه څه غواړئ ظالمو !
لا مو زړونه ساړه نه دي؟
تاسې زما هر څه کړه غصب

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

لانسو نه ماړه نه دي؟
زما د ځمکې سرې غلې، زما د باغ خوږې میوې ټولې تاسې وخټلې،
زه مو پریښوومې بې واکه ، بې
اسرې،
لا نور څه غواړئ له مانه
دغه تش کاته مو هم لا پیرزونه دي ظالمانو
چې مې سترګې راتړئ ستمګرانو
«خیرات خور» په توبو ګډ شو وې: اخره زمانه ده توبې وباسئ یارانو:
د رنځور حال مو بتر شو پرتې وایي، ګډې وډې، په چټیاتو خوشې سر شو
ما ویل چې خیرات وکئ، خو دا تاسې نه منله
رنځور بیا په زګیروي سر شو خوله یې ورو ، ورو پرانیستله:
«چټیات نه دي رښتیا وایم، زما لاس به وتړاکې زما پښې به پړسیدلې په سترګیا به مې ګټلې
زما د لاس او د پښتو ګټې، بیا به تاسې وخټلې
تاسې هر څه خورئ خو نه خورئ زما رښتیا غم.
«دمګر» لاس په خوله ورکیښود په چف یې کړه خوله وازه
دا خبرې شیطاني دي، بد شګون دي بد شګون، اوس پیریان یې راغلل خولې ته
ژر یې وتړئ دا خوله، چې فساد ترې ولاړیږي»
وټو خله ملک ، خان، خیرات خور هم ورسره مل شو ، ټولو وویل په ګډه:
« هو په کار نه دي رنځور ته غږېدل دې بر
ژر یې خوله ورپټوئ !»
د رنځور خوله تړل کېږي خو دې وخت کې
د درو له لرې منځه د زلمو پیغلو سندره
د رنځور غوږ ته رسېږي
« غلې شانته اوښتون دی بدلوي د زمانې رنګ»
سره وخوځید رنځور بیا ، خوبې واکه بېرته ولوید
«خیرات خور په نارو سر شو :
«خیر، خیر، دا څه زوږ دی، ناآشنا غوندې ښکارېږي، د رنځور حالت یې بد کا»
«دمګر» چف کړه بیا یې ووې:

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوي نوي پیریانان دي، راوتلي له درونه
بدهېبته يې غرېونه، د رنځور حال به بتر کا ژر يې وترېئ غورېونه
د زلمو ناره نژدې شوه داسې شان اوريده کېږي !
«درې ورې زوږ رباب دی
زړو مطرب خانه خراب دی
زوږ آهنګ د روح عذاب دی
نوی ساز نوی آواز دی
هم شو نوی د نغمې رنګ
غلې شانته اوښتون دی
بد لوې د زمانې رنګ
ملک وغرمبيد چې « دا بيا څوک مستان دي، ناخبره ناپوهان دي،
په دې پوه نه دي چې دلته بې له دې څلور قوتو بې له دې څلور طاقتو بل هېڅ واک نه منل کېږي نه ځايېږي»
خان بريتونه تاو را تاو کړل او په ډډ ږغ يې وويله:
« مستان نه دي ليونيان دي پربږدئ تاسې چې دوی راشي بيا به وګوري يارانو،
چې سرونه يې داسې وکوټل شي لکه سرونه د مارانو
په دې وخت کې ډله راغله د زلميانو ودريدله د رنځور سرته نږدې داسې يې وکړه له پوښتنه ګرويږنه
«دا رنځور دی ستاسې مخکې که دلو بوده نانځکه ستاسې لاس کې؟»
خان ملک وقاريدله له پوښتنې د زلميانو په غضب يې وپوښتله،
ويې ويله
تاسې څوک ياست؟ څه مو حق دی، د رنځور په حقله هېڅوک نه پېژنئ څوک»
خيرات خور کتاب پرانيست حکم يې داسې کئ بيان
چپ شئ چپ شئ، کشرانو حق دی حق د مشرانو
دې کتاب کې دي راغلي ما په دې سترګو ليدلي
واک اختيار دی د خانانو څه چې کړينه ښه کوينه
يا د غټو ملکانو، نور حق څوک نه لرينه»
ملک وغرمبل له قصده

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

«زموږ تورې تورې ږیرې په دې کار کې شولې سپینې خو تر اوسه زموږ مخ ته، داسې ونه درید ل ځوک»
له کوم غاره یاست راوتي بیا په دی اټن کښیوتي
ځئ، ځئ ځئ په خپله لاره زمونږ رنځور موکئ بې واره
ناقراره شو تپېږي
زلمو ناره باندې کړه چې
د رنځور حال چا بد کړی؟
چا دې حال ته رسولی؟
لاس یې بند سترګې یې بندې خوله یې بنده،
په غوږو کې یې ټوکرې،
دده هر څه تاسې یووړه که ځاروي
مځکې ټغرې
ده ګټل تاسې څټل دی بې واک پروت بې اسرې تاسې وکړلې چړچې،
دا کوم انسانیت دي؟»
«دمګر» چف کړ له کرار، تف یې کړه د خولې نسوار
بیا یې وکئ دا ګفتار:
«مګر موږ انسانان نه یو چې را ښایست انسانیت؟»
زلمو وویل «یاست خو انسانانو کې توپیر دی
څوک بلا رنځور ته، څوک دوا رنځور ته
تاسې هغه انسانان یاست چې رنځور و؟
هر څه هر څه ځنې اخلئ بیا یې متې ورتړئ
نه یې پرېږدې چې څه ووینې یا څه و اوري، څه ووایي
خو د خپل غرض د پاره، هر څه به کوئ
دا نو څه انسانیت دی؟»
خان په کټ کټ و خندله ویې ویله
که وار ستاسې شي زلمیانو
څه به وکړئ مغرورانو!
دا یې ګزدا یې میدان، دا رنځور انسان

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

زلمو وکتل یو بل ته، سم شوه تهوله وتکل ته
خان، ملک یې کړله لرې «خیرات خور» جوړ شو وځغل ته
«دمګر» پټ شو کودړې کې،
زلمو پرانستلې سترګې د رنځور، هم لاسونه، هم غوږونه،
هم یې خوله، بیا یې پاخوه رنځور،
له کټه پر اوږو کې کړ اوچت
خان ورته حیران حیران کتل
وای زما خاني؟!
ملک بیا په حسرت، حسرت ویل:
وای زما ملکي؟!
خیرات خور رټ رټ ژړل!
وای زما خیرات؟!»
دمګر له خواشینۍ شین شین کیده:
وای زما شکرانه؟!»
خو زلمو سر کړه هغه خپله ترانه
«غلی شانته اوښتون دی بدلوي د زمانې رنګ»

ددې شعر اصلي کرکټر (رنځور)یوګڼمانیزسمبولیک شخصیت دی. رنځور افغانستان دی، رنځور زموږ ملت دی، رنځور هغه ولس دی، چې د تراژیدۍ او کومیډۍ ترمنځ زانګي او خان وملک و دمګرو میراث خور یې په رنځورو اوږو سپاره دي. د سبمولیکو آثارو یوه ځانګړنه داده، چې له بېلا بېلو سمبولونو څخه ، له هر عصرو زمان سره سم، نوي نوي تعبیرونه اخیستل کیدای شي. دا ضرور نه ده، چې خان و ملک دې دهماغه وخت خان و ملک وي ، چې استاد بېنوا پېژندل. دا نومونه د هر زورور لپاره مناسب سمبولونه دي .کیدای شي اوس هم ددې ملت اوږې نه وي سپکې او رنځور لا رنځور شوی وي. موږ اوس هم د دمګرو د تزویرونو په جال کې راګېرېو او لا هم یوه ځوان خوځون ته اړتیا لرو، چې را غږ کړي « غلی شانته اوښتون دی بدلوي د زمانې رنګ»
استاد بېنوا دا شعر لسیزې پخوا لیکلی دی، خو زموږ رنځور لا نه دی رغیدلی، عجیبه ده چې رنځور لاهم له هماغه رنځه رنځېږي، د بې خبرۍ له رنځه، استاد بېنوا د خپل رنځور

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

سترګې، غوږونه، خوله او لاس تړلي بللي دي یو چا ورتړلي دي، زوروړو ، مکارو ، د تزویر او ریا خاوندانو ،د دوستۍ په جامه کې دښمنانو ، رنځور لاهم د زوروړ په یرغمل کې دی .فقط یرغمل نیونکي بدل شوي یرغمل نه دی خلاص شوی، انقلابونه راغلل خو د ملک او خان پر ځای یو بل ډول زوروړ او بیا یو بل ډول، پردې او خپل هر چا رنځور لا پسې وتاړه ،ویې زبېښه، ویې واهه، زخمي یې کړ ،خو رنځور خلاص نه شو. دعدالت، دموکراسۍ، بشري حقونو ، سمون، ویښتیا ، روښانتیا او اوښتون غږ لاهم له لرې درو ځخه راځي، دا د نړیوال کېدو بهیر دی، خو د زلمیو آزادي ښونکو ، شعور ورکوونکو ډله لاهم نه ده رارسیدلې چې ووایي:

غلی شانته اوښتون دی بدلوي د زمانې رنګ

مونږ لا د خپل رنځور سترګې، غوږونه، خوله او لاسونه نه دي ور پرانیستي، ویښتیا ، روښانتیا او اوښتون ته لاهم د آب حیات غوندې اړتیا شته.

استاد بېنوا د خپل شعر سمبولیک جوړښت ،تمثیلي زمینه او بستر داسې طرح کړي ،چې هر سمبول په کې په خپل هنري چاپېریال کې د بشپړ ذهني حرکت ځای لري. استاد بېنوا له یوه «ګل» ځخه ګڼ اجزا را معرفي کوي او همدا ده د انتزاعي اوعیني پدیدو او مفاهیمو ترمنځ دا ستدراکي پول جوړول.

استاد بېنوا که لومړنی نه وي نو الحق چې د پښتو معاصر شعر له لومړنیو سمبولیستو شاعرانو ځخه دی. په تغزلي شعرونو کې دمجردو سمبولونو کاروونکو ته په معاصر مفهوم سمبولیست شاعران نه شو ویلی، سمبولیست شاعران هغه دي چې په خپلو شعرونو کې یوه سبمولیکه پروسه د تصویرونو په مرسته داسې بشپړه کړي، چې لوستونکی د خپل فکر په مرسته د ټولو کلماتو او انځورونو تر شا پراته مفاهیم درک کړي او له دې استدارکي پروسې ځخه یې هنري تنده خړوبه شي.

د کلورنځور شعر همداسې یو شعر دی، په ښکلې انځوریزه وینا پیل شوی دی ،بیا وروسته په غیر مستقیمه بڼه د سمبولونو معرفي ته راځو او بیا د شعر پېښې وینو.

استاد بېنوا په شعر کې د سمبولونو د درک لپاره جالبې قرینې وړاندې کوي. دهسکو دنګو غرونو په لمن کې، چې په سر یې سپینې واورې دي او په زړه کې لعلونه، یو ناروغ پروت دی، ناروغ افغان ولس یا افغان وطن دی او ددې لپاره (دهسکو دنګو غرونو لمن) هم ښکلاییز اوتصویری ارزښت دی اوهم د سمبول د پېژندلو لپاره په زړه پورې زمینه.

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

له همدې ځايه بياد شعر تر پايه ټول تصويرونه، پېښې، کلمات، د ورو انځورونو عمودي اوافقي اوډون، کرکټرونه، اصطلاحات او ترکيبونه له خپلو لومړينو او ښکاره مفاهيمو څخه ورهاخوا پټ خو ډېر په زړه پورې او منطقي نور مفاهيم هم څرګندوي اوزيرک لوستونکی خبروي، چې رنځور څوک او په څه حال کې دی، چا يرغمل کړی او د خلاصون لپاره يې څه کول په کاره دي؟ دا رنځور لانه دی خلاص خو له لرې درو څخه د زلمو او پېغلو غږ راځي، چې:

غلی شانته اوښتون دی بدلوی د زمانې رنګ

***

سليمان لايق د هغې دورې يو بل شاعر دی چې په شعرونو کې يې د سېمبولونو او سېمبوليک شاليد منظم حضور وينو. راځئ له دې ليد لوري د هغه يو شعر وشنو:

د شګو کور

څه ده د ژوند د ماشومانو آواز

چې سپېرو خاورو کې خوسی وهي

له تشو شګو نه ماڼۍ جوړوي

ګټې را باسي او ستمی وهي

اې د کوڅو خورو ورور ملګرو

راځئ چې نوې لوبه سازه کړو

دغه شګلن کورونه ونړوو

ځان له دې خاورو بې نيازه کړو

دغه د شګو ناتمام کورونه

زور د سيلاو او زلزلو نه لري

دا تورې خاورې، دا فاني باغونه

ارزښت د جنګ او د دعوو نلري

راځئ چې هيلې څه رنګينې کړو

راځئ چې نوې ترانې ووايو

د زمانې په دې زړو غوږو کې

د ژوندون نوې افسانې ووايو

ملګرو اې خورو ورو ملګرو

له دې ويرېږم چې ناښاد به شئ

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زمانې د توپانو مخې ته
که سره يو نشئ برباد به شئ (کيږدۍ ۳۲-۳۴)

څوک خبر لايق څه وايي؟ (د شګو کور) ريښتيا هم هغه کوډله ده چې ماشومان يې د سيند پر غاړه جوړوي؟ آيا دا د شګو کور (افغانستان) نه شي کېدای؟ آيا کوم سياسي اند دود يا لاره نه ده؟ هر څه کېدای شي.

اوس نو اصلي سېمبول وپېژندل شو نور ټول سېمبولونه او سېمبوليک شاعرانه ترنګونه او جوړښتونه همدې ته ورته مرستيال تعبيرونه درلودلای شي؛ (ملګرې)، (ژوند)، (نوې لوبه)، (سيندونه) او (زلزلې)، (فاني باغونه) او نور سېمبولونه د شاعر هغه مرستيال شاعرانه لوازم دي چې د هغه د آر موخې د څرګندولو لپاره شعر رامنځ ته شوی.

په پورته شعر کې شاعر قراردادي سېمبولونه نه کاروي، هغه نوي سېمبولونه جوړ کړي دي او په نوي شاعرانه موقعيت کې يې داسې لوبولي چې د هغه ګرد سره مدعا تمثيلوي.

د سليمان لايق دغه تمثيلي شعر سېمبولونو ته اړ دی، په تمثيلي شعر کې سېمبولونه هغه لوبغاړي دي چې د ستيج پر مخ د کرکټرونو په څېر، يوازې (فردي) حضور نه لري، بلکې غواړي يو څه ووايي يا يې وکړي، چې دغه (وينا) يا (عمل) آرموخه ده، په تمثيلي شعر کې سېمبولونه کارتوکي دي، په خپله موخه (غايه) نه ده بلکې د يوې بلې مانا استازيتوب کوي. د اړتيا خبره هم ځکه رامنځ ته کېږي چې بې سېمبوله تمثيلي شعر د ننداري تش او بې کرکټره ستيج ته ورته دی.

د سېمبولونو د رنسانس د دورې تر ټولو پياوړې څېره اروابناد پوهاند بهاالدين مجروح دی. دده شاهکار اثر (ځانځاني ښامار) ټول يو سېمبوليک او له نوښته ډک اثر دی. د استاد مجروح په ځانځاني ښامار کې د سېمبولونو شرح ما په خپل يو بل کتاب (اروايي ښامار) کې په پوره تفصيل سره کړې او هلته مې د (ښار)، (بيابان)، (د ورک سمندر غاړې)، (لاروی)، (ښامار)، (سمڅه)، (غرڅنۍ)، (شاليلی)، د (اژدها ستاينځای)، (دوزخيان)، (پرښته د ترورږميو) او نور څېرلي دي. د ځانځاني ښامار سېمبولونه د خپلو شاعرانه موقعيتونو له مخې نوي او ابتکاري دي.

په دې اثر کې اصلي سېمبول (ښامار) د انسان د نفس، خودۍ انانيت او ايګو لپاره عجيب تمثيلي ارزښت لري، ښار د انساني وجود يوه برخه ده لاروی د حقيقت هغه پلټونکی دی، چې غواړي د هستۍ په راز وپوهېږي هغه د مينې (شاليلا) په مرسته سفر ته ملا تړي او د

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

انساني روح تياره سمڅو ته سر ورښکاروي. لاروی وینې چې ښامار په (زه) کې زېږي، وده کوي او يو مهال خپل زيږنځای نابودوي.
په دې کتاب کې د ارواښاد مجروح پر ځانځانې ښامار ډېر نه تم کېږم، ځکه يو خو د بحث له تکراره ويره لرم او دوهم دا چې ددغه ستر سېمبوليک اثر شرح ددې اثر تر حوصلې وتلې ده، ښه به وي چې د ارواښاد مجروح يو بل سېمبوليک شعر د بېلګې په توګه راوړم، چې يو خو يې سېمبولونه ټولو ته د پېژندنې وړ دي او بل دا چې په شعر کې ( په تېره بيا تمثيلي هغه کې ) د هر سېمبول لپاره ذهني انځورونې ځانګړی موقعيت جوړونه له ورايه په کې ښکاره ده او د ځوانو شاعرانو لپاره د سېمبول کارونې روزنيزه بېلګه ګڼل کېدای شي. دا شعر « د وطن مور» نومېږي ويې لولئ:

## د وطن مور

زمانه شوله آځره
عجيبه خبرې اورم
دوطن مورته چا داسې وويلې
***

لاروی

ای دوطن مورې !
په ما ګرانی په زړه پورې
زار قربان دی د ميرو شه
د سپيرو شړو دشتو شه
خو لعنت دی په بچو شه !
***
ای دوطن موری په ما ګرانې
نن اختر دی، بختور دی

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا کمیس دی پرون تور وو
نن هم تور دی
خړ پرتوک دی څیری څیری
نوی نه شو
خو اختر دی مبارک شه
ګرانی موری !
***
ای دوطن موری
ښه دی ښه دی
چی پرتوک دی خړبخن دی
څیری، څیری
دهیچا نه په کاریږی
نه خرڅیږی
ځکه ستا بچی دیر زښته نارینه دي
خرڅوی دمور پرتوک هم
***
ای دوطن موری
ستا بچی څنګه بچی دی؟
انسان نه دی
دی پخپله هم هیڅکله
ځانته نه وایی "انسان" یم
کله وایی "زه مرغه یم"
بیا پیښبی کړی در مرغانو
کله وایی "ځناور" یم
په څلورو شی روان بیا
***

اې دوطن موری

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا بچی خو انسان نه دی
راته ووایه خپل راز اوس
تارا وړی دی له کومه؟
له کوم اصله، له کوم ذاته، له کوم نسله؟؟
***

ای د وطن موری
راته ووایه خپل راز اوس
ته چی پیغله ښایسته وې
څه پسات درباندې وشو؟
دانګړ ترشا بیدیا کې
ستا کوم غل دلاری مل شو؟
یا د شپی په تروږمی کې
څه بلا وه؟
په پالنګ دروختله
***

ستا بچی وایي
"ځناوریم" خو باچا د ځناورو
زه یم زمری په دې نړی ترما اتل نشته
بل په کابل نشت، بل په زابل نشته

په رښتیا چی ځناور دی
خو، باچا د ځناور
بی کسانو، بی وزلانو ته شین پړانګ دی
غوښی خوری د کونډو رونډو یتیمانو
ماتوی ورور او تربور خپل
چی زور زیات ورباندی برشي

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو، ګیدړ شي
چل وتې کړي
ځغلوي درکور چرګان بیا
***

دا عجیبه ځناور دی
ځکه هیڅ ځناور داسې کاتې نه کا
چې قوي وي خپل خپلوان خوري
خپل همنوعې ناتوان خوري
بیا چې زور وربانډې برشي
ثور غوړونه لکه خرشي
ملایې ماته
ظلم او زور ته تسلیمیږي
استبداد ته غاړه کیږدي
هم دده له برکته
استبداد راپیدا کیږي
ساتل کیږي
هم بیداره، وفاداره
دقدرت درګاه ستاتینه
درزړو جامو خاوند ته غاپې لاپې
***
ای دطن موری
راته ووایه خپل راز اوس
انسانان خو داسې نه وي
***
کله وایي
زه مارغه یم
جګ پروازې، لوړ همتې

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډرنیکه زما عقاب دآریانا دی

***

ای دوطن موری خدای ته ګوره کیسه دی راته وکه
چی مارغه ته څنګه واده شوی؟
څه دروشو؟
انسانان خو داسی نه کړی
هګی نشی اچولای

***

خو داڅرنګه عقاب دی؟
بی غیرته؟
چی شاهین پری رابښکاره شي
له اوچته
داسرکوزی
ووښو لاندی پټیږی
سرپه خاورو کې دننه
لکی پورته
دی عقاب نه دی، تپوس دی
لټوی په دیرانونو کې مرداري
ګنده یی کړې شودیارې

***

ای دوطن موری
په ما ګرانی
په زړه پورې
دابچی که ستا بچی وي
تف لعنت دی په داهسی زیږیدوشه

***

مور

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

لارویه، زما زویه
ځوانی مرګ شې
ګډې وډې نورې بس کړه
تپوسونه رانه مه کړه
پیغله مسته بې خبره د دنیاوم
په هوا به ګرځیدمه
ترخو نا څاپه لینګکی مې په هوا شول
خبر نشوم څه را وشو
ای زما نا اهله زویه !
څه تپوس کړی؟
دا زړی خبری ولی یادوې ته؟
په پرهار باندی مې مالګی دوړوې ته
تیروختونه خو تیرشوې
اوس ما ښام دی
شپه نږدی ده
تیری شوی زمانی څه پکاریږی؟
دانن شپه راته بلا ده
د سبا ورځی ډاریږم
***
په ما هر پسات چې کیږی
د شپی کیږی
وهل کیږم، تړل کیږم
په تورتم کې
چی سبا شی بیا خبرشم
چی بچو ، خپلی بچو یمه تړلی
یوه بل نوی میړه ته یې واده کړی
***
یو تربور یې وی شړلی

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل تربورته یې ورکړې
په دی شانی خرڅوی ما
په ظالمو ، مستبدو ، زورورو
په بار، بارې ودوي ما
عمرتیرشو
ناویتوب می نه ختمیږی
داچې وایی ته ورته تاریخ وای
څه بیان کړی؟
داسی وایې،
"یوه ناوی وه چی سل کرت واده شوه "
هغه زه یم.
***
اوس نو وایه
چې په زور ظلم واده شي
څو څو واره
په جبری نکاح پالنګ ته راښکل کیږی
په رنړا ورځ سره دولی که راوړل کیږی
بیا چی شپه شي توره شپه شي
په زور کټ کې تړل کیږی
وهل کیږی
چی تا ولی بکارت نه دی ساتلی

اوس نو وایه
ددی هسی مور اولاد به څه اولاد وی؟
زما لږغوندی امید وو
دا بچی به خدای رالوی کړی
سړیتوب به له چا زده کړی
دروند نظر به راته وکړی

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ظالمان به رانه وشړی هرخواته
په خپل مینځ کی به سره کیني
د انصاف او عدالت تړی به کیږدی
خو لا اوس هم
دوی بچی دی، سړی نه شول
مور یې یوه بیل بیل پلرونه
یو له بل سره دښمنی کړي، تربګنی کړي
دوی په خپله را ولاړ شي
یو میړه راته پیدا کړی زورور
واک اختیار په لاس کې ورکړي
بیا ژړا کړی واویلا کړي
ماته ناست وي
راته وایي
چی دا پلارمو پلندر دی
په مونږ ظلم او ناروا کړی

لاروېه، زما زویه!
ښه په یاد مې هغه شپه ده
زه بیده وم
نا څاپی په ما خورې شوی منګولې
څو له ځانه خبرېدمه
لاس و پښی می وې تړلې
خوله می بنده
د قرنونو تجربه تکرارېدله
شو مه غلې
ماوې، وکړی بچو وکړی هرڅه وکړی
لږ لږ ورو ورو
چی سبا سهار رڼا شوه

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو کتل مې
یو میړه په کور کې ناست و
بدهیبتی
بد آشنا د تیر کلونو
دا خو هغه لیونی زما سردار و
چې له خدایه مرور و ، تل بندګانو ته په قارو
یوه شیبه یې ماته شاکړو مرور شو
لاړو کیناست چیرته غلی
په کلو کلونو وروسته اوس و بیا یو ځل راغلی
زړه می ووی، څه خبریې، دغه زوړ آشنا چې بیا پټ پټ راغلی
کوم آفت، کوم مصیبت یې دی لکی پورې تړلې
خو بچو بدذاتو ووې
دا سړی نوی سړی دی
هغه نه دی
زمانه ده نوي شوي
پخوانی زمانې لاړې
بیا به هیڅکله رانشي
تیروختونه، زور ظلمونه
نوی باب، نوی کتاب دی
نوی ژوند دی
انقلاب دی
د سبا دنیا رڼا ده
تروږمی به نوری نه وی
***
څو چې شپه شوله تورتم شو
بیا هم هغه ټکول وو راښکول وو
د قرنونو تجربه تکرار یدله
شومه غلی

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه موده لا تيره نه وه
چې زما بچې بدذاتې
راته راغلل
په ژړا په واويلا شول
چې دا نوی پلار ترنورو هم ظالم دی
هم وهل، هم ټکول کړي
هم وژل کړي
***
ای زما کمبخته زویه، لارویه !
دا زړې خبرې ولې یادوې ته
په پرهارباندې مې مالگې دوړوې ته
د تیر وخت را یادول څه پکاریږي
دا نن شپه راته بلا ده
له سبا ورځې داریږم
چې به کله ما ترړي څوک
دبل چا لاس ته سپاري څوک

تاسو ولیدل چې «د وطن مور» باندې څه راغلل. مور د افغانستان سېمبول ده، بچې یې خلک ( یا لږ تر لږه سیاستوال) دي ددې تمثیلي شعر هر کرکټر د یوه تاریخي وضعیت، شخصیت، موقعیت او پېښې سېمبول دی، هېڅ سېمبول تصادفي او پردی نه دي. کمیس او پرتوګ ( خړبخن رنګ) او بیا یې خرڅول ! آیا دا مو په سترګو ونه لیدل ایا په تېرو جګړو کې ددې هېواد موزیمونه، شتمنۍ او (پرتوګ) ونه پلورل شول؟ ایا د همدې مور بچي د (انسان) پر وژلو ، څیرلو ،داړلو او لوټلو ځان اتل نه ګڼي، د زمري او یا بل ځناور کمال څه دی؟
او کله چې پر همدې اتلانو زور راغی، آیا ګیدړان ترې جوړ نه شول؟
عجیبه ده، زموږ سېمبولیک شاعر په خپل دې شعر کې د خپلې هېوادنۍ مور د راتلونکې یوه په زړه پورې وړاندوینه کړې ده هر څه دهمدغو بچو له لاسه او بیا شکایت هم همدوی کوي. استاد مجروح په خپل دې سېمبولیک شعر کې د تاریخ پر دروغجنو ویاړونو پورې

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

خاندي او دا زبادوي چې موږ هومره هم د وياړلو وړ نه يو. په دې شعر کې د استاد مجروح ځينې سېمبولونه قراردادي او ځينې نوي دي، خو د سېمبولونو شاعرانه زمکه ( زمينه ) او موقعيتونه ټول نوي دي. د انځورونو اوډون ( عمودي او افقي اوبدنه ) يې دومره دقيقه ده چې هر سېمبول د بيا بيا تداعي توان لري، د همدې لپاره يې وايم چې دا شعر د تمثيلي شاعرۍ د زده کړې لپاره يو خورا جالبه روزنيزه بېلګه ده.

په پښتونخوا کې ستر سېمبولت او دځانګړي سبک خاوند شاعر غني خان دی، دغني خان ګڼ سېمبولونه سنت ماتوونکي او نوي دي. دغه فلسفي شاعر د خپلو افکارو د تمثيل لپاره په ځينو داسې سېمبولونو اتکا کوي چې ترده وړاندې نه دې کارول شوي. راځئ وګورو د غني په دې شعر کې ځينې نوي سېمبولونه کوم دي:

يو ښار يې روان کړی د نرو نرو کوڅو دی
يو خيال يې روان کړی د زړګي د تلوسو دی
يو سر يې روان کړی ټکی سوز او ټکی ساز
يو عشق د حقيقت جوړ دعشقونو د مجاز
يو کور يې روان کړی د خوبونو د رنګونو
د تورو تهترينو ګړنګبدونکو سرنګونو
او خاندي ليونۍ سترګې يې ډکې د مستونه
وحدت يې روان کړی د لکهابت پرستو نه
او کله ليونتوب فلسفه ګل او صنم وايي
او کله د مستۍ خبرې ډېرې په غم وايي
سرې پاڼې ګل غوړيږي مخ د شبنم پرې پټوي
اوربل مست خوروي د سترګو غم پرې پټوي   ( کليات غني ۲۱۰ )

ددې شعر پټ فاعل ( د ټولو خوځښتو تر شا ورک فاعل ) پخپله سېمبول دی غني څه غواړي ووايي دا هر څه چا روان کړي؟ معشوق؟ څه ډول معشوق؟ او بيا ښار، خيال، سر، عشق، کور، ليونی، وحدت، ګل، صنم، د ګل سرې پاڼې، شبنم او ... نور سېمبولونه د غني خان د شاعرۍ ځانګړتيا همداسې ده، د ډېرو تعبيرونو او څو اړخيزو تفسيرونو شتون د سېمبوليک هنر يوه ځانګړتيا ده.

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ مخکې هم وويل ، چې شاعران ډېر ځله د اساطيرو له بيا را ژوندي کولو څخه د خپلو فکرونو د تمثيل لپاره کار اخلي، د اساطيرو دا ډول ګومارل هغوی په سېمبولونو بدلوي، دلته اسطورې خپل تاريخي روايتونه ساتي خو د شاعر په سېمبوليکه کارونه کې نه يوازې دا چې په خپله په سېمبولونو بدلېږي، بلکې خپل تاريخي روايتونه هم له ځانه سره کاروي، غني خان له اسطورو سره دا ډول سېمبوليک چلند کوي:

څوک د عيسی په شان
مستي د دار اخلي
څوک د غرور کاله کې
د موسی لار اخلي
څوک د رقيب په محل
نوم د دلدار اخلي
څوک ټول جهان غورځوي
سترګې د يار اخلي
غماز لږ و پېژنه
اياز لږ و پېژنه
اې د کڼو وطنه
اې د ړندو وطنه (کليات غني ۲۲۲)

که څوک وغواړي د غني خان پر ټولو سېمبولونو، سېمبول جوړونو، او په شاعرۍ کې د سېمبوليکو موقعيتونو پر ايجاد کار وکړي، زه باور لرم چې يوه ځانګړې رساله پرې کښلی شي.

په اوسمهالي بڼه خو په کلاسيکو فورمونو کې د سېمبولونو د کارونې او ايجاد بل نوښتګر امير حمزه شينواری دی. د غزل بابا د پښتونولی، تصوف او غنايي موضوعاتو ګڼ سېمبولونه په سره ګډو شاعرانه موقعيتونه کې وکارول چې له خپل دې نوښت سره يې په پښتو شاعرۍ کې يو نوی پېر (عصر) را پېل کړ:

نرګسي کاته پيدا شول د وختونو په لېمو کې
پلوشې د ستنو خوی کړي په لېچنو پسرلو کې
ستاد ښکليو ککو فيض دی دا داغونه ښکلي ښکلي
ګرځېده د زړه غرڅه چې ستا د سترګو په ورشو کې

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

آینه د خپل جمال مې مخ ته ونیوه حیران شوم
دا خو ما رڼا کوله د اشنا په اننګو کې
ارمانونه به په ضد وي ضبطه ګوره چې لاړ نه شي
څه وي کار د ماشومانو دپې مخیو په جرګو کې
لیونتوبه خود دې کم شول د زولنو پرهرونه
جوړ خرد راوړی دام و په صورت د زولنو کې
د پښتو ځنې وربل کې حمزه ! برخه زما هم شته
دا احساس به تل ژوندی وي په راتلونکو پښتنو کې

(د غزل په اننګو کې ۵۷ )

دا غزل ډېر په زړه پورې سېمبولونه لري خو راځئ یوه بیت ته یې یو څه تم شو :

آینه د خپل جمال مې مخ ته ونیوه حیران شوم
دا خو ما رڼا کوله د اشنا په اننګو کې

(ایینه)، ( خودبینی ) او (ځانولی ) لپاره یو قراردادي سېمبول دی، ډېرو شاعرانو کارولی خو د حمزه شینواري په دې بیت کې یو ځانګړی ځای لري، د معشوق د ښکلا راز د عاشق په مینه کې دی، شاعر غواړي ووایي چې دا خو زما د عشق ځل دی، چې د معشوقې اننګو ته رڼا ورکوي. د بیت تفسیر بېلا بېل اړخونه درلودلای شي، خو زه غواړم آیینې، خپل جمال، مخ، حیرانتیا، ما ( زه ، خودي)، رڼا، د آشنا اننګي سېمبولونه وسپړم آیینه د (زه) انځورونکې ده، دا ځل ( په دې شاعرانه موقعیت کې) یوازې د ( زه ) ښېګڼې، مینه او عاطفه پکې ښکاري او ددې ټول تصویر لپاره ( خپل جمال) سېمبول دی، ( مخ) لیدل دي له ځانه سره مخامختیا ، رضایت او بیا ( حیرانتیا ) دا ټول د شاعر په برخه دي، مګر د معشوق د برخې سېمبولونه رڼا او اننګي دي، هر سېمبول په عرفاني، فلسفي او غنایي تفسیر کې خپل خپل ځای لري، له عرفاني پلوه دا د انسان د هستۍ او خلقت راز ته اشاره ده ، چې د پېژند ( معرفت) آر ( اصل) دی. د انساني اشتیاق انعکاس دی د خدای پېژندنې لپاره، چې له حیرت او نږدې والي څخه حکایت کوي. له فلسفي پلوه د مینې یو عجیب تعریف دی، له ښکلا سره د مینې اړیکه همداسې ده، دا د انسان عاطفي اړیکه ده ، چې د ښکلا څومره والی ټاکي، شاعر غواړي ووایي چې دا دده د عواطفو رڼا ده، چې د معشوقې اننګي ځلوي، د ښکلا پېژندنې له ټولو پېچلو مقولو څخه استازیتوب د څو سېمبولونو پر غاړه دی. له غنایي پلوه هم دا بیت د ښکلیو سېمبولونو خاوند دی، ګورئ شاعر وایي د اشنا په

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

اننګو کې ( ما ) رڼا کوله، له نږدې والي او مخامختیا سره سره یو په بل کې ګډون، آیا د یوې شیبې مینې یو په زړه پورې تصویر نه دی؟
که یوه کلمه ،په څو ډوله فکري او ذهني موقعیتونوکې خپله ونډه ترسره کړای شي، تر ټولو بریالی شاعرانه سېمبول یې ګڼلی شو ؛ لکه د امیر حمزه شینواري په همدې بیت کې مو چې ولیدل.
د ښکلېو سېمبولونو د کارولو څو بېلګې به د حمزه شینواري په بېلا بېلو بیتونو کې وګورو :

ګوره چې خندا کوي په سترګو کې
کار د مسیحا کوي په سترګو کې

عقله بس لار مې د صحرا ولیده
مخ کې به نور د بوړبوکو سره ځم

چې هره لاره اشنا ستا لاره ده
ستا کومه لار له غلچکو ډکه ده

فانوس مې تخیل شي ستا د مخ په تصور
هر څو که خیال د زلفو مې شبخون ګڼلی دی

ښایست چې ملتفت شي لا سوا کړي اشتیاق
افسوس چې دا کریم خلکو قارون ګڼلی دی

سپینې مې مړې شولې د تندې په یاد
ډک چې سراب د بړبوکو ښکاري

حمزه بهار لا د خیبره نه نه ځي
ډبرې غوټۍ په غوړېدو ښکاري

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دغو بېلګه يي بيتونو کې تاسو په زړه پورې قراردادي او نوي سېمبولونه ګورئ، لکه: مسيحا، صحرا، بوړبوکۍ، لاره، فانوس، شبخون، قارون، سپينې، سراب، بهار، غوټۍ او نور. په اوسمهالې غزليزه شاعرۍ کې د ارواښاد حمزه شينواري سېمبول کارونه ځکه ډېره د پام وړ ده چې د ازادې شاعرۍ په څېر يې هڅه کړې د معاصر ژوند انددود او نوی تخييل په خورا سېمبوليکه او خوږه ژبه شاعرانه کړي.

حمزه شينواري يوازې د منځپانګې له پلوه نه، بلکې د شاعرانه توکيو او تکتيکونو له اړخه هم د معاصر غزل پيلوونکی دی.

قراردادي سېمبولونه:

سېمبولونه د نوښت له نظره دوه ډوله دي قراردادي او فردي يا ابتکاري.

قراردادي سېمبولونه هغه دي چې پخوا کارول شوي دي او اوسني شاعران يې بيا په نوي شاعرانه موقعيت کې کاروي، خو فردي يا ابتکاري سېمبولونه هغه ځانګړي سېمبولونه دي چې د يوه شاعر له خوا وړانديزېږي او د لومړي ځل لپاره د سېمبول په توګه پر ادبي زېرمې ور اضافه کېږي. رضا براهني دغه ويش داسې تعريفوي:

« سېمبول، معمولاً دوه ډوله دی. قراردادي سېمبول چې د عمومي سېمبولونو په توګه يې ټول مني، دا ډول سېمبولونه د پخوانيو خلکو ذهنونو جوړ کړي او موږ ته را رسيدلي دي او د پېړيو په اوږدو کې زموږ د فرهنګ، شعر او تمدن برخه ګرځېدلي دي. خو ځينې داسې سېمبولونه هم شته چې د يوه شاعر له خوا رامنځته شوي دي. يعنې يو شاعر يو څه له يوې دنيا څخه د هغې دنيا د استازي په توګه ټاکي او نورو ته يې ورکوي او په تمه پاتې کېږي چې نور هغه ټوليز کړي او د سېمبول په توګه يې تر ټولو ورسوي، يا هم په خپله شاعر دا کار کوي.

لومړی ډول سېمبولونه لکه زموږ د عرفان سېمبولونه دي، عالم کثرت يا وحدت چې يوه شاعر جوړ کړي، دوهم پاللي، دربېيم او څلورم تثبيت کړي دي، چې زموږ د فرهنګ يوه برخه ګرځېدلي دي. خو دوهم ډول سېمبولونه هم ډېر دي. نننی شاعر په خپله خپل سېمبولونه رامنځته کوي. يو سېمبول کړای شي تشبيهی او يا استعاري اړخونه هم ولري.» ( طلا در مس ۸۲ ).

د معاصر شاعر درويش دراني د لانديني ښکلي غزل په هر بيت کې تاسو يو شمېر قراردادي سېمبولونه موندلی شئ:

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کومه خوله به دعوه کاندې چې فايده دې راوړه
لمر دې له ځانه سره وړی و او شپه دې راوړه
قاتل به نه يې خو زه دومره ګواهي ورکوم
توره دې تکه سپينه يووړه، تکه سره دې راوړه
په داسې خلکو پسې کور ته ښاماران هم راځي
خوشالي مه کوه په دې چې خزانه دې راوړه
دا چې هر چاته ځرګند ښږي د هغه په شکل
دلته ښښښه د چا په کار نه ده، څهره دې راوړه
په سمندر کې يو درويش په ډوبېدو و خدايه
ته يې د مرستې په نيت راغلې کناره دې راوړه

( ستوري په لمن کې ۲۰۸ )

لمر، شپه، توره ( سپينه او سره)، ښامار، خزانه، ښښښه ( ايينه) سمندر او کناره هغه قراردادي سېمبولونه دي چې موږ له واره پوهېدای شو چې د شاعر مراد له هغو ذهني تولګو څخه څه دی، چې دغه سېمبولونه يې په استازيتوب دلته ياد شوي دي.
د ببلګې په توګه لمر له پخوا څخه د ورځې، رڼا، نېکمرغۍ، خپلواکي، ښېګڼې، تودوخې، آن ښکلا او ښه حالت لپاره د سېمبول په توګه کارول شوی او شپه يې پر عکس. زموږ او سمهالې شاعر درويش دراني همدا سېمبولونه په نوي لحن يو ځل بيا کارولي دي.
راځئ د قراردادي سېمبولونه څو ښکلي شاعرانه موقعيتونه د ځوان شاعر مصطفی سالک په يو غزل کې هم وګورو :

بتکده ښه ده، حرم را سره ښه دی
ستا تصوير رقم رقم را سره ښه دی
زمانې ! دا معما خو را ته حل کړه
توره ښه ده، که قلم را سره ښه دی
د سنګسار په تورو کاڼو باندې خوښ يم
حجابونو کې صنم را سره ښه دی
تر ابده زما تنده ماته مه شه
د وصال تړون يې کم را سره ښه دی
څه نسبت خو له لمر مخې سره جوړ شي

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګلابي سترګو کې نم را سره ښه دی     ( سندريزې چينې ۷۸ )
سالک، بتکده، حرم، توره، قلم، صنم، تنده او نور هغه قراردادي سېمبولونه چې پخوانيو هم دهمداسې يوې تداعۍ لپاره کارولي و، يو ځل بيا په نويو شاعرانه شاليدونه کې ښکلې کارولې دي، ښايي ياده يې کړو چې د قراردادي سېمبولونو کارول، که په نويو شاعرانه موقعيتونه کې وي، لکه په تېرو دوو غزلونو کې، په زړه پورې او خوندوره تداعي درلودلای شي.
قراردادي سېمبولونه هم په مشهورو او لږ معمولو ويشلای شو ځينې سېمبولونه خورا سوليدلي او کليشه شوي دي، ځينې يې لا يو څه نوښت درلودلای شي، مګر سېمبول هېڅکله هم هومره نه زړېږي چې له کارولو څخه ووځي. د قراردادي سېمبولونو په اړه مهمه داده، چې له نوې استعاري زمکې څخه را پاڅېږي او د ذهني موقعيتونو له عيني کولو سره په يوه نوي بهير ( پروسې ) کې خپل رول ادا کړي.
فردي (ځانګړي) سېمبولونه:
لکه مخکې چې يادونه وشوه فردي يا ځانګړي سېمبولونه هغه دي، چې د يوه شاعر يا هنرمند له خوا د لومړي ځل لپاره کارول کېږي، د داسې سېمبولونو د تداعۍ او يا پوهېدلو اسانتيا لپاره کله کله شاعر هڅه کوي وړ قرينې هم راولي.
رضا براهني د طلا در مس کتاب په حاشيه کې د نويو سېمبولونو په اړه ليکي: « ځانګړي سېمبولونه د وړانديځ، تداعي او تلقين پر بنسټ په يو څو شعرونو کې د بيا بيا کارولو په مرسته له ځانګړتيا څخه د ټوليز کېدو په لور ځي. سېمبول تل القايي اړخ لري ... شاعر هڅه کوي د علامتونو په مرسته هغه مرموزه نړۍ را وښيي چې ددغو علامتونو تر شا پټه ده.»
(طلا در مس ۸۲ )
ځانګړي سېمبولونه په لومړي ځل کارولو يو څه ابهام له ځانه سره لري خو بريالي شاعران يې په داسې يوه بستر کې روزي چې لوستونکي ته يې کشفول يو بل هنري کيفيت وربښي.
د اروابناد اسحق ننګيال په « بيديا» شعر کې يو شمېر ځانګړي سېمبولونه څېړو، خو لومړی شعر:
بيديا
سپېره بيديا ده په کې پل د بنيادم نشته
يو څو پېريان دي له پرديو غرو را غلي
بربنډ ېږي، ناڅي، ناڅي

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې تياره شي بيا سينې پر خپلو ميندو سږوي
پر خواږه خوب پريوځي
***
د زهرو ونه ده ولاړه
پر بيزو ادې يې سيورى کړى
بيزو د زهرو پرګکې خوري هره ګړۍ ورځنې حمل اخلي
د ورځې د برش، ځلوبښت بچيان زيږوي
د ورځې د برش، ځلوبښت ځوانان شي
بيا قتلېږي
خو بيزو ادې پرګکې خوري
او لګيا ده هره ورځ نوي بچيان زيږوي
پيريان ګډېږي
د بيزو ادې په ويره او پر خواريو خاندي
چې شپه تياره شي
بيا سينې پر خپلو ميندو سږوي
پر خواږه خوب پريوځي
سپيره بيديا ده په کې پل د بنيادم نشته

( سيندونه هم مري ۱۵۸ )

دا شعر پخپل جوړښت کې له موجودو بېلا بېلو ځانګړيو سېمبولونو پرته، د يوې ځانګړې سېمبوليکې زمکې ( زمينې ) خاوند شعر دی. دا څه ډول بيديا ده، چېرته ده، عيني حضور لري که ذهني، ټوليز انځور يې يو ځانګړي جوړښت لري، چې په کې دننه دغه ځانګړي سېمبولونه ګورو:

په سپېره بيديا کې د بنيادم د پل نشتوالی، پېريان، پردي غرونه، بربنډه شي تر سينو سږولو وروسته خوږ خوب، د زهرو ونه، بېزو ادې او د هغې حمل اخيستل هغه هم د زهرو له پرګو څخه ( د برش ځلويښت بچيان زيږول ) او بيا د هغو قتليدل.

د څو شيبو لپاره فکر وکړئ چې دا شعر له کومې پټې پېښې يا بلې ذهني نړۍ څخه استازيتوب نه کوي، نو پوښتنه رامنځته کېږي، چې بيا نو دا هر څه څه مانا؟

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

آیا شاعر یو بې مانا انځور ترسیم کړی دی؟ نه، شاعر له لومړي سره غواړي د یوې ځانګړې پېښې، نړۍ ، ( د اشیاوو د مجموعې) او فکر تمثیل د بېلا بېلو ځانګړیو ( فردي) سېمبولونو په مرسته وکړي.
له پردیو غرونو څخه د پېریانو راتلل سیاسي سېمبول ګڼلای شو ، په دې توګه دا شعر یو سیاسي پیغام لري، کېدای شي شاعر غواړي د خپل رواني تیاتر کومه صحنه انځور کړي، ( د بنیادم له پلونو تشه سپېره بیدیا ) د همداسې صحنې ستېج دی، چې ډېر د ارواښاد مجروح د ځانځاني ښامار زېرنځای ته ورته دی، هلته واړه چینجی یو بل خوري او بالاخره یو یې دومره غټېږي چې په ښامار بدلېږي، دا ښامار په پای کې د ځان په خوړلو پېل کوي.
د اسحق ننګیال په شعر کې هم پېریان پر خپلو میندو سینې سړوي. کېدای شي ننګیال غوښتل د خپل چاپېریال یوه پېښه تمثیل کړي، که تاسو د هغه ارواښاد د «سیوري» ناول لوستی وي، نو درسره مرسته به وکړي، چې ددې شعر سېمبولونه هم وپېژنئ، دا شعر د وژلو ، قتلولو او تیري د کلونو شعر دی. ارواښاد شاعر ددې شعر په اړه له ما ( لېوال) سره اوږدې خبرې کړې وې، زه نه غواړم هغه خبرې سند راوړم، دا به ښه وي چې په خپله شعر په خبرو راولو او خپل خپل تعبیرونه ترې ولرو ، د داسې انځوریزو او د نویو سېمبولونود خاوند شعر کمال او ښکلا په همدې کې ده.
موږ په دې لیکنه کې د شعرونو د تفسیر هوډ نه لرو ، خو غواړم د ځانګړیو (فردي) تصویرونو یو په زړه پورې شعر درو پېژنم.
بیدیا یوه ذهني زمکه ( زمینه) ده، دا ستاسو پام په لومړي سر کې دی ته را اړوي چې وپوهېږئ له څه ډول یوه عیني شوي ذهني چاپېریال سره مخامخ یاست وروسته خوځند سېمبولونه چې په سېمبولیکو کړنو بوخت دي پخپلو منځونو کې یوه ارګانیکه اړیکه لري، یوه پېښه بله رامنځ ته کوي او په دې توګه تاسو د پېښو بهیر هغه ډول تعقیبوئ، چې شاعر غواړي دا چې وروستي شاعران به څومره وکړای شي دغه نوي سېمبولونه تکرار او تولیز کړي، وخت به یې ځواب ووایي، خو وګڼه چې ځینې سېمبولونه هماغسې ځانګړي پاتې کېږي.
څومره چې ما څېړلې ارواښاد اسحق ننګیال په اوسمهالیو پښتنو شاعرانو کې د فردي سېمبولونو د ایجاد تر ټولو مخکښ او بریالی شاعر دی، راځئ د هغه یو بل شعر هم را اخلو چې د فردي سېمبولونو بېلګې په کې ومومو :
کب

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیند لا همغسې
ځپاند روان دی
او دا سپین ږیری جاله وان
خدایزده
پر کومې دې شګلنې غاړې
خوب وړی دی، نه ویښېږي
سترګه مې ورپېده
او ستا د کور کوتره راغله
ستا راکړی ګل یې
زما شملې نه یووړ
زه پوهېدم چې
نن به دا سپې وشي
او نور به هېڅکله
درونه رسمه!
بېګا مې خوب کې
له لاسونه ځنې
کب لویدلی (سیندونه هم مري ۱۴۵)

له لاسونو لویدلی کب په داسې یوه رواني چاپېریال کې ځانګړی سېمبول دی، چې په دې شعر کې آن د یو شمېر قراردادي سېمبولونو (لکه: راکړی ګل، شمله، سیند او نور) هم په نوي او ځانګړي شاعرانه چاپېریال کې له ځانه سره نوي کوي. سپینږیری جاله وان او د ورکړي ګل وړل د کور د کوترې په وسیله هغه ځانګړې سېمبولیکې پېښې دي، چې دغه شعر ته یو فردي هنري کیفیت ببښي.
راځئ د ځوان شاعر ښاغلي نور محمد لاهو په دې شعر کې د «سپي» خورا ځانګړي سېمبولیک کرکټر وګورو:

درې پوښتنې

سپیه! له څه نه زیات ځورېږې؟

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

وې: د خپل قام له ځانځانۍ نه
مورکۍ دې شته ده؟
هو خو اوس مې پېژني هم نه
او پلار دې څوک و؟
د خپل مطلب یو مسافرو
زما د ښکلې نطفې تخم یې
وکرلو په کوڅو کې
او خپله لاړو (بلال په وینو کې۲۲)

د نویو سېمبولونو د ایجاد څرنګوالی:
د نویو سېمبولونو په رامنځ ته کولو کې ښايي هڅه وشي مناسب چاپېريال ورته جوړ کړای شي د همداسې یوه چاپېریال په مرسته کولای شو سېمبول ته عمومیت او د قراردادي کېدو توان وروبښو. د فرانسې د نامتو سېمبولست شاعر ما لارمه په اړه ویل کېدل، چې په شعرونو کې یې سېمبولونه تعقیدي دي او یوازې دده او دده د شعرونو ترمنځ پاتې شوي دي، په شعر کې هغه فضا او چاپېریال نشته، چې د سېمبول له بشپړې تداعې کوونکې پازې (وظیفې) سره مرسته وکړای شي.
ژان پل سارتر د « هنرمند او د هغه مهال» په کتاب کې په راغلې مقالې (کلېمات) کې لیکي ، چې بېشکه ما لارمه د فرانسې لوی شاعر دی خو ما هم خپل ډېر وخت د هغه پر شعرونو د پوهېدو لپاره تېر کړی دی، ګواکې هغه په (Hermentisme) (د کلام عمدي تعقید) باندې اخته دی. د داسې یوه تعقید (غوټه اچولو) یوه بېلګه تاسو مخکې د اروانباد اسحق ننګیال په «بیدیا» شعر کې ولیده.
د نوي سېمبول ایجاد د شعر او شاعرۍ یو تخنیکي کار دی خو د سېمبول مانا د شعر په منځپانګه او ټولیزې مانا پورې اړه لري.
بریالي شاعران هڅه کوي د انځور جوړونې یا لږ تر لږه روښانه قرینو په مرسته نوي سېمبولونه معرفي کړي او ځان له تعقید څه وژغوري.
موږ به په دې اړه د پښتو د نوي پېر د شاعرۍ یو شمېر بېلګې هم وڅېړو خو تر هغه مخکې راځئ د وړ شاعرانه چاپېریال په اړه د پیاوړي کره کتونکي رضا براهني څرګندونې ولولو:

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

« يو عاشقانه سېمبول، کېدای شي د مينې د عاطفې د يوه ځانګړي اکر ويانډ (ژبه) او سي لکه هغه ځېزونه چې مينان يې يو بل ته ورکوي. دغه ځېزونه او آن کلمات هغه ځانګړي سېمبوليک مفاهيم چې مينانو ته يې لري ښايي نورو ته يې ونه لري، مګر دا چې د مينې او مينانو يو ځانګړی چاپېريال جوړ کړای شي، چې بيا نور هم دهغوی سېمبولونه د عمومي عشقي سېمبولونو په توګه وپېژني او ويې مني. د سېمبول د مفهوم ټوليز کېدل له دې ځايه را پېل کېږي، چې سېمبول له خپل محدود مفهوم څخه وټوليز کېدو ته وخوځېږي او هغه يو څه قراردادي، رسمي او عرفي کړای شي.» (طلا در مس ۲۴۵)

د ذهني سېمبولونو عيني کېدل هم يوه هنري هڅه ده، چې د سېمبولونو په پېژندنه، ټوليز کېدو او بالاخره قراردادي کېدو کې مرسته کوي. ذهني سېمبولونه هغه دي، چې د يوه ذهني انځوريز جوړښت استازيتوب وکړي او ددې جوړښت ټول توکي (اجزا) او خوځنده اړيکي يې يوازې په ذهن کې پېښېدای شي. حال دا چې په عينيت کې ښايي موږ د خپل فزيکي چاپېريال توکي وليدای شو او د هغو په مرسته د ذهني سېمبولونو په پوهېدلو بريالي شو.

رضابراهني فکر کوي، چې د سېمبول جوړونې بهير له اشياوو څخه پېل کېږي او په حقيقت کې همدا اشيا دي، چې يا ذهني او يا هم عيني ماهيت لري.

دده په نظر مالارمه يو له هغو شاعرانو څخه دی، چې د ذهني اشارو په مرسته ځانګړي سېمبولونه د لوستونکي لپاره عيني يا حسي کوي او ګواکې دا کار د بېلا بېلو استعارو په مرسته کوي.

دلته موږ د انځور او سېمبول تر منځ اړيکو ته تم کېږو:

شعري انځورونه ډېر ځله د سېمبولونو په مرسته خپل هنري ارزښت زياتوي په حقيقت کې انځورونه هغه مناسبه زمکه يا بستر دی چې د سېمبول اړوندې ماناوې د يوه منظم جوړښت په مرسته د درک وړ ګرځوي.

راځئ يو څو بېلګې وګورو:

د اروابناد د اسحق ننګيال د يوه شعر دا برخې وګورئ)

چا مې دمات، زخمي زخمي
او مړاوې شوي خوب تعبير ونکړ
چې مې د اوښکو د ګلونو نندارې ته
ددې لرې وطنونو له باغونونه

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شاتو مچۍ ولې راځي؟

***

چا مې د زړه د وينو سين کې
وينې څښونکي کبان ونه ليدل
چې يې د مستو خنداګانو
او پېالو له کړنګهار نه يې
دې لوی کلي او ټول وطن ته خوب نه ورځي

***

چا د آسمان له چاودې زړه
زخمي سينې
او له ويرجنو سترګو ونه پوښتل
چې د سپوږمۍ ناوې
د هسک د واټ په منځ کې
د شهيدو ستورو وينو نه
پر مخ ولې خالونه ايښي؟
او شپو ته بولي
د اسمان د طلايي بڼ
د هر ګل او سرې غوټۍ
د زړه چاودون او شهادت کيسې ( سيندونه هم مري۲۱ )

دې شعر د فرعي سېمبولونو تر څنګ يو لوی سېمبول په ځان کې نغښتی دی دا د شاعر ( زه ) او د افغانستان ( مور ) دی ښايي په خپله افغانستان دی چې په بېلا بېلو پاړکو کې بېل بېل سېمبولونه د هغه استازيتوب کوي.

خو هغه څه چې په دې شعر کې ډېر د پام وړ دي، هغه انځورونه دي، چې لوی (اصلي) او فرعي سېمبولونه عيني کوي. د انځورونو لويه برخه ذهني دي. مات او زخمي خوب، د اوښکو د ګلونو ننداره، د زړه د وينو سين، د اسمان چاودې زړه او د آسمان ويرجنې سترګې، د سپوږمۍ ناوې او داسې نور ذهني تصويرونه، له دې سره عيني تصويرونه هم له ذهني هغو سره، د هنري منطق له مخې يوه په زړه پورې سمفوني يا توازن رامنځ ته کوي، د لرې وطنونو له باغونو څخه د شاتو د مچيو راتلل، وينې څښونکي کبان، د پېالو

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګړنګهار، لوی کلی، وطن او نور د عیني انځورونو ښېلګې دي. خو له آره د شاعر پیغام، د شاعر پوښتنه او د شاعر مرام سېمبولیک دی، هېڅ ځوک ګواکې د شاعر پوښتنو ته ځواب نه وايي، شاعر د ( زه ) او بلکې ( مورې ) په اړه پوښتنې کوي، شپه، وينې، زخمونه، شهيد ستوري، زړه چاودون او شهادت هغه استعاري مفاهيم دي چې مورې د شعر پټ او اصلي سېمبول ( يا سېمبوليک پيغام ) ته ور نږدې کوي او د مانا وو په تداعي کې مرسته را سره کوي. غواړم په دې برخه کې د ارواښاد اسحق ننګيال يو بل په زړه پورې شعر هم ښېلګه کړم:

بيا د اسمان دروازې ښېرته شوې
باران دی چې ورېږي پسې
خو د سرو وينو باران
زمکه شوه ټوله سر تر پايه پر چينو بدله
د سرو لمبو په چينو
دنيا مو ټوله په ناپايه سمندر واوښته
***
«نوح» بيا دعا د مرګ
د وخت د ګناکارو کړی
مورې ګناکار چېرته يو ؟
نه خو مو چا ته ليوني ويلي
نه مو پېريان د چا د عقل غله ګڼلي چېرته
خو ځو ډوبېرو بېګناه
د سرو اورونو د موجونو سين کې
اې د «جودي» پر غرونو ناستې
زمورې د «نوح» ښېړې
مورږه په خپله ليوني يو
او پېريانو رانه عقل وړی
لاس راکوې او که نه؟ ( سيندونه هم مري ۸۵ )

ددې شعر د اصلي سېمبول پېژندل اسانه دي، « نوح» د نجات او ژغورنې سېمبول دی چې بايد د شاعر بېګناه « مورې» ته د ژغورنې لاس ورکړي او پرې يې نږدې چې د لمبو او سرو وينو په سيلاو کې ډوب شي. دا شعر مورې ته دا رازده کوي، چې د نويو سېمبولونو د ايجاد

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

لپاره ځنګه له انځوريزې او تمثيلي زمينې څخه کار واخلو. د شاعر کمال او توان په دې شعر کې د برياليو انځورونو او تمثيلي خوځښتونو ايجاد دی.
تشبيهات او استعارې د سېمبولونو په روښانولو کې هغه ونډه لري، لکه په بحث يا استدلالي نثر ليکنه کې يې چې د مثالونو ارائيه کول لري. د تشبيهاتو او استعارو اړيکې له سېمبولونو سره ډېرې د پام وړ او يو څه پېچلې هم دي. تشبيهات مرسته کوي، چې موږ هم سېمبولونه وپېژنو او هم يې د استدراک له پړاوونو څخه هنري خوند واخلو . د همدې لپاره زه فکر کوم، د نويو سېمبولونو د ايجاد پر مهال ښايي د تشبيه او استعارې بيان له ځواکه مرسته وغواړو ، راځئ د درويش دراني يو بيت وشنو :

لکه مرهم چې ځنګه ځړيکې له پرهاره باسي
داسې به دوی هم ظالمان له خپله ښاره باسي

( ستوري په لمن کې ۲۵۱ )

دا بيت ټول تشبيهي بيت دی او لومړی سره له دوهمې سره د مشبه او شبه به اړيکه لري خو ( دوی ) داسې يو سېمبول دی چې موږ يې د سترګو په رپ کې د تداعي لټه پېل کوو. ( دوی ) يوازې د يو شمېر خلکو لپاره اشاري ضمير نه دی، بلکې يو ټېنګاري ( تاکيدي ) مفهوم لري چې ټول بيت ته يې ځانګړې کيفيت وربښلی دی.
د شاعر ( دوی ) د يوه عادي متکلم ( دوی ) نه دی، شاعر غواړي د «دوی» د کلېمې تر شا ټول هغه څه را برسېره کړي چې دده هدف دی او موږ ورپسې ګرځو.
بله بېلګه:
عبدالله پېکار وايي:

دغه ګلان چې رنګ د لال لري نګهت نلري
د ښکلېو زړونه دي د مينې حرارت نلري ( راز ۱۲۲ )

شاعر د ښکلېو زړونه له هغو ګلونو سره تشبيه کړي چې د لال رنګ لري خو نګهت ( خوږ وږم ) نلري، ځکه چې دا زړونه د مينې حرارت نلري. ( د ښکلېو زړونه ) سېمبول دی او د ښکلېو د ټول ماهيت استازيتوب کوي، د ټولې مينې او د مينې د کمرنګۍ او سوړوالي، د مينې له داسې جوهر څخه چې نه خوږوږم لري او نه حرارت. دلته د شاعر تشبيهي هنر د سېمبول د ځلولو او روښانولو لپاره کاريدلی دی.
د نويو سېمبولونو په ايجاد کې دا هم مهمه ده، چې هماغه فکري پروسه له لوستونکي سره شريکه شي چې د شاعر له خوا د سېمبول ټاکلو پرمهال رامنځته شوي وي.

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا په دې مانا ، چې له اجزاو څخه ورو ورو کلي مفهوم ته ځان ورسوو او یا هم که له کلي مفهوم څخه یې پیلوو ښایي په تدریج سره اجزاوو ته ورشو او د رواني تلوسې په دننه کې له لوستونکي سره د سېمبول د تداعي په پړاوونو کې ملګري پاتې شو.
یوه بېلګه به له موږ سره مرسته وکړي ، چې له دې اړخه د نویو سېمبولونو د ایجاد پړاوونه وپېژنو ، د احمد تکل ( نجلۍ ، ټکه او میړني ) شعر وګورو :

تندر را کوز شو
او غرور رپیده
په نجلۍ هېڅ ونشول
تندر را کوز شو
( مېړنیو ) اورمېږونه ټېټ کړل
خو دا لا هسکه غاړه لمر ته ګوري
تندر را کوز شو ، ټکه ولویده ، غرور رپیده
او مېړینو د نجلۍ جنازه
په خپلو ټېټو اورمېږونو یووړه
او اورمېږونه نور هم ټېټ ښکاره شول
خو ....
دا لا هسکه غاړه
لمر ته ګوري                    ( کرونده ۲۲ )

په دې شعر کې کلي سېمبولیک مفهوم « هسکه غاړه لمر ته کتل» دي، خو شاعر یې په پوره بریالیتوب سېمبولیک توکي شرحه کوي، د تندر کوزیدل، د غره رپیدل، د میړینو کوز اورمېږونه، یو ځل بیا د غرونو د رپیدو تکرار او بیا د جنازې یادول او بالاخره لوستونکي په یوه چمتو شوي ذهن کلي انځور ( او په کې لوی سېمبولیک مفهوم ) ته ور رسېږي.
هر (شی ) یو ټولیز یا ګډ تاریخ لري، ټولې هغه ذهني خاطرې چې د یوه شي په اړه د یو شمېر وګړیو په ذهنیت کې شته په حقیقت کې د هغه (شي) تاریخ جوړوي، هر نوی سېمبول له همدغه تاریخ څخه رېښه اخلي. بریالي شاعران ښایي دې ته ځیر وي، چې هغه ګډ اړیکي، چې د هغو لوستونکي یې د اشیاوو له تاریخي پېژندنې سره لري، څومره کولای شي د سېمبول په پېژندنه، او تداعي کې مرسته وکړي کارل ګوستا ویونګ لیکي:

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

«ګڼ اشیا د انساني پوهې تر شا شته، موږ د هر ځله سېمبولیک اصطلاحات کاروو چې یو شمېر مفاهیم روښانه کړو، داسې مفاهیم چې موږ یې تعریف نلرو یا یې بشپړه نه پېژنو»
(یونګ ۲۴)
د یونګ له دې خبرې پوهېدای شو چې ځېنې اشیا کاملاً ذهني شتون لري او کېدای شي ټولیز ذهني شتون ولري. د اشیاو ګډه تاریخ په دواړه ذهني او عیني اشیاوو پورې اړه لري.
راځئ دا مسئله په یوه بېلګه کې روښانه کړو:
درویش دراني وایي:
د شاه قاتل یې ویوست تر پلو لاندې بهر
دلبره وه، دلبره وه، دلبره یوه شپه (ستوري په لمن کې ۲۰۹)

کوم (شاه)؟ او کوم (قاتل)؟ درویش په خپله ځواب نه وایي، خو موږ پخپل ذهن یا لږ تر لږه لرغونې ناخوداګاه کې په دې اړه کوم څه لرو، دا (شاه) پېژنو او (قاتل) یې هم او دا هم له شاعر سره منو، چې د قاتل ژغورنکې شپه دلبره ده. ایا څوک به داسې هم وي، چې وو ایي د درویش دا بیت ابهام لري؟ که د ډېرو کتونکیو ځواب (نه) وي، بیا خو زموږ پیاوړی شاعر هماغه کار کړی، چې مخکې ورته اشاره وشوه. مانا دا چې شاعر دې ته ځیر دی، چې د خپلو سېمبولیکو اشیاوو ګډه ذهني تاریخي اړیکه یې سمه پاللې ده.
د پښتو شاعرۍ په اوسمهالي بهیر کې زموږ ځوانو شاعرانو د نویو سېمبولونو د ایجاد دغه ځانګړنې په پام کې نیولې دي، په تېره بیا د آزادې شاعرۍ د ګڼو مخکښانو په شعرونو کې داسې نوښتونه لیدل کېږي.
دنویو سېمبولونو د ایجاد لپاره د نړیوالو ادبي بېلګو د لوستنې تر څنګ د ټولنیزو، سیاسي او فرهنګي پرمختګونو اغېز هم د پام وړ دی اوس به راشو دې ته چې څنګه د ټولنیز چاپېریال بدلون د نویو سېمبولونو د رامنځته کېدو او ودې لامل ګرځي:
سیاسي بدلونونه:
دنولسمې پېړۍ له پای ته رسیدو او د شلمې پېړۍ له پېل سره یو شمېر سیاسي مفاهیم ادبیاتو او شعر ته ننوتل: خپلواکي، پرمختګ، ویښتیا، روښانتیا، مشروطیت، عدالت، برابري، د ښځو حقونه، پوهنه او نور داسې مفاهیم په لومړي سر کې وچ او بې خونده، مګر د مهال د یوې اړتیا په توګه په شاعرۍ کې لرو بر کېدل، خو همدا چې افغان شاعرانو د داسې یوه نړیوال بهیر تجربې ترلاسه کړې، چې همداسې یو همزولی سیاسي بهیر هنري

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي او همدا پیغامونه د سېمبولونو او رمزونو په مرسته تمثیل کړای شي، دلته نو یو شمېر بدلون خوښوونکو شاعرانو د هنري بیان داسې اړتیا ته پام وکړ او خپلې لومړۍ تجربې یې پېل کړي، د شلمې پېړۍ د لومړۍ نیمایي ځینې را پیلوونکي شاعران دلته په افغانستان کې راوانښاد استاد بېنوا، استاد الفت، استاد خادم، استاد پژواک، پوهاند مجروح، سلیمان لایق، استاد حبیب الله رفیع، پوهاند زیار او نور دي.
تر دوی وروسته چې سیاسي بدلونونه لا پسې ډېر او رنګارنګ شول د سېمبولیستو شاعرانو یو بل نسل هم را وپنځېده، د ډیموکراسۍ ، سرو شنو انقلابونو او بیا وروسته جګړو په بهیر کې دا نسل پوخ شو او له ځانه سره یې پښتو شاعري هم پخه کړه. جګړه او د جګړې په وړاندې جګړه زمونږ داوسمهالي ادب یوه لویه ځانګړنه ده.
له جګړې څخه د کرکې د نسل په شاعرانو کې دنویو سېمبولونو ایجاد ډېر تر سترګو کېږي، ګڼ سېمبولونه داسې دي چې آن په نړیواله کچه د جګړې په وړاندې د بشري پروتست (اعتراض) ښېسارې ښېلګې یې ګڼلای شو. دا نسل له نیکه مرغه ګڼ شمېر لري چې د ټولو نومونه یې دلته نشو یادولای خو څو سر لارې یې، اروانښاد اسحق ننګیال، عبدالباري جهاني، درویش دراني، رحمت شاه سایل، عارف خزان، پیر محمد کاروان او نور یادولای شو.

ټولنیزه ویښتیا:
افغانستان په شلمه او یویشتمه پېړۍ کې د جګړو کډوالیو اوناوړه پېښو شاهد و، خو ددې ټولو تر څنګ د پرمختیا، تمدن، نویو هنري تجربو د سیلاو څپې دغه هېواد ته را ورسېدې او د خلکو په ذهنیت کې یې د ټکرونو یو عجیب توپان رامنځ ته کړ، له یوې خوا د ښېلا ښېلو حاکمیتونو دجګړه مارو، مستبدو او بې رحمه ټوپکوالو درو بڼ و، او هغه د چا خبره چاله ډاره سوڼ نه شو ایستلای او له بلې خوا خلکو د حقیقتونو په پوهېدلو سره غوښتل د خپلو زړونو او فکرونو غږ پورته کړي.
شاعران، چې د خلکو له منځه راپورته کېدل، د خلکو د فکرونو او زړونو د غږونو پورته کول یا لږ تر لږه په دې اړه څه ویل یې خپل رسالت ګاڼه نو په شعرونو کې یې سېمبولونو ته پناه وړله. سانسور، اختناق، ډارول، د مرګ د هرې شیبې رواني حضور، شاعران مجبور

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړل چې سېمبولونو ته پناه يوسي، خپل افکار او د زړه خبرې د سېمبولونو تر شا پټې کړي، د اروابښاد استاد مجروح ( ځانځاني ښامار)، (د وطن د مور خرڅلاو)، د هغه د مستبدو کرکټرونو تمثيل ددې دورې د اختناق زېږنده دي، که څه هم زموږ دغه ستر سېمبوليست خپل ټول هنري ايډيالونه د سېمبولونو په مرسته وړاندې کول، خو موږ ټول پوهېږو، چې ټوپکوال مستبدين يې پر سېمبولونو پوهېدل، ځکه خو يې شهيد کړ. په شعر او هنر کې د سېمبولونو زور همدومره دی.

له ټکنالوژۍ، پوهې، تمدن، عصري افکارو او سياسي بدلونونو سره د ټولنيز شعور پراختيا زياتېږي. د ټولنيز شعور پراختيا د (ويېونو)، ( مفاهېمو)، ( بيان) او ( سېمبولونو ) لويې زيرمې ته اړتيا لري.

اوس نو په يوه کلي کې د کاريدونکو کليماتو زيرمه (Vocabulary) کافي نه وه، ( که څه هم زموږ ځينې شاعران او ادبي کره کتونکي د ژبې په اړه په بحثونو کې ګيله کوي، چې ولې يوازې د کلي کور اصطلاحات نه کارول کېږي، حال دا چې د اوسنۍ نړۍ ټول مفاهيم په شل ـ پينځه ويشت زره ويېونو کې نه شي رانغاړل کېدای).

همدې پراختيا له شاعرانو سره مرسته کوله ( او يا يې هغوی اړ کول) چې نوي سېمبولونه رامنځ ته کړي او د خپلو افکارو په تمثيل کې دماناوو له نوي تداعي څخه مرسته وغواړي.

دې ټولنيز پرمختګ د نويو سېمبولو له ايجاد او دودکېدو سره مرسته وکړه. د بېنوا (رنځور) د الفت ( زنداني)، د لايق (توپان، چونغراوساحل) د استاد مجروح ( ښامار) د جهاني ( سبزه کوب، کښتۍ، درياب) د ننګيال ( غر، سيند، کب) د کاروان (چنار) او نور سېمبولونه د داسې بهير پېژندل شوي او ټولمنلي سېمبولونه دي.

که تر يادو شاعرانو را تېر شو، زلميو شاعرانو بيا په دې برخه کې نورې تجربې هم وکړې او دومره برياليي سېمبولونه يې رامنځ ته کړل، چې د پښتو اوسمهالی ادب يوه په زړه پورې زيرمه يې ګڼلای شو.

نوې ادبي تجربې:

په تېرو لسيزو کې د افغاني ادبياتو او بهرنيو هغو تر منځ نوي پلونه رامنځ ته شول. د بهرنيو ادبياتو يو شمېر ژباړې او له نورو ژبو سره د افغانانو بلدتيا ورو ورو له نويو ادبي هڅو سره اشنايي زياته کړه. په وروستيو کلونو کې د ويبسايټونو، انټرنت او کمپيوټر کارونې افغانان په نړيوال کلي ورګډ کړل، دې ټولو، افغان شاعران له نويو نوښتونو سره

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

اشنا کړل. د ادبي تیوري، بېلا بېلو هنري بحثونو او ادبي لیکنو او لوستنو زیاتېدلو هم زمونږ لیکوال او شاعران له مدرنو ادبي مسایلو سره اشنا کړل، په شعر کې د کلاسیکو بلاغي صنایعو تر څنګ نوي مفاهیم (انځور، سېمبول، اسطورې، د ژبې هنري ارزښت، ایماژ، لنډون او نور) دنویو شاعرانو لپاره د پام وړ نومونه شول او په دې توګه موږ وینو چې پښتو شعر له دې اړخه د خپل پرمخیون یوه نوي پړاو ته ننوت.

## پایله:

تر هر څه وړاندې موږ وینو، چې سېمبولونو د بشري تاریخ په بېلا بېلو پړاوونو او بشري نښو کې ځان را څرګند کړی دی. د لرغونیو انسانانو په عقایدو، باورونو، آثارو او فرهنګي میراثونو کې د ډېرو ( نښو ) او سېمبولونو څرکونه لا تر اوسه له تاریخپوهانو او لرغونپوهانو سره مرسته کوي، چې لرغوني وپېژني.

له همدې امله ادبیاتو، چې د بشریت د غوښتنو هیلو اوګډو عواطفو هنداره ده، د سېمبولونو ډېرې نښې خوندي کړې دي.

په شعر کې سېمبولونو، له پخوا زمانې څخه، مهم او په زړه پورې ځای درلودلی دی، خو په نولسمه پېړۍ کې د سېمبولېزم د مکتب له رامنځ ته کېدو سره ددغې فکري ـ هنري پدیدې ونډه لا پسې وځلېده او په شعر کې یې د یوه جوړښتي توک ( عنصر ) په توګه خپل ځای زبات کړ. د ادب تیورۍ پوهانو د سېمبول په اړه یو شمېر څېړنې کړې دي او د نویو ادبیاتو په بهیر کې یې د ټولو ژانرونو، په تېره بیا شعر یو مهم معنوي توک ګڼلی دی.

سېمبول د نښې یا نښانې په مانا هغه لنډمفهوم دی، چې د یوې پراخې ذهني شوې مانا استازیتوب وکړای شي. د سېمبول کلمه له یوناني سوم بولون څخه اخېستل شوې ده چې د دوه بېلو ټکیو د سره نښلولو مانا لري.

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

په نړیوالو شهکارونو او لویو شعري اثارو کې سېمبولونه خپل ځانګړی ځای لري او په پښتو ادبیاتو کې هم لا له پخوا څخه کارول شوی دی. د پښتو شاعرۍ په کلاسیکه زیرمه کې موږ هم د مانا له اړخه او هم د سېمبولونو د شکلي کارونې له نظره ددغه ادبي مفهوم بېلا بېله او رنګارنګه کاروونه موندلی شو. په حماسي، عرفاني، تغزلي او لیریکو، اشعارو کې ګڼ داسې قراردادي او نوي (انفرادي) سېمبولونه موندلای شو، چې موږ ته په کلاسیکه دوره کې هم د سېمبول اهمیت او د استفادې په زړه پورې بېلګې را په ګوته کوي.

موږ په دې اثر کې داهم ولیدل، چې سېمبولونه ولې ادبیاتو په تېره بیا شعر ته لاره مومي، لومړی خو سېمبولونه د انساني اروا له ناخوداګاه سره نږدې اړیکې لري، د همدې لپاره د خوبونو په تعبیر کې هم له هغو رواني سېمبولونو څخه ګټه پورته کېږي، چې په خوب کې شته. شعر له خوبونو، خیالونو، عواطفو او بشري احساساتو سره پیوند لري، او د شعر په نوې پېژندنه کې په دې تاکید کېږي،چې د شعرونوالهامي او شهودي سرچینه په حقیقت کې دهماغو عواطفو، افکارو، غریزواو احساساتو له بیا فوران څخه راځي، چې په لاشعور کې زیرمه شوي دي.

باور داسې دی چې دغه عواطف د سېمبولونو په وسیله د شعورساحی ته رالېږدول کېږي او شعر ته هم له همدې ځایه لار مومي. له دې پرته په ټولنیز ژوند کې هم انسانان یو د بل د پوهاوي لپاره له سېمبولونو څخه کار اخلي. ژبه پخپله د قراردادي سیمبولونو یوه مجموعه ده، ځکه خو د شعر دجوړښت تهداب هم ژبني سېمبولونه دي.

اروا پوهنې د یوه نوي علم په توګه د انساني اروا دغه ځانګړنه بشریت ته معرفي کړه، ځکه خو په نوي (مډرن) ادب کې سېمبول ورځ په ورځ زیاتېدونکی اهمیت وموند‌ه، تردې بریده چې د سېمبولیزم معاصر ادبي – هنري مکتب یې را منځ ته کړ او په را وروسته ادبي مکتبونو یې هم خورا ژور اغېز پرېیوست.

پښتو او سمهالی (معاصر) شعر چې له نړیوالو افکارو او اثارو سره د اشنایي له برکته یوه نوي پړاوته ورننوتی و، په شعوري توګه یې سېمبولونو او د سېمبولونو استفادې ته ځانګړی ځای ورکړ. د ویښتیا د پړاو ادبیاتو د دوو لاملونو له مخې پر سېمبولیکه ژبه تکیه وکړه، لومړی د هغې هنري – ښکلاییزې اړتیا له مخې چې نویو ادبیاتو ورته اړتیا درلوده او دوهم ددې لپاره ،چې د هرو داسې معاصرو غوښتنو او هیلو شعر ته لاره موندلې وه، چې په وروسته پاتې افکارو کې یې مخالفت کېده، ځکه خو شاعرانو او هنرمندو

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ادیبانو د مخامخ بیان پر ځای خپل افکار په سېمبولیکو ویناوو کې وپېچل، مګر د ټولیز شعور په را ویښولو کې یې خپله دنده ترسره کړه.

معاصرو پښتنو شاعرانو، د ټولیز بدلون، پرمختګ، اصلاحاتو او ټولنیزو ناخوالو د څرګندولو لپاره دوه لارې ونیولې، یو خو یې دغه ارزښتونه په شعر کې ځای پر ځای کړل او له بلې خوا یې د شعاري کېدو، ابتذال او وچ بیان د مخنیوي لپاره هنري پسول ته پاملرنه ډېره کړه، چې دواړو لارو سېمبول کارونې ته اړتیا درلوده په دې توګه موږ وینو، چې په معاصر پښتو شعر کې د اړتیا او هنریت پر بنسټ نویو یا فردي او همدا راز قراردادي سېمبولونو او یا هم د قراردادي سېمبولونو کارونې په نوي شعري زمینه او چاپېریال کې له ډېرې رنګارنګۍ او ښکلاییزو ارزښتونو سره مل منظم او اګاهانه پرمختګ کړی دی.

زموږ ددې څېړنې په بهیر کې دا څرګندېږي ،چې په شعر کې ( په تېره بیا نوي شعر کې ) سېمبول یو د پام وړ هنري عنصر او ارزښت دی چې ښایي د پېژندلو او کارونې لپاره یې نور ګامونه هم پورته کړای شي.

## وړاندیزونه:

په شعر، هنر، ادبیاتو او بشري اړیکو کې د سېمبول اهمیت او ارزښت ته په کتلو سره به ښه وي ددغې څېړنې په پای کې دغه ټاکلي وړاندیزونه مطرح کړو :

۱ـ ترديې وروسته د ادب تیورۍ په بحثونو او څېړنو کې ددغه هنري –ادبي عنصر ( سېمبول) د لا پېژندنې او کارونې لپاره ښایي علمي بحثونو ته تر ځانګړیو سرلیکونو لاندې ځای ورکړل شي. په تېره بیا په پښتو معاني او ادبي څېړنو کې ښایي د سېمبول او سېمبولیکو اثارو ارزښت ته پام ډېر شي.

۲ـ د پښتو ادبیاتو په تدریسي بحثونو کې ښایي د نویو ادبي مفاهیمو او عناصرو په لړ کې د سېمبول او سېمبولیزم تحلیل او شننه لږ تر لږه د یوه ځانګړي لوست په توګه شامل شي، څکه څوان محصلان او ادبڅېړونکي له دې لارې څخه کولای شي د نړیوالو اثارو په پېژندنه او درک کې لا پسې بریالي ګامونه واخلي او له بلې خوا د خپلې ژبې د اثارو په پرتلیزه ارزښتموندنه کې نوي بحثونه مطرح کړي.

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳ـ د یوې ځانګړې څېړنې په ترڅ کې ښايي دا څرګنده شي ،چې د پښتو ادبياتو په زړه او نوې زيرمه ( په تېره بيا معاصرو اثارو ) کې سېمبوليک اثار کوم دي او نامتو سېمبولستان څوک ګڼلای شو ، دا څېړنه کېدای شي يوازې په شاعرۍ کې نه، بلکې په داستاني ادبياتو ، طنز، ډرامه(تياتر) او نورو ځېلونو (ژانرونو ) کې هم وڅېړل شي.
۴ـ د نړۍ په سطح دنامتو سېمبوليستانو اثار يا د اثارو بېلګې کولای شي له موږ سره ددغه هنري – ادبي مکتب په لا پېژندنه او د جزياتو او رموزو په کشف کې مرسته وکړي، ځکه خو که په ځانګړې توګه پښتو ته د لويو سېمبوليستانو آثارو ژباړل شي زموږ پر فرهنګي زيرمه به يوه په زړه پورې اضافه وي.
په همدې ډول په پښتو ادبياتو کې د سېمبوليکو اثارو پېژندنه او بيا يې نړيوالو ژبو ته ژباړه هم خورا ګټور برېښي، چې نړيوال وپوهولای شو، چې افغاني ادب هم په دې برخه کې په زړه پورې اثار لري، او پښتانه هم د بشريت پر ګډ فرهنګي ميراث څه ور اضافه کولای شي.
۵ـ يوې ځانګړې څېړنې ته اړتيا شته، چې موږ څنګه کولای شو د ټولنيزې اصلاح، ويښتيا ، روښانتيا او بالاخره د ټولېز شعور د ودې په پايله کې د يوه ريښتني بدلون په راوستلو کې د هنر او فرهنګي هڅو په مټ له سېمبول او سېمبوليزم څخه کار اخېستلای شو ، ځکه د نولسمې پېړۍ په اروپا کې سېمبوليستانو د عامه ذهنيت په بدلون او رهبرۍ کې د پام وړ ځای خپل کړی و.
۶ـ وروستی وړانديز مې دادی، چې - که څه هم ما په دې څېړنه کې تر خپله وسه خواري کړې ده- خو باور لرم چې ډېر څه را څخه پاتې دي او په دې هم باور لرم چې په خپلو شننو او قضاوتونو کې به ښوېيدلی او تېروتلی يم که نورو دوستانو- په تېره بيا ځوانو څېړونکيو – زما دغه نيمګړی کار بشپړ کړ او زما تېروتنې يې را سمې کړې، پر پوهې او ادبياتو به يې احسان کړی وي.

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخځونه :


۱.انصاري، میرزاخان: د میرزا خان انصاري دیوان، پښتو ټولنه، **۱۳۵۴**ل، کابل.
۲.بارکزی، حنان: د حنان بارکزي دیوان، پښتو ټولنه، **۱۳۳۲**ل، کابل.
۳.براهني، رضا: طلا در مس، کتاب زمان، **۱۳۴۷**ل، تهران.
۴. بېنوا، عبدالروف : دهسک پېغله، د افضل ټکور په زیار، د افغانستان د لیکوالو انجمن، **۱۳۶۷**ل. کابل.
۵. پرتوي، مهدي : زیبایي شناسي نوین، ( د ببلا ببلو لیکوالو د مقالو ژباړه )، کمېټه دولتي طبع و نشر، **۱۳۶۳**ل، کابل.
۶.پیکار، عبدالله: راز، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه – جرمني، **۱۳۷۹**ل، پېښور.
۷.تکل، احمد : کرونده، د افغانستان د لیکوالو انجمن، **۱۳۶۹**ل، کابل.
۸. جهاني، عبدالباري : د پښتو په سر او تال کې د غربي سندرو شرنګ، له انګلیسي ادبیاتو څخه ژباړه، نارنج خپرندویه ټولنه، **۱۳۸۶**ل، کندهار.
۹.خټک، خوشال خان: دستار نامه،


Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۰ـ خټک، خوشال خان: دخوشال خان خټک کليات، د عبدالقيوم زاهد مشواني په زيار، دانش خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۷ل، پېښور.
۱۱ـ دانته، اليګيري: کمدي الهي، لومړی ټوک (دوزخ)، د شجاع الدين شفا فارسي ژباړه، انتشارات امير کبير، ۱۳۸۴ل، تهران.
۱۲ـ دانکين، اريک فون: در جستجوی خدايان باستان، د مهرد داد شاهين ژباړه، نګارستان کتاب، ۱۳۸۵، تهران.
۱۳ـ دهخدا، علي اکبر: لغت نامه، موسسه لغت نامه دهخدا، د تهران پوهنتون انتشارات، ۱۳۷۷ل، تهران.
۱۴ـ رحمن بابا: کليات رحمن بابا، اردو ترجمه، پروفيسر طه خان، پښتو اکاډمی پېښور پوهنتون، ۲۰۰۲ع، پېښور.
۱۵ـ روهي، محمد صديق، ادبي څېړنې، دانش خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۲ل، پېښور.
۱۶ـ زيار، پوهاند مجاور احمد: پښتو بدلمېچ (پښتو شعر څنګه جوړېږي؟)، دويم چاپ، دانش خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۹ل، کابل.
۱۷ـ سارتر، ژان پل: ادبيات چيست؟، د ابوالحسن نجفی او مصطفی رحيمي ژباړه، کتاب زمان، لومړی چاپ (کال نامعلوم)، تهران.
۱۸ـ سالک، مصطفی: سندريزې چينې، ميوند کلتوري ټولنه، ۱۳۸۳ل، کندهار.
۱۹ـ سعيديان، عبدالحسين: دايرة المعارف ادبي، انتشارات علم و زنده ګي څلورم چاپ، (کال نامعلوم)، تهران.
۲۰ـ سيد حسيني، رضا: مکتبهای ادبي، دوهم ټوک، انتشارات نګاه، ۱۳۸۷ل، تهران.
۲۱ـ شاملو، احمد: کېل ګمېش، (فارسي ژباړه)، نشر چشمه، ۱۳۸۵ل، تهران.
۲۲ـ شينواری، امير حمزه، د غزل په اننګو کې، د زرين انځور په زيار، د قومونو او قبايلو دچارو وزارت، ۱۳۶۴ل، کابل.
۲۳ـ شيرازی، محمد حافظ: ديوان حافظ با معني کامل، انتشارات ګنجينه، ۱۳۸۲ل، تهران.
۲۴ـ غني خان: دغني کليات، د قومونو او قبايلو وزارت، ۱۳۶۴ل، کابل.
۲۵ـ فرويد، زيګموند: روانشناسي، د مهدي افشار فارسي ژباړه، موسسه مطبوعاتي کاويان، لومړی چاپ (کال نامعلوم)، تهران.

Downloaded from: Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۶. کالیداس : شاکونتالا ، د مونیروویلمیز له انګریزي ژباړې څخه د م. ع. صدقي دري ژباړه، بیهقي کتاب خپرولو موسسه، ۱۳۴۲ل، کابل.
۲۷. لاهو، نور محمد: بلال په وینو کې، خوشال فرهنګي ټولنه، ۱۳۷۸ پېښور.
۲۸. لایق، سلیمان: کېږدۍ، د افغانستان دعلومو اکاډمۍ( پښتو ټولنه)، ۱۳۶۰ل، کابل.
۲۹. مجروح، سید بهاالدین مجروح : ناآشنا سندرې، د حبیب الله رفیع په زیار، د کلید د کتاب خپرولو اداره، ۱۳۸۵ل، کابل.
۳۰. مومند، عبدالحمید: د عبدالحمید مومند کلیات، د محمد آصف صمیم په زیار، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۲ل، پېښور.
۳۱. ننګیال، اسحق: سیندونه هم مري، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۷۷ل، پېښور.
۳۲. هوتک، محمد : پټه خزانه، د پوهنې وزارت، ۱۳۳۹ل، کابل.
۳۳. هومر : ایلیاد ، د سعید نفیسي فارسي ژباړه، بنګاه ترجمه و نشر کتاب، ۱۳۵۹ل، تهران.
۳۴. هومر : اودیسه، د سعید نفیسي فارسي ژباړه، شرکت انتشارات علمي و فرهنګي، ۱۳۷۳ ، تهران.
۳۵. یونګ، کارل ګوستاو : انسان و سمبولهایش، د ابوطالب صارمي فارسي ژباړه، انتشارات امیر کبیر، ۱۳۵۲ل، تهران.

Downloaded from: Ketabton.com

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library